


# د ترکستان شپې




لیکوال:

دکتور نجیب "ګیلاني"

ژباړن:

محمد اسماعیل "عندلیب"


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله

# الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرکټرونه

خواجه نیاز حاجي

امیر

نجمة اللیل

مصطفی مراد حضرت (د تورسون په مستعار نوم)

منصور درغا

جین شورین (چینایي حاکم)

د قومول چینایي قوماندان

# اړخيز شخصيتونه

خاتون

سن لي

جنرال شریف خان

شین سي سای : چینایي پوځي قوماندان چا چې د چینایي حاکم جین شو رین پر ضد پاڅون وکړ.

سید حاجي: د مرکزي استخباراتو عمومي مدیر

باودین: یرغلګر چینایي ضابط چې د نجمة اللیل سره یې اړیکې پیدا کړې.

جنرال عثمان باتور: د ترکستان د جهاد په یو پړاو کې د پاڅون کوونکو قوماندان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو خبرې

ختیځ ترکستان د اسلامي جغرافیې هغه برخه ده چې د خپل تاریخ په اوږدو کې د کفري ځواکونو لخوا د ډول ډول کړاونو سره د مخ کېدو له کبله د اسلامي نړۍ له بدنه پرې شوی، او د دوهم "اندلس" په نوم یادیږي، ډېری مسلمانان نه دي خبر، چې دې سیمې ته هم اسلام په لومړۍ هجري پېړۍ کې رسیدلی، پر دې خاوره هم یو وخت اسلامي بیرغ رپېده، په دې ځمکه هم اسلامي دولتونه او حکومتونه رامنځته او د اسلامي نړۍ د ختیځ په پای کې دغه خاوره هم د مسلمانانو ملکیت دی.

او که یو د ځیرک لیکوال، مصنف او اسلامي دعوتګر په توګه نجیب کیلاني (د همدې کتاب لیکوال) له ترکستانه پوره معلومات نه لري، نو عادي مسلمان به څه ترې خبر شي!

ترکستان هغه خاوره ده چې البخاري، الترمذي، البیهقي، الفارابي، البیروني، الزمخشري، ابو منصور الماتردي، عبد الله بن مبارک، فضل بن عیاض، سفیان ثوري او ورته نورو علماوو پکې خاپوړې کړې دي.

د اوسني چین د سینګیانګ ایالت او د منځنۍ اسیا پنځه نور هیوادونه هر یو قزاقستان، ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان او قرغزستان هغه پراخه سیمه ده چې په ترکستان یادیږي، چې یاد پنځه مستقل هیوادونه یې لویدیځ ترکستان او د سینګیانګ ایالت یې ختیځ ترکستان بولي، چې د همدې کتاب (ترکستان شپې) کیسه په ختیځ ترکستان کې د مسلمانانو د جهاد، مقاومت، خپلواکۍ او الله په لار کې د مبارزې پر یوې دورې راڅرخي، او د ختیځ ترکستان د مسلمانانو د مجاهدې انځور پکې کښل شوی.

د اسلامي پوځ یو پیاوړي قوماندان قتیبه بن مسلم الباهلي په اسیا کې د اسلام پر خپرولو او فتوحاتو بوخت و، او ویې کولای شول له څلور نویم او شپږ نویم هجري کلونو تر منځ موده کې د اوسني ختیځ ترکستان د "کاشغر" ښار ته ورسیږي، او له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاره اسلامي مرکز جوړ کړي، چې په دې سره ترکستانی ملت هم د نورو هیوادونو په څېر د اسلامي امت یوه برخه وګرځېده.
دغه سیمه د پېړیو پېړیو لپاره د اسلامي دولت لخوا اداره کېده، چې د نهمې میلادي پېړۍ له نیمایي او د دیارلسمې میلادي پېړۍ تر پایه په دې سیمه کې مستقل اسلامي دولت هم واکمني کړې، دا (قراخانیانو) د دولت په نوم یادېږي.
ختیځ ترکستان د اسلام مرکز، د مسلمانانو د پرمختګ او تمدن یوه بېلګه وه، چې د حاکمانو د بې غورۍ له کبله د ګاونډیو دښمنانو "چین" او "روسیې" ناولو سترګو د نظره کړ، لومړی یې سره په دوه ځایه ووېشه او بیا یې یې اشغال کړ.
دښمن نه یوازې دا چې په خاوره او شتمنۍ کې یې تمه وه، بلکې هلته یې د اسلامي هویت، تمدن او تاریخ د محوه کولو لپاره کار وکړ، او حتی د مسلمانانو د بچیانو له زړونو یې د اسلام د نور د ایستلو هڅې پیل کړې، چې لا هم خپل ګنده پلانونه طرحه او عملي کوي.
خو د پاک رب رضا وه چې محمدي شریعت یې د دې سیمې د اوسیدونکو د زړونو تل ته ښکته کړی و، او کله چې هم کفري دښمن برید کړی، یوه ډله خلک پیدا شوي چې په مېړانه یې مقابله وکړي، د تېرې شلمې میلادي پېړۍ په څلورمه او پنځمه لسیزه کې هم کله چې له یوې خوا د چین او له بلې خوا د روسیې کفري حکومتونو د سپین زړو مسلمانانو خاورې ختیځ ترکستان ته خیرن لاسونه رااوږده کړل، نو د دې ملت له منځه د غرونو په څېر محکم خلک د جهاد اومبارزې میدان را ووتل، او تر هغه تم او په شا نه شول چې د دار پړي یې ښکل او په خندا د خپل اسلامي هویت او خپلواکۍ د ساتلو په لار کې قرباني شول.
اوس هم په ترکستان کې د خپلو اسلافو پر لار روانه یوه ډله شته چې د ختیځ او لودیځ ترکستان خاوره د مسلمانانو ملکیت بولي، نه د چین او روسیې.
دا ځای د ترکستان د تاریخ په اړه د لیکلو اجازه نه ورکوي، یوازې همدومره چې مصري لیکوال نجیب عبد اللطیف ابراهیم الکیلاني د حج په موسم کې په مکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکرمه کې د ختیځ ترکستان له یو اوسیدونکي سره مخ کیږي، او له خولې یې روایت کوي، چې د ۱۹۳۰م او ۱۹۵۱م میلادي کال تر منځ موده کې د ختیځ ترکستان مسلمان ملت له کومو کړاوونو تېر شوی دی، او په "لیالي ترکستان" یې نومولی.
د کتاب د ژباړې په اړه باید یادونه وکړم چې له دې وړاندې هم ژباړل شوی، خو ما د خپل شوق او لیوالتیا تر مخې بیا ترجمه کړ.

ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سر وینا

سپېڅلی ښار د بیت الله په حاجیانو ډک دی، د مکې د حرم څلورو خواوو ته د هر جنس او هر رنګ خورا زیات خلک راټول شوي، تور له افریقا، سپین له اروپا او امریکا، ژړ رنګونه هم شته چې د اسیا له وروستي سره راغلي، عرب او عجم ټول په یوه ډله کې را خوټکېدلي برېښي، په تکبیر او تهلیل ویلو سره ګډ روان دي، له بیت الله طوافونه کوي، د صفا او مروا تر منځ منډې وهي، په مقام ابراهیم کې لمونځ اداء کوي، د زمزم د اوبو د څو څاڅکو د څښلو لپاره یو له بل مخکې کېږي، دلته په دې سپېڅلي مرکز کې د هر لوري او هره ځایه راغلي خلک په ورورولۍ سره مخامخ کېږي، ژبې یې بېلې بېلې او رنګونه یې مختلف دي خو په الله، د هغه په رسول او د هغه په کتاب ایمان سره راغونډ کړي دي.

د ماسپښین تر لمانځه وروسته په مکه مکرمه کې د خپل هستونګنځي په لور روان شو، په کوڅو کې ارام ارام روان وم، په یو ځای کې تسبیح او د لمانځه واړه واړه جاینمازونه ، ښایسته خولۍ او د دعاګانو رسالې خرڅېږي، په یو واړه دوکان کې کېناستم، د هغه سوداګر مخ ته مې وکتل چې داسې برېښیده د عمر له اویایم کاله اوښتی، د نښو نښانو، مخ د رنګ او په خبرو کې د ځانګړي لکنت څخه یې برېښیده چې عرب نه و، ما په ګوتو کې څو ښایسته تسبیح نیولې دي:

ته د کوم هیواد یې؟

له غمه ډکې سترګې یې راواړولې، ویې ویل:

د الله له پراخه ښارونو څخه.

پوهیږم خو ستا کوم هیواد مطلب دی؟

د ترکستان یم.

له لږه شیبه فکر وروسته مې وویل:

ایا دا هاغه سیمې دي چې د ترکیې سره نښتي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسخره اميزه خندا يې د غم په سيوري ورپورته شوه او ويې ويل:
مسلمانان خپل هيوادونه نه پيژني! مسلک دی څه دی؟
ډاکټر او د مصر يم.
ايا ته د (الازهر الشريف) د ښار يې او ترکستان نه پيژنې؟ ښه ده، دې کې خو شک نه شته چې امام البخاري به پيژنې، فيلسوف رئيس ابن سينا، فارابي ، او ماهر عالم البيروني به هم پيژنې.
هو دوی پيژنم.
هغوی زما د ښار دي.
سړي، چې نوم يې مصطفی مراد حضرت و، ترکستان راوپېژانده، او ويې پوهولم چې ترکستان د شمال په وروستيو څنډو کې موقعيت لري، په ډاګه يې کړه چې ترکستان د استعمار له کبله په دوه برخو ختيځ او لويديځ ترکستان (شرقي ترکستان او غربي ترکستان) وېشل شوی، روسانو لويديځ ترکستان اشغال کړی او د شوروي اتحاد سره يې يو ځای کړی، ختيځ ترکستان لا له پخوا څخه د چينايانو تر اشغال لاندې دی، د خپل هيواد يوه برخه يې ګرځولې او (سينګيانګ) نوم يې پرې ايښې دی يعنی (نوی ځمکه)، کمونيزم په ختيځ او لويديځ ترکستان وزرې خپرې کړې او په دې توګه هغه اسلامي ښارونه او هيوادونه ضايع شوي چې د تاريخ، برم او تمدن له پلوه تر ټولو ستر وو، دا (ترکستان) دوهم اندلس دی، د مسلمانانو عيب دا دی چې د خپل تاريخ څخه بې خبره دي او د خپلو هيوادونو په اړه ډېر کم معلومات لري.
هغه دا خبرې په داسې حال کې کولې چې سپينه ږيره يې لړزيدله.
بيا يې ماته راپام کړ او ويې ويل:
چای څښې؟
چای به هم وڅښم خو زه قصه له سره غواړم.
د يو کم عمره هلک له لاسه يې د پيالو اخېستلو پر مهال، چې کيدای شي لمسی به يې و، وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



قصه یوه ستره غمیزه ده، حاجیان هر کال مکې ته راځي، د حج احکام پر ځای کوي او بیا په خپلو قدمونو بېرته هغه ځای ته ستنیږي چې ځینې راغلي دي، ایا حج په مسلمانانو د همدې لپاره فرض شوی چې راشي او بېرته ولاړ شي؟ زه خو داسې فکر نه کوم!

زما له خولې به د دې سپېڅلي ښار هر زیارت کوونکي ته څوک د هغه بدمرغه مسلمان ملت کیسه ورسوي چې په خورا سختۍ او بدسلوکۍ سره د لور او ځتک تر منځ غورځیدلی دی؟

سمه ده، کېدای شي مابښام سره وګورو، زه به تاته ځینې کتابونه راوړم او خپله اوږده قصه به درته وکړم.

که څه هم زه دلته یم؛ خو سترګې مې په شنه ځمکه او اسماني غر کې ښښتي، د (تیان شان) په غر کې، د پامیر په غرونو چې د پاکستان او ترکستان تر منځ غزیدلي، په هغه ښځو ښښتي چې څادرۍ یې له مخونو لیرې کړي، په هغه ځوړول شویو نشه یې ځوانانو چې د علم نویو روزنځایونو ته بوتلل کیږي څو الحاد زده کړي، درواغ او باطل وروځښل شي، تر دې چې خپل اسلام او تاریخ هیر کړي.

سترګې مې په منارو او ګومبدو ښښتي، په هغه ډلو ښښتي چې د سایبېریا په ځنګو کې په خاپوړو روان دي، عذاب، سپکاوی او ناترسه ښکنځلې یې لولپه کوي، زه د شرقي ترکستان یم ... او دا هم ستا لپاره له لمړي سره کیسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱)

مور اوس په نولس سوه او دیرشم میلادي کال کې یو، زه د (قومول) په ولایت کې ژوند کوم، چین دغه ولایت په همدې کال کې اشغال کړ، له اشغاله وروسته چینایي قوماندان په خپل امر د سیمې حاکم شو، هر څه د هغه په خوښه چلیږي، زړونه له غمه ډک او له غمجنو سترګو حسرتونه څڅیږي، د قومول بې چاره امیر په خپله ماڼۍ کې اوسیږي، تش د نامه واک ورپاتې دی، ما د سر په سترګو لیدل چې د چینایانو فوځونه د قومول ولایت ته رارروان وه.

د چین حکومت د هغوی سره د لوټ کړیو مالونو مرسته کوله څو ځمکې وپیري، کورونه اباد او سوداګریز ځایونه جوړ کړي، هغه مهال زما عمر شا او خوا پنځه ویشت کاله و، په مسجد کې مې قرآنکریم حفظ کړ، د خپلې ژبې او عربۍ لیکل او لوستل مې هم زده کړي و، او په چینایي ژبه هم پوهیدم، مور د چین سره په ګاونډ کې پراته یو.

همدا راز د منګولیا د خلکو په ژبه هم خبرې کولای شم چې زمور سره نژدې او اوسمهال د روسیې تر ولکې لاندې هیواد دی، جنګېز خان او اولادې یې همدلته ژوند کړی، دلته په هر فن او رنګ کې د اتلولیو ډېرې کیسې شته.

له ورځو یوه ورځ چینایي قوماندان داسې یو قانون اعلان کړ چې ښار یې له یوه سره تر بله ولړزولو.

دا منشور په دې ډول و: "هر چینایي چې له یو ترکستاني د هغه لور وغواړي نو باید په نکاح یې ورکړي ولو که عقیدې یې جلا جلا وي".

اشغال موقت وي، یوه نه یوه ورځ له منځه ځي، د دښمن سره جګړه هم برید او تیښته ده، خو دا چې دښمن د خلکو احساسات تر پښولاندې کړي، د هغوی د شریعت او دین سپکاوی وکړي نو د زغملو له توانه پورته کار دی.

چینایي قوماندان د قومول بې چاره امیر راوغوښت اوروته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اميره! ما خپله ستا سره د خپلوۍ نيت کړی.
د امير د مخ رنګ بدل شو، ګوتې يې ولړزيدې او په کمزوري اواز يې وويل :
قوماندان صاحب! ته خو پوهېږې چې دا کار ناشونی دی.
قوماندان د ملنډو په توګه خندا وکړه :
اميره! زه نا شونی نه پيژنم.
دا د الله امر دی .
الله د زړونو په چارو کې ځای نه لري، زه پرې مېين شوې يم.
فاتحين د فتحه شويو ښارونو د خلکو د عقيدې د احترام سره ياديږي.
دا هر څه خرافات او اوهام دي، زه پرې باور نه لرم.
دا د مرګ څخه هم بده ده قوماندان صاحب.
د قوماندان د مخ رنګ تور شو او چيغه يې کړه :
دا کار تر اميرنې پورې اړه لري، ورشه او خبره يې کړه، ته د پرېکړې لپاره يوازې څو ساعته وخت لرې.
ترکستاني امير ووت، هېڅ نه پوهېده چې څه پېښيږي، دا يو داسې شرم او سپکاوی دی چې ترې پورته بل سپکاوی نه شته، مانۍ ورته کرکجنه، بده، زړه تنګوونکې او دردوونکی ښکاره شوه، د خپلې ميرمنې او اولادونو سره به څه ډول مخ کيږي، د ژوند هېڅ ارزښت پاتې نه شو، ايا بايد غرونو ته وتښتي او د وښو په خوراک ژوند پيل کړي، د وحشي ځناورو سره ځان بلد کړي څو غميزې او ناخوالې په سترګو ونه ګوري؟؟
دا عاجز او مظلوم څومره بدمرغه دی!! او دغه کار خو بيا هغه مهال تر ټولو زيات د بدمرغۍ وړ وي، چې د بې حده شان، واک او نفوذ څښتن واکمن ته ورپيښ شي.
امير خپلې مانۍ ته ننوت، لرغونې تورې پکې ځوړندې وې، اوږده اوږده ټوپکونه په ديوالونو داسې راځړول شوي لکه د بوی ناکو پسونو جسدونه، او د ښکونو تاريخ يې د هغو کلکو تړل شويو پاڼو په غيږو کې ويده دی چې ګرد پټې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرمنې یې ورو وپوښتل:
څه درشوي ؟
هغه په اوښکو لمدې سترګې ورواړولې او ویې ویل:
زه د الله د امر انتظار کوم.
هغه پوهه نه شوه ، بیا یې ویل:
ایا داسې څه شته چې غمجن کړی یې؟ زه په دې چینایانو کې خېر نه وینم، دوی رحم نه پیژني.
رېښتیا دي وویل، قوماندان غواړي زما د لور سره واده وکړي.
بیا یې د لیوني په څېر چیغې کړې:
راشه لورکۍ، ای زما بچۍ...
په بڼو راڅڅېدلې اوښکه یې پاکه کړه:
زما ګرانې امیرې، هغه احمق خرس غواړي ستا سره واده وکړي، دا ناشونې ده، ایا ته موافقه کوې؟
ورې امیرې په داسې حال کې چې سترګې یې چورلیدې په خورا اضطراب او حیرانتیا سره وویل:
د دې څه معنی ده پلاره؟
ترکستاني امیر وخندل، په داسې حال کې چې مخ یې د زړه د درد په څیر سور راخوټکیدلی و وویل :
اوس داسې ډېر څه شته چې هېڅ معنی نه لري، په خپله د ژوند هېڅ معنی نه شته.
خو زه یې غواړمه پلاره!
هغه تا غواړي.
لعنت دی وي په هغه.
لعنت د تل لپاره د ماتې خوړلي په برخه وي.
په کوم شریعت او دین کې دا شته چې یوه پېغله دې له خپلې ارادې پرته واده وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لورې ! د غالب او مغلوب تر منځ اړيکې اصولو او ازادۍ ارادې ته نه ګوري.
بيا حيران او پريشان امير شا او خوا وکتل، داسې يې احساس کړه چې ستونې يې خفه او سا يې بنديږي، نژدې ده چې د هغه روح وباسي، ورسره نژدې يې په يو ټوکر په خورا عصباني انداز کی ځان مشغول کړی و، او بيا يې وپوښتل:
موافقه کوې؟
مرګ منم خو دا نه !
ولې؟
د الله امر د چينايانو له امره پورته دی.
هغه ودرېد، وړه اميره يې په غېږ کې ټينګه کړه، ښايسته سترګو يې د قاتلې حيرانتيا ځرګندونه کوله، د ګل په څېر ښايسته مخ يې په رعب سره خبرې کولې او بيا يې په چغو چغو ژړا پيل کړه :
هېڅ تصور نه شم کولای پلاره، هېڅ تصور نه شم کولای چې بوه پېغله دې داسې بوتلل شي، د غرغرې ميدان ته تګ تر دې ډېر اسانه دی.
امير د لور اوښکې وچې کړې، د هغې په نرمو طلايي وېښتو يې لاس راکش کړ بيا يې په مينه د هغې ګلابي اننګي مسح کړل، ودريد او ځمکه يې په لغته ووهله په داسې حال کې چې ويل يې :
هېڅکله نه شي کيدای.
مېرمنې يې په لړزېدلي غږ وويل :
بايد په دې اړه په حکمت سره فکر وکړو.
زه پوهېږم چې هغه به هېڅکله هم ماتې ونه منې او خامخا به سخت ګامونه پورته کوي، ته چينايي قوماندانان ښه پيژنې! اخر هغه څه چې کوي به يې څه دي ؟ زما ژوند ؟
مېرمنې يې په غم او خفګان سره سر وښورولو، ګوندې د امير د خبرو سره موافقه وه.
ترکستاني امير غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی مراد حضرت!
امر کوئ صیب
بې له دې چې د هغه مخ ته سترګې پورته کړم ورننوتلم.
مصطفی! پاڼې، رنګ او قلم راوړه.
امیر کېناست چینایي قوماندان ته یې وړوکی لیک ولیکه چې داسې په کې راغلي و:
بریالی قوماندانه! دغه کار زما د تصرف له دایرې وتی ځکه چې زموږ دین له دې منعه کړې، او له بله پلوه زما لور هم د واده په اړه فکر نه کوي؛ نو له همدې امله ته ما وینې چې باید عقیدوي او انساني پولو ته غاړه کېږدم.
لرغونی چین نه قبلوي چې د خپلو ګاونډیو له دودونو بې پروایي وکړي، یا د هغوی له عقایدو انکار وکړي او یا یې پر احساساتو ملنډې ووهي، دغه قضیه داسې هم نه ده چې د چین او یا د چین د بریالي لښکر د عظمت او لویې پورې اړه لري بلکه یو وروستی او فرعي کار دی، چې چین او یا لښکر ته یې زیان نه رسوي، دا ځکه چې هغوی ته ښارونو غاړه ایښې او همدا چین د دې ښارونو د مادي او سیاسي سرنوشت څښتن شوی.
په دې کې مې هم ریښتونې وګڼه چې دا ډول کار به ډېرې بدې پایلې ولري، د دواړو ملتونو تر منځ تاریخي اړیکو ته به زیان ورسوي، چې هغه چینایان او ترکستانیان دي، که چېرې موږ د دې نوي قانون په اغېزو کې، کوم چې مسلمانانې ترکستانۍ میرمنې د چینایانو سره په واده مجبوروي، ژور فکر وکړو، نو ډېر خطرناک به یې ومومو.
له دې خبرو مې مطلب ګواښ نه، بلکه د ملګرو مصلحت دی، نېکمرغي او په هېواد کې د امن استقرار مې موخه ده، زه تا ته په هر ستر او سپېڅلي قسم درکوم چې په دې کار کې یو ځل بیا فکر وکړه، کیدای شي چې ټولې خواوې یې درته روښانه شي.
د ټول درناوي او احترام سره.
د قومول امیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه خبر په ښارکې لکه د ځنګل د اور په څېر خپور شو، د امير د ماڼۍ له لوړو دیوالونو واوښت، ښځو يې په اړه په خپلو کورونو کې خبرې پيل کړې، سړي يې ډېر په غصه او قهر کړل.

ريښتيا هم د يوې مودې لپاره د زمکې پر اشغال انتظار اسانه دی څو د خلاصې فرصت برابر شي خو د خلکو په خصوصياتو کې دا ډول مداخله، د هغوی په شرف او عقيدو لوبې کول بېله خبره ده، چې د ځانه سره ډول ډول سخت خطرونه لري.

کله چې چينايي قوماندان د ترکستاني امير هغه ليک ولوست چې ما وروړی و، په لاس کې يې تاو کړ، وېې غورځولو او لاړې يې پرې تو کړې، بيا يې ماته وويل :

امير ته دې وواېه: هغه داسې چټيات وايي لکه يوه ماشومه چې يې وايي، دا د چين د ستر پلار (سن يان سن) قوانين دی، په ځمکه کې هېڅ يو قوت هم نه شي کولای چې د هغه قوانين له منځه يوسي.

امير په همدې شپه زندان ته يوړل شو، په همدې شپه ټول ښار په امير داسې وژړل لکه پرون يې چې د جګړې په شهيدانو ژړلي و، په همدې شپه خلکو درک کړه چې دغه برېد په خپلو اړخونو کې د ځمکې پر سر د جګړې څخه پرته نور ګواښونه هم لري، دا شپه خوب ونه شول کولای چې د قومول د خلکو په سترګو برلاسی شي، او تر ټولو ډېر بد خو خندوونکی ازميښت دا و چې هرې پيغلې کوښښ کاوه ځان ته يو مسلمان نارينه پيدا او واده ورسره وکړي، وړاندې تر دې چې کوم چينايي جنګيالي او يا کوم چينايي مهاجر ته بوتلل شي.

زما هم يوه خندوونکې قصه ده، ما له يو کال راهيسې د يوې پيغلې سره مينه کوله چا چې په ماڼۍ کې يې کار کاوه، هغې له ما ځان ساتلو او زما سره يې واده ته غاړه نه کېښودله، زما په نسبت يې د يو لوړ رتبه سړي سره د نکاح تمه درلوده، زه يوازې په قصر کې ساتونکی يم او ماڼۍ ته د قوم مشران او ملکان راننوځي.

خو کله چې امير زندان ته يوړل شو، همدا پيغله ماته په منډه راغله په داسې حال کې چې په مخ يې اوښکې بهيدلې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی! دا دی زه ستا په وړاندې یم.

زه د بدمرغه امیر په برخه لیک غمژن وم، له دنیا او ما فیها مې ځان ګوښه ګڼلو.

د هغې پر مخ مې په زوره چیغې کړې.

زما نه لیرې شه، نجمة اللیل!

کېدای شي چې ما تاته بد رسولي وي خو زه ستا سره مینه کوم.

د بندي امیر شکل زما په ذهن خپور و، ډېره سخته ده چې یو څوک عزتمند او مشران په ځنځیرونو تړل شوي روان تصور کړي، داسې وړل کیږي لکه مریان، ای الله! دا داسې یو منظر دی چې په ټول ژوند کې نه هېرېږي، خو بیا هم امیر د چینایي ساتونکو په منځ کې په لوړه غړې روان و، سر یې په بشپړه کبریاء سره وړلو، په چوپتیا کې یې انقلاب و، په تسلیمۍ کې یې طوفان او په لالهانده کتلو کې یې خونړۍ ویروونکې چیغه پرته وه.

زما پخوانۍ مینې وویل:

مصطفی حضرته! ولې څواب نه وایې؟ څه ته انتظار باسې؟ که چیرې یو چینایي راغلو او زه یې له ځانه سره کړم نو کېدای شي ته به بیا د ژوند تر وروستۍ ورځې پښېمانه یې.

داسې لکه چې د خپل ټپي غرور بدل اخلم ورته مې وویل:

زه بیړنۍ واده نه کوم.

ای بیړا! دې سره خو ستا هیلې پوره کیږي، زما لپاره نجات دی، او زموږ د ابرو او دین ساتنه هم ده.

ورومې کتل، ومې لیدل چې په سترګو کې یې اوښکې راښکاره شوي، ورته مې وویل:

مه ژاړه، زه داسې شوی یم چې د خلکو مخونو ته له کتلو کرکه کوم، په هر ځای کې اوښکې دي، دا داسې ژوند دې چې څوک یې توان نه لري، ښه خبره شه زه تر هغه وخته واده نه کوم چې امیر د زندانه نه وي راوتلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانژدې شوه او پټ يې راته وويل:
ای لېونيه، د امير زمانه پای ته ورسيده، خپل برخه ليک د نړيدونکې نړۍ او تلونکي برم پورې مه تړه.
د مټ نه مې ونيوله، په زوره مې ټيله کړه او ورته مې وويل :
ای نجمه! دا خيانت دی.
ته تيروتې يې مصطفی! زه د امير او کورنۍ سره يې د خپلې ساه په اندازه مينه کوم؛ خو دا معنی نه لري چې تر هغه وخته انتظار وکړې چې فرصت له لاسه ووځي، دا خپله امير هم نه خوښوي.
بې له دې چې کومه پريکړه وکړم يوازې مې پريښوده، د غم فضا د امير په ماڼۍ خيمه وهلې وه، مېرمنه يې د ليونۍ په څير د پراخې ماڼۍ په څنډو کې بې مقصده تله او راتله، نه يې څه خوړل او نه څه څښل، غم لړلي اولادونه، لورګانې او خپلوان يې ځای په ځای ناست وو؛ خو وړه اميره لور يې د ماڼۍ په تالار کې، چې په قيمتي قالينو فرش و، ودريده او ويې ويل :
دا به څنګه وي که دې سړي سره واده وکړم او ويې وژنم ؟
د هغې خبرې ته هيڅ التفات ونه کړ، خو هغې د دې اړه فکر پيل کړ، د همدې پلان په اړه له ځان سره ګونيده او فکر يې کاوه ، تر دې چې مور يې په اوږه وټپوله، مور يې يوه عاقله او پوهه ښځه وه، لور ته يې وويل:
دا کار تر هغې ډېر ستر دی چې ته يې په هکله فکر کوی.
په دوهمه ورځ د قومول کوڅې په داسې غم ډکې وې چې بدنونه يې لړزول، د وېرې او ستر والي له کبله يې د سر ويښتان سپينېدل ، داسې حال و چې پوليسو پيغلې راکش کولې څو د فوځيانو او چينايي مهاجرينو سره يې واده کولو ته اړباسي، او د سرغړوونکو ترکستاني پلرونو بدنونه د دورو په وارونو سره وريتيدل، د سپکاوي سره مل د ټوپکونو په کونداغونو او لغتو وهل کيدل، د ښار لرغونې او ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانۍ کورنۍ د ښار څخه بهرتښتېدلې، کله چې شپه شي کوم غر ته پناه یوسي او یا پراخو بیدیاګانو ته مخه کړي.

ورځې شپې په غم او اندېښنه کې تېرېدلې، زموږ په ښار کې یو پېژندل شوی سړی و چې خواجه نیاز حاجي ورته ویل کېدل، هغه یو مفکر، دیني او په هیواد مین سړی و، په زړورتیا مشهور و، او ښه ازمایل شوی و، د قومول حیران خلک به هغه ته ورتلل او له هغه به یې د حالاتو په اړه پوښتنې کولې، خواجه نیاز به ویل:

تاسې د سوبې او برې لارې چارې او اسباب پېژنئ چې صبر، ثبات، مقاومت او تر مرګه جهاد دی، د محمد صلي الله علیه وسلم د کلمو او خبرو څخه وروسته څه نوي نه شته، وګورئ! وسپنه یوازې وسپنه پرې کوي، ټول هغه څه چې زه پرې پوهیږم دا دی چې له شرف او عزت پرته قومونه مړه دي، ولو که خوراک ځښاک کوي او سا اخلي، یوازې د دښمن کړنې مه غندئ بلکې په خپلې بې پروایۍ هم وژاړئ او خپله تسلیمي هم وغندئ، ایا په دې هر څه پوهیږئ؟

خو د بغاوت څپه اوږدیږي او پراخیږي، د مرستې غوښتونکو اوازونه اوچتیږي، متروکې پورته کیږي او ښکته کیږي او لغړ بدنونه پرې کوي، ښځې یرغلګر لښکر ته ببول کیږي، سړي د بې ارزښتۍ خجالت او سپکاوي احساس کوي، لښکریان په زوره زوره خنداګانې کوي، له مستۍ خینجتې وهي او د ښځو بدنونه په خوند او خوښۍ سره احساسوي ، لکه د خرڅ لپاره د وړاندې شوي څاروي لټون کوي، قومول لکه د دیګ بخار په خیر خوټکیږي، او د خپلې کینې د ایستلو لپاره هېڅ لاره نه مومي، امیر یې په زندان کې د یوازېتوب او عذاب څخه ځوریږي او زه کمزوری سړی (مصطفی مراد حضرت) څه کولای شم چې ویې کړم؟ ماته زموږ د ښار زړور مشر خواجه نیاز حاجي وویل :

ای مصطفی!امیر ته دې زندان ته ورشه او ورته ووایه:

باید له زندانه د وتلو لار پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲)

د زمکې پر سر د حق په اړه هېڅ دوه تنه اختلاف نه لري خو په نفسي غوښتونو کې د خلکو د ډوبېدو له کبله د حق څخه باطل او د باطل څخه حق جوړوي.
سره له دې چې زه د ماښې د ساتونکو له جملې يو ساتونکی يم خو بيا هم د نرمو احساساتو څښتن يم، ډېره کمه بدي مې هم بدن له غصې ډکوي او سپکاوی مې د غچ طوفان ته تېل وهي، تر دې چې هغه خادمې هم زما سره مينه پيل کړه، تر پرونه يې پر ما ملنډې وهلې او ما ورسره د زړه له تله مينه کوله، نن را ولاړو شويو حالاتو اړ کړه چې خپله رايه بدله کړي؛ خو ايا هغه څه چې د هغې رايې ته يې بدلون ورکړ د هغې احساسات يې هم بدل کړي، که نه؟
په دې کې مې ريښتينی وګڼه چې هېڅ نه پوهيدم، نړۍ هيجان اميزه او ځپانده وه، خو اوس په قومول کې هېڅ هم په خپل حال نه و پاتې، چينايان زموږ د لوښو سره واده کول خپل ثابت حق ګڼي، د هغوی دليل ساده او اسانه دی او هغه دا چې ټول خلک سره ورونه دي، هغوی ګټونکي دي، او دې کار ته هم د يو رحمت او کرم په سترګه ګوري، چې زموږ مېرمنې د قانون په سيوري کې تر لاسه کړي، نه دا چې د بنديانو او غنيمتونو په توګه يې واخلي، خو دا کار زموږ (ترکستانيان) له نظره يو ستر ظلم دی، هر کله چې چينايانو د الله په حکم پريکړې نه کولې له جګړې پرته بله لار نه وه، مطلب دا له دې پرته چې مرګ ته رهي شو بله لار نه شته.
جګړه زموږ په ماتې پای ته ورسېده، سره له دې چې چينايي قوماندان زموږ له اميره خورا کلکه محاصره چاپېره کړې وه بيا به يې هم د هغه ځينيو سړيو ته اجازه ورکوله چې ورسره وګوري کېدای شي، فرصت تر لاسه کړي، هغه قانع او خپله لور (اميره) قوماندان ته واده کړي، امير په زندان کې اعتکاف و، لمونځونه او فکرونه يې کول، د زمانې د بدلون له کبله دردېده، د ماښې څخه زندان ته ورسېد، له آمر څخه مامور شو، او اوامر له چا اخلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له داسې يو سړي چې کافر دی، په الله او د هغه په رسول ايمان نه لري او د ماتې خوړلو بادشاهانو د غمونو پوښتنه خو له ما وکړه، هغوی ډېر کم ژاړي، خپل دردونه په زړونو کې بند ساتي، همدغه دردونه د اور د بې رحمه طوفان په څېر پاريږي او غړمبيږي.

په داسې حال کې چې ټول اندامونه مې لړزيدل، د حيرانۍ په عالم کې د هغه خواته ورغلم.

مصطفی حضرته! څه له راغلی يې؟

مور له تا پرته هيڅ هم نه يو.

تاسې نارينه يئ، او دا د الله حکمت دی.

او نارينه تا غواړي صاحبه!

څنګه؟

ماته يې په حيرانتيا او تعجب وکتل ، ما ځواب ورکړ:

دا خبره راته خواجه نياز حاجي کړې.

څه يې ويل؟

امير بايد مور ته راووځي.

امير وخندل، اوږده امسا يې راکش کړه، افق ته يې د ټپي باز په سترګو وکتل، په داسې حال کې چې غوسې يې په ګريوانه منګولې خښې کړې وې، وويل:

زما سره د زندان کيلي ګانې نه شته!

باداره ! زندان دېوالونه لري.

امير يو ځل بيا په خورا عصبيت سره وخندل:

او زه به يې په يوازې ځان څنګه نړوم؟

خواجه نياز تاته دا پيغام را استولی، که چېرې د زندان هغه کلي ګانې نه لرې چې زندان پرې خلاص کړې، او نه هغه متې لرې چې زندان پرې ونړوې، نو ستا سره هغه عقل شته چې کولای شي تا په خپلو وزرونو سپور بهر راوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر لږه شیبه غلې شو، بیا یې ماته وکتل او ویې ویل:
سمه ده، اوس ورځه او خواجه نیاز ته ووایه چې امیر سبا راځي.
زما امیر هېڅکله درواغ نه و ویلي، او په خپله خبره کې ریښتینی و، زما سره یې هېڅکله دهوکه نه ده کړې، ځکه مې بهر منډې کړې او د هغه پیغام مې خواجه نیاز ته ورساوه، خواجه نیاز له ښاره بهر د خلکو سره کېناستو، هلته یې خبرې کولې، لمونځونه یې کول، څه به یې لوستل او د هغوی تر غوږونو به یې تازه خبرونه رسول، خو د خواجه نیاز په مخ اضطراب څرګند شو، سترګې یې په تشویشي ډول وځرخیدې، لاسونه یې اسمان ته پورته کړه او په څه ویلو یې پیل وکړ:
ستا ښښنه غواړو الله! ستا مرسته غواړو.
بیرته راوګرځېد او خلکو ته یې د خپل ژوند د تجربو خبرې پیل کړې، هغه به موږ ته ویل ناشونې ده چې خطرناکې پېښې په وېشلو او ټوټه ټوټه کولو حل شي، دا ډول پیښې منځنی حل هم نه لري، بریالی هېڅکله هم مات شوي ته اصیل څیز نه ورکوي، بلکه ټوټې ټوټې شیان او ځځلې ورکوي، او زموږ بې وزله ملت، د ترکستان ملت محاصره دی، موږ په زهرو لړلو نیزو، توپونو او اور مات کړو، د دې هر څه لمسون له خورا لیرې ځایه کېږي، زه په نړۍ کې د صلیبیت داعیان پیژنم، دوی زموږ د کمزورۍ او سپکاوي فرصت غنیمت ګڼي او زموږ په شا او خوا راټولېږي. ملي او سیمه ایزې نعرې پورته کوي، دوی هر هغه څه غواړي چې موږ مسلمانان نښت شو، ایا تاسې په دې پوهیږئ؟
له همدې کبله دوی خپل فوځ او پولیس د دې لپاره بې واده ساتي چې زموږ پېغلې د دوی سره واده ته اړ کړي، که داسې نه وای نو د دوی سره د ښځو ستونځه نه شته، بلکه دوی د اصولو او ارزښتونو د منځه وړل غواړي، او دا یوازیني هغه څه دي چې د کلونو کلونو راهیسې یې زموږ خپلواکي او ازادي ساتلې ده.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندي امیر پوهېده چې پایله یې مرګ دی، موږ د مرګ کلمه څومره په اسانۍ سره وایو، یا یې په پاڼو لیکو بې له دې چې زموږ په زړونو د مرګ د ویرې ویجاړوونکي غبرګونونه اغېز وکړي، زموږ امیر د مرګ په درشل ولاړ و، دا کوم اسانه کار نه دی، کله چې سړی مري نو تر شا نیمګړي ښایسته خوبونه پرېږدي، د مینې د هغه مست او ژوندي پسرلي سره خدای پاماني کوي چې لا مړاوی شوی نه وي، کله چې انسان مري د خپل کوچني مستي کوونکي اولاد په سترګو کې ګوري او د هغه په وړو وړو سترګو کې خوږې شعري قصېدې لولي، هغه سړیو او مېرمنو ته ګوري چې ده ورسره مینه کړې او بیا دا تصور کوي چې یوې داسې لرې تیاره کندې ته به ورځي چې نه په کې حس شته او نه څه خبرې.
هلته به د اوږدې مودې لپاره پاتې کېږي، کیدای شي چې زرګونه کلونه وي، په قبر کې به بې سیکه او ناتوانه پروت وي، نړۍ لړزوونکې پیښې به د هغه سره نژدې لمبې وهي؛ خو هغه به په هېڅ کې هم ګډون نه شي کولای، کوچنیان به خاندي، خوښۍ به مسکۍ وي، ځمکه به زرغونه وي، باغچې به پاڼې نیسي او باغیان به کورونه پلټي، چټیات به وایي، شکونې به کوي، مسلمانانې به په ودونو مجبوروي، او هغه! هغه امیر به د خاورو لاندې ناتوانه پروت وي لکه د لرګي د یوې بد بویه ټوټې په څیر، ایا مرګ ویروونکی نه دی؟؟
د قومول بندي امیر چینایي قوماندان ته یو بیړني لیک واستاوه، او د هغه څه له کبله یې ښېنه وغوښته چې ځینې صادر شوي، هغه سره یې ژمنه وکړه چې موضوع په اړه به له سره په داسې ډول فکر وکړي چې ګټه هم ولري او دوی وهم ژغورل شي، د قوماندان څخه یې د لیدنې غوښتنه هم وکړه.
چینایي قوماندان په خندان شو او لږه شېبه یې سترګې پټې کړې، د ښکلې امیرې او د واده د یوې سترې شپې په اړه یې فکر کاوه، د هغه خوند فکر یووړ چې تر لاسه به یې کړي، هغه مهال قوماندان ته په زړه کې داسې ورتیره شوه چې هر څه یې په واک کې دي، امکان نه لري چې څوک ترې بغاوت وکړي، دا هغه خیالونه دي چې ځواکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوبمن ته همیشه ورغورځېږي، ولو که د څو شېبو لپاره وي، دا مهال نو بیا ټول بشریت ته د شفقت او خواخوږۍ په سترګه ګوري، د یو ستر قادر او کبرجن د خواخوږۍ په سترګه، چینایي قوماندان امر وکړ:

امیر راولئ! چې وګورو څه غواړي.

ای بې چاره امیره! راځه، مه خفه کیږه، په لاسو کې پراته زنځیرونه او مخکې وروسته د سپین سترګو بې ادبه چینایانو هغه ډلې درته زیان نه رسوي، چې په خپلو ماڼیو د کبر او غرور له کبله خپلې زیړې پوزې پورته پورته وړي.

درځه د قومول امیره! سترګې پټې کړه، څو د سپکاوي او تکبر ننبې ونه ګورې، په پوره احتیاط روان اوسه، غوږونه دې د پوچو خبرو په وړاندې کاڼه کړه او سترګې دې د هغه نظرونو څخه پټې کړه، چې ستا د غم له کبله په کې خوند ښکاري او په پوره حماقت سره درګوري.

سبا مو په خبر قوماندانه!

ښه راغلاست امیره!

امیر ځوړند سر کېناست، ټول غلي ناست وو، تر دې چې قوماندان خپلو ډېرو کسانو ته د وتلو امر وکړ، کله چې خونه خالي شوه ترکستاني امیر چینایي قوماندان ته ورنژدې شو او غلي یې ورته وویل:

دا ډول کارونه په تشدد او سختۍ نه حل کیږي.

چینایي قوماندان وویل:

تاته مې وخت درکړ خو له دې وروسته ما بله لار نه درلوده او تا په خپله ستا د لور سره زما واده رد کړ.

ګرانه قوماندانه! کولای شو چې دغه کار په نرمۍ او اسانۍ سره حل کړو.

په څه ډول؟

زما سره یو نظر دی.

څه نظر؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر قوماندان ته خپل نظر ور اندې کړ، او هغه دا چې قوماندان به امیر خوشې کوي، څو وکولای شي د شرعي علماو سره غونډه وکړي او په دې اړه ورسره بحث وکړي، شونې ده چې له هغوی څخه داسې دیني فتوی تر لاسه کړي، چې دا ډول واده مباح بولي، د همدې فتوی لپاره د پخوانیو کتابونو د خیټو څخه دلایل راوباسي، کله چې د علماو په لاسلیکونو مهر شوې دا ډول فتوی په تر لاسه کولو بریالی شي؛ نو ستونزه حل ده، خاموشي خپره شوه او ټول په خوشحالۍ او نیکمرغۍ کې ډوب شول.
چینایي قوماندان په خندان شو، په بریتونو یې لوبې پیل کړې او د ځان سره وګونېده:
فکر کوم موږ وخت تر بله سره نژدې کېږو، او زموږ تر منځ فاصله کمېږي، که رېښتیا وو ایم، زه کولای شم تا د خپل امارت په چوکۍ پاتې کړم، مشرتابه زما خبره اوري.
قوماندان داسې په زوره زوره خنداګانې پیل کړې، چې امیر یې وویرولو، امیر چینایي قوماندان ته وویل:
بې شکه چې ته نېکمرغه او خوښ یې قوماندانه.
امیره! ټوله نیکمرغي او خوښي خو هغه مهال ده، چې زه تصور کوم امیرنه زما په غېږ کې ده، او له هغې مې خورا ښکلي او ښایسته اولادونه شوي، نژدې وي چې له خوښۍ لیونی شم، ژر ده چې موږ به یوه نیکمرغه کورنۍ شو، بیا به کوم غالب او مغلوب نه وي.
د انسانیت او ورورولۍ تر پردو لاندې پټه دغه احمقانه فلسفه زما لپاره تر ټولو زیاته مبغوضه او د کرکې وړ ده، زما لور او د هغه په غېږ کې! څومره سپکوونکې ده!! دا زه له همدې کبله کرکه او زړه بداوی احساسوم او هغه مسکینه! د هغې مسکینې په څه حال وي کله چې د دې حیوان په پنجو کې پریوځي، د هغې په نرمو غوږونو کې خپلې شډلې غزلې ور وځخوي، زما لور به د دې وحشي سره ناسته ولاړه کوي؟؟؟ څه ډول؟؟ پوهېږم چې انسان یوازې غوښه، وینه او رنګ نه دی، انسان فکر او عقیده هم لري، هغه ستر شیان چې انسان پرې ایمان لري، دا ټول هغه څه دي چې زه ورته ګورم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت پرې لګوم او بیا یې په اساس مینه او یا کرکه کوم، فکر دی چې د غوښې او هډوکو ډېرې ته معنی، مقبولیت او روڼتیا ورکوي، فکر په تنه راخپریږي، کالي ور اغوندي، داسې یې جوړوي چې په زړه پورې خندا وکړي، د مینه ناک په څیر خبرې وکړې او انسان ورڅخه جوړ کړي.
قوماندان وبوښید:
امیره! ایا باور لرې چې د چینایي او ترکستاني تر منځ توپیر شته؟؟
هو! په ټوله معنی.
قوماندان امیر ته په حیرانتیا وکتل او ورته یې وویل:
دا څه وایې؟
چینایي ګټلې ده .
قوماندان په خندا شو او بیا یې وویل:
دا خو څرګنده خبره ده، موږ همېشه بریمن یو، دا کار زموږ تر لرغوني تاریخ پورې غزېدلی دی.
امیر ځواب ورکړ:
د افیونو تر جګړې[۱] او له هغې هم وړاندې.
د قوماندان د مخ رنګ بدل شو، د امیر په اشاره پوه شو او زیاته یې کړه:
استعماري لوړوالی زموږ د شخصیت په پناه کولو نه دی توانیدلی.
تر لږه شیبه چوپتیا وروسته چینایي قوماندان وویل:
عالمان وایي چې موږ د لوړو صفتونو درلودونکی ملت یو.
څه ډول؟

---

[۱]-د افیونو جګړې د نولسمې میلادي پیړۍ په منځنیو لسیزو کې شوي چې یو لورې یې چین او بل لورې یې انګلستان، فرانسه، امریکا او روسیه وه، په دې جګړو کې لسګونه زره چینایان مړه او ټپیان شوي او جګړه د چین په ماتې پای ته رسیدلی. پښتو ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان د امیر په لور راتاو شو او بیا یې په بشپړې پاملرنې سره تشریح پیل کړه چې د وراثت علماو ثابته کړې، د بیلګې په توګه که یو چینایي اروپایۍ میرمنه په نکاح کړي نو زامن یې چینایي صفات خپلوي، او دا له دې کبله چې د چینایانو د بدن په حجرو کې د نسب موروثي صفات قوي او ځواکمن دي.

امیر په حیرانتیا سره ځواب ورکړ.

د نسب موروثي صفات څه دي؟

نه پوهیږم امیره! خو هغوی همداسې وایي.

ای الله ! بیا نو ولی تاسې خپلې لوڼې او کوچنیان پلورل.

دا د بدمرغۍ او بې وزلۍ ورځې وې، ماته دا غمجنې ورځې مه را یادوه.

د چینایي قوماندان د مخ رنګ یوناڅاپي تور شو، په زیړ مخ یې د کرکې او بدلون نښانې راڅرګندې شوې، پاڅید او په وړه خونه کې یې قدم وهل پیل کړل، د شرابو یو جام یې راپورته کړ، هیجاني غړپونه یې ورڅخه پیل کړل، په خپل ځان دروند شو، په داسې حال کې چې د خبرو او لهجې سره یې غوسه ګډه وه وویل :

هغه مې څو کاله ولټوله، خور مې.

په جګړه کې ورکه شوې وه؟

یو چا د افیونو په جنګ کې تښتولې وه، د ځینې احمقانو ګمانونه د منلو وړ نه دي، دوی وایي هغه مې مور له دې امله پلورلې وه، چې مورږ ماړه کړي، دا دروغ دي، دروغ دي، دروغ دي.

امیر هم پاڅېد او ویې ویل :

مه خفه کیږه قوماندانه! زه چې کله د شریعت د علماو سره وګورم، تاته به داسې خبرونه راوړم چې خوشحاله دې کړي، اوس ماته د تګ اجازه کوې؟

د چینایي قوماندان مخ بېرته وځلېد ، جام یې یو خوا ته وغورځولو ، او ویې ویل:

د قومول امیره! کولای شی چې خپلواک ولاړ شی، د واده په شپه به بیا ډېر شراب وڅښو ، بیا نڅا کوو ، سندرې به وایو او د ښځو سره به اړخونه لګوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبه ګورو چې جنسيتونه لوړ صفات لري، ما په ختيځ او لويديځ کې جګړې کړي او زه د تل لپاره غالب شوی يم، مرګ يو اسانه کار دی، چې ما يې په اړه کله هم فکر نه دی کړی، ځکه ترې وېرېږم نه، د مرګ سره له زر کرتو زيات مخ شوی يم، خو دا دی اوس هم جنګېږم، بري وړم، او په قومول حکومت کوم، زما ټوله نېکمرغي په دې کې ده چې بريالی اوسم، له دې پرته بل هېڅ ته نه ګورم، خو تاسې په جنت او اور کې ډېر زيات فکر کوئ.

ځکه چې جنت او اور حقيقت دی قوماندانه!

څه ډول؟

تا دا اوس په لاس کې ډک جام نيولی.

هو

ښه نو هغه خوشحالي چرته ده چې دغه جام يې پنځوي؟

خوشحالي؟

هو، خوشحالي چرته ده قوماندانه؟

خوشحالي خو څه ماده نه ده، ما په دې اړه په خپلو غوره کتابونو کې هېڅ نه دي لوستي، هغوی د خوند او خوشحالۍ په اړه هېڅ نه دي ويلي، ځکه چې دا ماده نه ده.

ته خو يې بيا هم احساسوې!

هو! او که چرته داسې نه وای نو ما به شراب نه وو څښلي.

نو معنی دا ده چې خوشحالي شته؟

بالکل اميره .

ښه نو زه غواړم چې لاس پرې ولګوم.

نه ته، او نه زه کولای شو په هغې لاس ولګوو.

امير وګونېده.

او ستر خوند او خوشحالي دالله په جنت کې ده قوماندانه! چې زه يې بې له جامه څخه احساسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳)

امیر په هغه ډول راستون نه شو، په کوم ډول چې تللی و، ما د هغه په مخ کې د یو بادشاه سترګې نه لېدلې، هغه اوس تر ټولو ښه کالي اغوندي، ساتونکي او سرتېري ورڅخه چاپېر دي، د ماڼۍ دروازې پرانیستې پرتې دي، د ساتونکو او خادمانو زرین لباس په عقل منګولې لګوي، خو زما د بادار زړه مات دی...... ای خدایه!

زما خواته رانژدې شو او غلي یې وویل:

ای مصطفی! دا څه معنا لري چې یو سړی دې امیر وي؟

زه یې د پوښتنې په مطلب پوه نه شوم، دوه زړی شوم، ژبې مې نه شول کولای وښوځیږي، په تشویش ناک غږ د مار په څېر وشنهید:

وایه کنه احمقه!

په بنده بنده ژبه مې په ګونېدلي اواز وویل:

دا چې اطاعت دې کېږي، شا او خوا دی دا ټول برم او عظمت وي.

ترخه خندا یې وکړه او ویې ویل:

امیر هغه خپلواک انسان دی، چې له ځانه راضي وي.

هغه چې زما ځواب وانه ورېد، په تاسف سره یې وویل:

ښه نو ازادي چرته ده؟ او بیا به زه له خپل ځانه څنګه راضي شم چې وینم دښمن په ځمکه کې په فساد لګیا دی، او کوښښ کوي چې زموږ عزت په خاورو کې ولړي؟ ای مصطفی! زموږ دین زموږ عزت او شرف دی.

بیا یې هغه لرې غونډیو ته په لاس اشاره وکړه چې د ډېر لرې والې له کبله ما نه شول کولای سمې یې ووینم، او ویې ویل:

هلته په غونډیو کې د اتلانو شپنو یوه ډله اوسیږي، دښمن ونه شول کولای چې په هغوی غالب شي، د هغوی ښځې یې په زور په نکاح نه شوې کړای، هغوی د بزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپېدې څښي، وږې اوبي، يوائې د يو الله عبادت کوي، له الله پرته له بل هېچا وېره نه لري، ايا پوهېږې؟ دوی سره له دې چې تاجونه يې په سر نه شته بيا هم بادشاهان دي، د هغوی ځومره ارمان جن يم مصطفی!

ما په بشپړ باور وويل:

صيب! هغه خلک چې ته يې په اړه غږېږې ستا رعيت دی.

غلامان رعيت نه لري مصطفی! غلامان غېر له سپکاوي او ځنځيرونو بل څه نه پېژني.

امير مانۍ ته غمجن او خواشينی ننوت، د کورنۍ غړي يې په شا او خوا راټول شول، له هغې وروسته ورته له هر لورې د علماو او د قوم د متنفذينو راتګ پيل شو، د شپې هغه تاريخي ناسته او غونډه تر سره شوه چې هېڅکله به هېره نه شي، د هغوی سره خواجه نياز حاجي هم و، غټ غټ سرې ټيټ سرونه ناست وه، په هغوی پيکه والی او غم خپور و، امير وويل :

ای خلکو! بايد هغه ځای ته وروګرځو له کومه چې راغلي يو.

خواجه نياز وپوښتل:

څه ډول؟

امير ځواب ورکړ:

دا چې د اميرانو او مشرانو ځادرونه لرې کړو، او بېرته د اوښانو او ګډو شپانه شو، بيا له سره جګړه پيل کړو، که مړه شو، نو دا به د شرف وروستی حد وي، که بريالي او ژوندي پاتې شو، په داسې حال کې چې ريښتيني اميران به يو، کولای شو خلکو ته ووايو ماتې خوړلی امير نه وي، هغه بايد حکومت ونه کړي، د ماتې خوړلو واکمني زما په وړاندې په خپل ځان د ملنډو وهلو په څېر ده، زه امير يم خو په ما باندې چينايي قوماندان امر کوي، ايا همدا په خپله ماتې، ناکامي او بې وسي نه ده؟

نياز حاجي کوښښ وکړ د مانۍ پر افق د غم خپرې وريځې خورې کړي، په لوړ اواز يې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیره! مشرانو! موږ باید د چینایي قوماندان سره د هغه په فکر کې موافقه وکړو.
ټول را وپارېدل او وغړمبېدل، په هغوی کې مخالفت، کرکه او سخته ګډوډي پیل شوه، خو امیر مسک شو او په ارامۍ سره یې وویل:
زه د خواجه نیاز سره موافق یم، واده به زما په ماڼۍ کې وي، چینایي قوماندان به زما د ګرانې لور سره واده کوي، په همدې سره به د قومول د ملت فدیه ورکوو، او له یو داسې قتل عامه به یې ساتو چې هر څه له منځه وړي.
یو عالم چیغې کړې:
الله ...
امیر ځواب ورکړ:
الله زموږ سره دی، او موږ به نه سپکوي.
عالم بیا وویل:
څنګه به زموږ سره وي، چې موږ د هغه شریعت تر پښو لاندې کوو؟
ګونېدا او پسپسکې پیل شوی، ناستو خلکو په ټیټو غږونو بحث شروع کړ، هر یو امیر ته غوسه و، بیا به خواجه نیاز ته ورتلل، له شونډو پرته چې خوځېدې، لاسونو چې اشارې یې کولې او سترګو چې په حیرانۍ او احتیاط سره اوړېدې را اوړېدې نور هېڅ نه لیدل کېدل.
سبا چینایي قوماندان ته یو لیک واستول شو، چې په کې لیکل شوي و: امیر د قوماندان سره د خپلې لور په واده رضا شو، واده به د قومول په هغه مشهوره ماڼۍ کې وي، چې د قومول امیر په کې اوسېږي، ټولو چینایي مشرانو، ظابطانو او لویانو ته بلنه ده.
نژدې وه چې چینایي قوماندان له خوشحالۍ لیونی شي، دیني نېوکه له نظره وغورځول شوه، او دا ځل د امیر او مسلمانو علماو پر ضد په قومول کې د غوسې او قهر څپه راپورته شوه، د پارېدلو خلکو وړې وړې ډلې په خوځښت راغلې، چې د علماو د فتوی او امیر د تسلیمۍ مخالفت یې څرګندولو، ځینو کوښښ وکړ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر مانۍ په ډېرو وولي، اشغالګر لښکر د بغاوت د پراخېدو او انقلاب د پېیل له وېرې نیت وکړ چې د دې پاځون د منځه وړلو لپاره له سختۍ او تشدده کار واخلي، مګر زموږ د امیر شرطونو پر چینایي قوماندان ټینګار کولو، چې هېڅ یو باغي ته به ضرر نه رسوي، څو ټول کارونه په امنیت کې پای ته ورسیږي او خلک واقعیت ته غاړه کېږدي.

خلک د وعدې سره سم په مانۍ کې راټول شول، او قومول یوې تورې درندې شپې په خپله غېږه کې راونغښت، د سړیو او عزتمندو په زړونو خورا سخته وه او نژدې وه چې په دې شپه په مانۍ کې هېښوونکې پېښه رامنځ ته شي، دا مهال امیره خپل پلار ته راغله او ورته یې وویل:

پلاره! هېڅکله به ورسره واده ونه کړم، څنګه ستا اطاعت وکړم، او د الله نافرماني وکړم؟ الله ستا او له ما زیات عزتمند دی.

الله همدا غواړي لورې.

الله له خبر پرته بل هېڅ نه غواړي .

شاید په هغه څه کې چې موږ وړاندې کړي خبر وي.

لور یې په ژړا ژړا کې وویل:

اوس زه له تا بې زاره یم، له بادشاهۍ بې زاره یم، ما پرېږده چې ځم.

هغه یې په زرینو وینښتو لاس ورتېر کړ، ویې نازوله او ویې ویل:

د لیوانو په منځ کې به څه ډول سفر وکړې؟

دننه یې منډه کړه، او د ژړا اواز یې د زړونو رګونه غوڅول، ځان یې په یوه وړه خونه کې بند کړ، د مور په بیا بیا ټینګار یې هم دروازه نه پرانیستله، مور یې د دروازې له یو سوري وروکتل، د لور په لاس کې یې خنجر دی، مخ یې اسمان ته نیولې لکه لمونځ چې کوي، او له الله د بښنې دعا غواړي، مور یې وخت ضایع نه کړ، امیر ته یې ورمنډه کړه او له هر څه یې خبر کړ، هغه په چالاکۍ سره د کوټې دروازه خلاصه کړه او وړاندې تر دې چې خنجر په خپله سینه کې ننباسي امیره یې ونیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

د چینایي قوماندان کاروان راورسید، فوځي ساز او سرود، په اور مستي کوونکي، او ځینې سیمه ایزې چینایي نڅاګرې هم ورسره ملګرې وې، د قومول بې وزله اوسیدونکي د ښار له زړه شیبه په شیبه لرې کېدل، د ونو لاندې یې په پټه الله ته سجدې لګولې، او یا یې د ویالو په غاړو دعاوې لوستلې، ځینو صوفیانو په پخوانیو مزارونو، او زړو مسجدونو کې، چې لا یې شمعې او څراغونه مړه وه، خپلې ږیرې په اوښکو لمدولې، زه د امیر د ماڼۍ ځلا او چمتوالي ته حیران وم، امیر د غرونو د سړیو یوه ځانګړې ډله لري، چې په مهمو مناسباتو کې یې رابلي، څو شاهي کاروان پوره کړي، او لکه چې ښکاري ښایست او ښکلا یې نوره هم زیاته کړي، امیر وېره درلوده چې کوم څوک څه غلطي او داسې حماقت ونه کړي چې خوشحالي په یو ثابت ناورین بدله کړي، له همدې کبله یې د ماڼۍ په داخل او بهر هر ځای کې د غرونو سړي وېشلي او ګمارلي وو، هغوی ته یې کلک اوامر ورکړي وو، چې هېڅ‌چا ته هم د ننوتلو یا وتلو اجازه ورنه کړي، هر خوځښت او نظم په سختۍ سره مراعات کړي.

چینایي قوماندان د چینایي او ترکستاني قوم د پخوانۍ ملګرتیا په سلامتیا جام پورته کړ، څښل یې او څښل یې .....تردې چې نژدې وه د نشې له کبله راپرېوځي، په وینا یې پیل وکړ:

کله چې د پخوانیو تقالیدو او د هغې له نفوذه خلاص شو، داسې احساس کوو، چې موږ د نوې زمانې سړي شوو، عصري سړی د خپل ځان خدای دی، اسمان پرې واکمني نه کوي، او نه یې ناڅرګند قوت وېرولای شي، زما مور به ماته ویل:

دا کار مه کوه! دا رب خفه کوي.

خو ما به د هغې په مخ ورچېغې کړې:

دا رب چېری دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې بې چارګۍ به اوښکې تویولې، او په خپل لاس به یې اسمان ، یا یو لوري او یا یو مسخه شوي بوت ته اشاره کوله. ما به خندل او هغه څه به مې کول چې زړه مې راته ویل ، هغې ماته په حیرانتیا سره کتل ، لکه چې ما کوم غټ جرم کړی وي ....ها ....ها .....ها....ها ...................

چې خور مې وتښتول شوه مور مې هم په داسې حال کې مړه شوه، چې خپلې سینې پورې یې یو وړوکی بوت نیولی و، او کله مې چې مور مړه شوه د کور ټول بوتان مې د ډېرو لږو ووړو په بدل کې وپلورل .....ها.....ها... ای ترکستاني دوستانو، راځئ چې د ټولو پخوانیو بد بویه اصولو د منځه وړلو په نوم یې وځښو، برم زموږ لپاره دی، د انسان لپاره.

خواجه نیاز نا کراره شو، د یو عالم مخ هم تک سور شو، یو سړی میرګیو ونیو هغه مو بهر وویست، د ماښې په ځنډو کې مو اوازونه واورېدل چې دا ډول ځوږ یې کولو، الله اکبر ..الله اکبر...دا یې څلور ځل وویل، په لنډ وخت کې توري وبرېښېدې، او زاړه توپکونه وچلیدل، هغه جګړه ونښتله، چې له هرې خوا ، له پاس کورونو، د ځمکې له منځه، د ماښې د دېوالونو له پاسه، د غرونو سړیو پیل کړې وه، په لږ وخت کې د چینایي قوماندان، غټو ضابطانو او غټو سړیو جسدونه د ماښې په دهلېزونو کې خپاره پراته وو، ټول چینایان ووژل شول، د قومول په لارو کوڅو کې وېره خپره شوه، ټول خلک له ځبرمې راووتل او چینایان یې وژل، خپلې بدمرغه لورګانې یې راوستلې، په زندانونو او د پولیسو په مرکزونو کې بندیان یې ازادول، ځنې ژوندي پاتې چینیایان وتښتېدل، ځینو زارۍ کولې، یا یې په ځمکه سجدې کولې، ښښه یې غوښته، په داسې حال کې چې په الله به یې خپل اسلام او ایمان اعلانولو.

امیر د دې منظر په منځ کې د خپلې لور خوا ته ودرېد، خونړي منظر ته یې کتل، په داسې حال کې چې هغه یې په مینه ځان ته رانژدې کوله وویل :

اوس کولای شم ووایم د قومول امیر یم.

امیرې په تریخ انداز کې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هغوی به مو پرېنږدي ..

امیر وخندل:

زه به د ټول ژوند لپاره امیر یم، مطلب دا چې زه به خپله وسله ونه غورځوم، او یو ځل بیا به ماتې ونه منم، که چېرې ناکام شوو، نو د جهاد په لار کې به تر مرګه پورې ځو، همدا یوائنۍ لاره ده چې کولای شم د امیر په څېر ژوند وکړم، په همدې لار کې امیر مړ شم او د الله تعالی سره مسلمان مخ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴)

رڼا ټولو خواوو ته وغزېده ، دقومول په څنډو کې د بريالیتوب بیرغونه ورپیدل ، ګاونډیو ولسوالیو ته د «روا غچ» خبرونه ورسېدل، هغه چې بیرغ یې زموږ امیر او نوي قوماندان خواجه نیاز حاجي پورته کړی و ، سره له دې چې ما شخصا د خپل دین او هیواد د غچ په څپه کې په سختۍ سره ګډون کړی و ، خو ما داسې احساس کاوه چې ګرمه جګړه لا تر اوسه نه ده پیل شوې، ځکه چینایان به دا کار بې له دې چې زموږ شنه ځمکه په وینو رنګ نه کړي په همدې حال پرېږدي، ما ځان په داسې حال کې وموند چې د مرګ اوژوند په اړه مې فکر کولو ، کله چې د هر شي لپاره پای وي نو بیا ولې د الله سره له ملاقاته وېرېږو ؟ چې د شهیدانو برخلیک جنت دی؛ نو بیا ولې د مرګ په کرونده کې په شجاعت سره له ګډېدو سست شو؟، زموږ عالمانو په مسجدونو کې موږ ته ویل موږ غوره امت یو ، چې د خلکو له منځه را ایستل شوي یو ، او ما به زموږ په منځ کې د چینایانو واکمنۍ ته کتل، داسې احساس به مې کاوه چې موږ سپک امت ګرځېدلي یو ، یوازې سپکاوی راسره مناسب دی، قدمونه یې کرکجن بند سست کړي دي، کرامت او انسانیت یې یو داسې قوم له منځه وړي چې په الله ایمان نه لري.

دا دې زه تاته راغلې یم.

نجمة اللیل! ته دلته د څه لپاره راغلې؟

ته زما روح او ژوند یې ، ما ولیدې چې چپ او ښي لور ته دې تورې وهلې، او د اتلانو په څیر دې جګړه کوله ، نو ستا مینې ویلې ویلې کړم.

د ځان لپاره بل سړی وګوره، ای نجمة اللیل!

ته هغه څوک یې چې زه یې لټوم مصطفی!

بیا مې تورې شپې او هغه رازونو او یادونو ته وکتل چې په دې شپه کې پټ دي، له ځان سره وګونېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه ډېر ډاروونکي رازونه له ځانه سره لري ای نجمة!
نن د دوه مېينو ښايسته شپه ده.
ما ته رانژدې شوه، زما يخ لاس يې ونيو او ويې ويل:
زموږ شاته د مانۍ باغ دی، ښايسته خوشبويي ترې راځي.
ما وويل: ما تر پرونه د واده په اړه فکر کاوه؛ ځکه چې کوم ارزښتناک کار مې نه موند چې ويې کړم.
او نن، ای مصطفی حضرته؟
نن د زړه خوښۍ په اسمان کې زړوندې دي، د يو ستر جهاد پورې نښتې دي.
جهاد تا د دې نه نه منع کوي چې ما ځان ته نژدې کړې، موږ کولای شو چې جګړه وکړو او هم اولادونه وزيږوو.
ای نجمة الليل! شپه زموږ لپاره چمتو نه ده .
ښه نو بيا کله؟؟
يوازې الله پوهيږي.
ماته يې په دردناک نظر وکتل او په غوسه يې وويل:
تاسې څوک يئ؟ ايا تاسې باور لرئ چې کولای شئ ميليونونه چينايانو ته ماتې ورکړئ؟ پريږده چې واده وکړو او له دې ښاره ولاړ شو.
ما يوه ترخه خندا وکړه، او په داسې حال کې چې د هغې کوچنی ورغوی مې په زوره زور کولو په غوسه مې وويل:
هغه کوم ښار دی چې موږ ته به په کې ژوند خوږ شي؟ وباء د ختيځ له لورې راتلونکې ده، مرګ د لويديځ له لورې را روان دی او موږ حيران يو، زموږ لپاره مرګ او ژوند بل په هيڅ ځای نه شته مګر په همدې ځای کې.
مخکې تر دې چې مرګ نژدې شي، ته د يو مړ زړه سره ژوند کوې.
زه د جګړې لپاره په وزګار ځان ژوند کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی! جګړه د کوم کار مخه نه نیسي، وګوره! ګلان غټېږي او نمو کوي او حاملې خپل اولاد زېږوي، شپانه د غرونو په لمنو کې سندرې وايي، خلک کري او ريبي، او ته د يو جره راهب په څېر غوارې چې د جګړې او د جګړې په اړه له فکره داسې يوه صومعه جوړه کړې چې ته پکې يوازې وې؟

د هغې خبرې زوروري او اغیزمنې وې، د ريښتيا په ښايست سمبالې وې، له الفاظو يې د تود او پاروونکي ژوند خوشبويي راتله، پام مې شو چې له تندي مې خولې بهيږي ، او داسې احساس مې وکړ چې متشدد اعصاب مې په ورو ورو ر سستيږي، سترګو مې د غرونو شنو لمنو ته کتل چې طلايي سپوږمۍ ښايسته کړي وه، د يخې او خوږې هوا ژور تنفس مې و اخيست، او بيا مې وويل:

زه ستا سره مينه کوم نجمة الليل.

دا به کله وي؟

له هغه وخته نژدې چې ته يې تصور کوې.

ما يو ډول خوځښت او د اسونو اواز واورید چې منډې وهي، بګۍ کرپارې کوي، ګڼ وډ اوازونه راځي، سيوري او جسمونه مې وليدل چې دلته او هلته خوځيږي، زه پوهېدم چې د وروستيو غټو پيښو د بحث لپاره به يوه ستره غونډه جوړيږي، او هغه څه چې د دې کار د غبرګون په توګه به راڅرګنديږي دومره ستر او ويروونکي وي چې هېڅ اندازه نه لري.

نجمة الليل اوس څه.

هغه د شپې په تياره کې لاړه، د يو نرم خيال په شان روانه وه، او داسې برېښېده چې د ملايکو د وزرونو په څېر خپخپارې لري، شنې سترګې يې د ملغلرو په څېر ځلېدې، د ژوند ښايست او سيک شيندونکی سپين مخ يې د يوې سپيځلې مسکا په رڼا کې برېښنا کوله، سره له دې چې هغه د ماڼۍ له يوې جانبي دروازې ولاړه بيا يې هم انځور زما په زړه او روح پورې ځوړند پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قومول د امیر په مانۍ کې یوه ستره غونډه جوړه شوه، د قوم مشران، عالمان، مفکرین او نظامي قوماندانان ورته راغلي وو، همدا راز د ختیځ ترکستان تابع د نورو ولسوالیو ډېرو خلکو هم په کې ګډون کړی و، د قومول امیر په خبرو پیل وکړ او روښانه یې کړه له هغې جګړې چې تیره ورځ ونښته هېڅ خلاصې نه و، یوازې قومول نه، بلکې د ټول ترکستان ملت په دې نه دی راضي چې اسلامي تعالیم یې تر پښو لاندې شي، چینایي قوماندان له خپلو ټاکلو قوانینو په شا کیدل نه منل، غیر له هغه ټکره چې رامنځته شو بلې بله لاره نه وه، یو شمیر خلک زموږ اقدام ته د حماقت په سترګه ګوري، ځکه چې موږ یې د خطرناکو پایلو په اړه فکر نه دی کړی؛ خو ایا له دې پرته له تسلیمۍ سوا بل بدیل و؟

پخوانۍ تسلیمۍ موږ ته ډېرې بدمرغۍ راوړې دي، د ماتې خوړلي د تنازلاتو هېڅ حدودنه وي، له همدې کبله د یو قوي ګذار اړتیا وه، غیر له دې چې په پایلو کې یې فکر وشي.

یو تن د هغه په خبرو د نیوکې په توګه داسې خبرې وکړې چې ورځخه څرګندیده څه چې پیښ شول یوه ستره تېروتنه وه، ځکه چې د ترکستان سره دومره ځواک نه شته چې د چین له ځواک سره سم وي، اته میلیونه ترکستاني ځوانان نه شي کولای د چین د هغه ملت په وړاندې ودریږي چې شمیر یې له څلور سوه میلیونو څخه اوړي، له همدې امله ممکنه وه چې یو وفد مو لوړ پوړي چینایي حاکم ته استولی وای، او د هغه سره مو د روغې جوړې مذاکرات کړي وو، نو کېدای شول چې هغوی په دې سختۍ کې اساني راوستی وای، او هغه ظالمانه قوانین یې لغوه کړي وای چې زموږ د دین او برم سره په ټکر کې دي، هغه څه مو چې په جګړه نه شول تر لاسه کوای روا وه چې په سیاست مو تر لاسه کړي وای، یعنی په خبرو او مذاکراتو.

ځینو پخوانیو سیاسیونو چې غونډې ته حاضر شوي وو د دې خبرو پلوي وکړه او داسې وړاندیز یې وکړ چې د ختیځ ترکستان لپاره ټاکل شوي عام چینایي حاکم ته دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه جرګه او هیئت واستول شي خو خواجه نیاز حاجي په لاس اشاره وکړه او په قهر یې وویل:

ای خلکو! که کوم پلاوی مو واستاوه نو تاسې ته به یوازې د هغوی د ذبحې خبر راورسیږي، لکه ګډ چې حلالیږي ، چینایان به موږ ته هغه څه ونه ښيي چې په قومول کې یې عسکرو ته ورپیښ شول، زما نظر دا دی چې له جګړې پرته بله هېڅ لاره نه شته، که چېرې همداسې پاتې شو، او د بحران لپاره سوله ایز حل لټوو، موږ په دې ډول خپل وخت ضایع کوو، خو چینایان به هېڅکله هم خپلې وینې هېرې نه کړي، دوی بې له کوم سببه سختي کوي، وژنې کوي او غچ اخلي، نو په دې کې مو څه فکر دی چې دلته یې موږ یو قوماندان وواژه، په عسکرو او افسرانو مو ورته خاورې واړولې.

خواجه نیاز حاجي یوناڅاپي پاڅېد او په لوړ اواز یې غږ کړ:

ما واوریدل چې تاسې د څلور سوه میلیونه چینیانو خبرې کولې، لکه چې تاسې دې غونډې ته د چین د یو هیئت په توګه راغلي یاست نه د سرښیندونکو مسلمانانو د یوې ډلې په توګه، که چېرې تاسې لښکرې د هغوی په شمیر قیاس کوئ نو په خدای قسم، که چېرې لمړنیو مسلمانانو هم ستاسې په څېر فکر کړی وای، نو اسلام به بیا نه و خپور شوی، او نه به په ځمکه کې د الله بیرغ پورته شوی وای، داسې فکر کوم چې تاسې د الله تعالی دا قول نه دې لوستې چې فرمایي: ﴿كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ (البقرة:۲۴۹)، دا چې موږ د خپل دین په نه احترام خپل مخالف بد ګڼو، نو ای د مسلمانانو ټولګیه! باید قرانکریم خپل امام وګرځوو، همدا د دنیا او اخرت د خیر ضمانت کوي.

په خدای قسم چې دښمنانو پر مونږ حکومت نه دی کړی، او نه زموږ ورمیږونه په لاس کې ورغلي دي، خو یوازې او یوازې له دې کبله چې موږ د خپل دین سره نا اشنا یو، او خپل قرآن مو شاته غورځولی دی، زه د الله سره ژمنه کوم خپله وسله به تر هغې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړدم، چې د هغه الله سره مخ شم، او یا د خپل دین او هیواد غچ واخلم، نو د هغه چاچې مور او پلار مسلمانان وي زما پسې دې راځي.
خواجه نیاز حاجي د امیر له مانۍ ووت، د هغه زړمو په لور ولاړ چرته چې د وژل شویو چینایانو وسلې ایښودل شوی وی، ټول د هغه پسې روان شول.
زه هم د پاریدلې ډلې سره روان وم، خپل روح راته نوې زیږیدلی ښکاریده چې د مایوسئ په تورو تیارو کې راپورته شوی دی، هیڅا هم د چینایانو په لویو فوځونو کې فکر نه کاوه، هر سړی له بله د دې لپاره مخکې کېده چې وسله تر لاسه او ځه ذخیره ومومي، د شمېر زیاتوالی او د چینایانو سره د تجربې د فوقیت په ګډون ټول اعتبارات د جنګیالیو د پښو لاندې وغورځیدل، عاقلانو دا یو ډول لیونتوب ګڼلو، لیوالو او شوقمنو داسې تصور کاوه په ځمکه هېڅ داسې قوت نه شته چې د پاڅونوالو پرمختګ ودروي، او په الله ژورو ایمان درلودونکو داسې انګیرله چې جګړه په هغوی باندې فرض شوی ده، او جګړه باید دوام ومومي، عبرت په وړاندې تګ او د باغیانو او کافرانو سره په مقابله کې دی، بری او ماتې د الله په لاس کې دي او د مرګ څخه داسې یو شی جوړ شو چې هیڅا ورته پاملرنه نه کوله.
شپانه د خپلو کلیوالو سندرو سره له غرونو راکوز شول، بزګران د خپلو شړلو جامو سره په داسې حال کې راغلل چې په لاسونو کې یې زنګ وهلې تورې وې، کلمې یې ویلې او تکبیرونه یې ویل، د مانۍ له لوړ برجه مې وکتل چې ټولې لارې په خلکو ډکې دي، سترګې مې په هغه همیشنیو منارو او ګمبزو ولګیدې چې زموږ سترو نیکونو جوړې کړي دي، او په دې توګه زموږ ګران هیواد یو زرین سبا پیل کړ، شنه باغونه او ثابتې ودانۍ یې د همیشه والي او قوت داسې یو انځور و چې الله تعالی یې ساتنه کوله، ژر ژر راښکته شوم، د زینې په اخر کې مې هغه بیا ولیده:
څه غواړې نجمة اللیل؟
په داسې حال کې چې ښایسته اننګي یې په اوښکو لامده شوي وو ویې ویل:
ایا ته هم ځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لهجې يې درانده غمونه ورکول.

ايا ته فکر کوې چې مصطفی به اسونو ته د خوراک ورکولو او ګډو د څرولو لپاره پاتې شي؟

ايا ټول ځئ.

هو، د سپکاوي په سيوري کې ژوند هېڅ معنی نه لري.

ماته يې په يو اوږد نظر وکتل او ويې ويل:

زړه مې وايې چې ته به بيرته رانه شې.

که ته په رښتيا ما سره مينه کوې نو زړه به دې په دې کار الوتی و.

د ډېرې زياتې مينې سره وېره هم ملګرې وي.

سر مې وخوځولو او ورته مې وويل:

ويره؟

هو، تاته دروا غ نه وايم:

ای زما ګرانې حقيقي مينه نه مړه کيږي، او نه ورته ويره رسيږي، که مينه شريفه وي، نو پاتې به شي، برابره ده که موږ مرګ په خپله غيږ کې واخستو او که زموږ لپاره ژوند ليکل شوی و.

لاس يې اوچت کړ او په مينه يې زما په مټ راکش کړ:

ما تر اوسه د نورو ميرمنو په څير د مينې خوند نه دی څکلی.

هغې زما سترګې ډېرې لرې وشړلې، ما له ځانه سره ويل (هغه شپې چې ما په کې ستا په اړه فکر کاوه ډېرې ښايسته شپې وې، محرومتيا او ځان ساتنې صوفيانه معنا درلوده چې زما زړه به ورته نځيده، آه که ته خبره شې، زړه مې همدا اوس هم په خوشحالۍ ټوپونه وهي، زه پوهيږم چې له مينې ډک يو لوی زړه لرم، او ستا خيال به د جګړې په تکه توره تياره کې هم ځليږي، زه به ستا او له خپل برمه دفاع کوم، برم او عزت د هغې عقيدې يوه برخه ده چې الله يې پر موږ نعمت کړی، کله چې موږ راستانه شو واده به وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای نجمة اللیل! خپلې امیرې ته ولاړه شه ، هغه اوس یوازې ده، سړي ووتل، سړي په دې ستړه او نه هیرېدونکې ښایسته ورځ کې ووتل نو لازمه ده چې تاسې یې په اړه سندرې ووایئ، د اصولو جګړه ده نجمة اللیل! سړي جوړوي همدوی به ریښتیني او حقیقي سړي ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۵)

هغې زارئ کولې چې د ځان سره يې بوځي، اوښکې يې تويولې چې اجازه ورکړي د سړيو سره د مرګ، سختۍ او اور په لور ولاړه شي خو د قومول امير خپلې لور ته وويل:

ای زما کوچنۍ اميرې! ته پوهېږې چې سړي د دښمن سره د مخامخ کيدلو توان لري او مرګ خوښوي، نو خپلې ميرمنې په خيمو کې پرېږدي.

سړي له هر لوري راغلل، په هره خوا ولاړل، يرغلګرو د دې سترلښکر په منځ کې خپله لاره ورکه کړه، هغه لښکر چې ختيځ ترکستان يې له يو سره تر بله ټول نيولی و، لښکر سره جلا جلا شو چې دلته او هلته يې امان غوښتلو، روسانو دغه پيښې له نژدې څارلې، د روسانو مشر خپلو پلويانو ته امر وکړ چې د ختيځ ترکستان انقلابيانو ته د مرستې لاس ور اوږد کړي، يو پلاوی يې خواجه نياز ته واستاوه او هغه ته يې د جنګي مرستې وړانديز وکړ، نياز د خپلو ملګرو سره په دې اړه خبرې او خبرې پيل کړې، په پای کې نياز خپلو جنګي قوماندانانو ته وويل:

زه پوهيږم چې روسيه څه غواړي ؟ زموږ لپاره خپلواکي نه غواړي، له پخوا په دې لټه کې دي چې زموږ په هيواد کې خپلې پښې ټينګې کړي، او دا کار زموږ د شتمنيو د تر لاسه کولو په طمه کې کوي.

يو تن وويل:

ولې موږ د روسانو سره ايتلاف نه کوم چې چين له منځه يوسو؟

که موږ په خپله د خپلې ځمکې د ازادولو توان نه لرو نو بيا د خپلوواکۍ مستحق نه يو.

دښمن مو سخت زړی او جګړه مار دی، نو که موږ خپله د شيطان سره ايتلاف وکړو، نوهم به د ظلم مخه نيول شوې وي، او هم به مو څوک ملامتولای نه شي.

نياز وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لې انتظار وکړه ملګريه! روسيه يو بل دښمن دی، هغه په داسې وخت کې د مرستې په اړه فکر وکړ، چې ويې ليدل موږ په خپله بريالي کيږو، اوس نو هغه په ارزانه او نژدې لارو خپله موخه تر لاسه کوي، ای خلکو! کفر يو ملت دی، تر ټولو ستر ايتلاف هغه دی چې زموږ ملت د ختيځ څخه تر لويديځ او شمال څخه تر جنوب پورې په کې راټول شي، دا ايتلاف به يوازې او يوازې د الله تر سيوري لاندې وي ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ﴾ (الممتحنة: ١) د الله کلام دا ډول وينا کړې ده.

د روسي هيئت سره په وروستۍ ناسته کې نياز وويل:

زموږ په اړه ستاسې له نيک نيته مننه کوو، خو موږ به د دښمن سره يوازې جګړه کوو.

د پلاوي مشر وويل:

تاسې به تر اوږدې مودې ټينګ نه شئ، زموږ سره باوري معلومات دي چې د لويديځ په وروستۍ څنډه کې د چينايانو په پلازمينه کې ستر فوځونه په خوځښت راغلي څو ستاسې انقلاب له منځه يوسي.

نياز په غوڅه توګه وويل:

موږ ستاسې ملګرتيا ته ښه راغلاست وايو، خو ستاسې د مشروطې مرستې څخه معذرت غواړو، زموږ خلکو پريکړه کړې چې ستاسې لښکر، تجربه کارانو او تجارانو ته به زموږ په هيواد کې د دېره کېدو اجازه نه ورکول کيږي، اوس ته پوهيږې چې دا کار زما په لاس کې نه دی، دا يو راپاريدلی ملت دی چې خپله نقشه په خپله جوړوي.

انقلاب په خپله لار روان و، د نياز خلک په هر ځای کې خپاره شول، د مستبدو سرېو د ګوزارونو لاندې د چينايانو کلاوې راونړيدې، په ختيځ ترکستان د چين واکمني سسته شوه، او چين په وژونکي حيرانتيا کې وغورځيد، چين له روسيې څخه د مرستې غوښتنه وکړه، روس په دې شرط موافقه وکړه چې د چين او د روسيې تر منځ به داسې معاهده کيږي چې يو شرط به يې دا هم وي چې روسيه حق لري په ترکستان کې سوداګريزې نمايندګۍ جوړې کړي، او هر هغه څوک چې د روسيې تابعيت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شي په دې هيواد کې وګرځيږي، همدا راز سيمه ايز واکمنان نه شي کولای د روس د وارداتو تحقيقات وکړي.
جګړه نوره هم سخته شوه، موږ به په غرونو ګرځېدو، په ويالو او ځر ځايونو کې مو مزلونه کول، روسان به مو ليدل چې وسله ورسره ده او د چينايي حاکم سره د سړيو او وسلې په برخه کې مرسته کوي، ليدل مو چې د چينايانو تر واک لاندې ښارونه له روسانو ډک شول، هغه روسان چې په خپله ګټه تبليغات به يې کول، سترو دولتي کسانو ته به يې رشوتونه ورکول، او د هغه خواجه نياز له منځه وړلو ته به يې هڅول او لمسول چې پرون يې غوښتل ايتلاف ورسره وکړي.
تر دې زيات لا دا چې روسانو به ځينې طبقې خلک په ځينو نورو لمسول او د هغوی په منځ کې به يې فتنه او نښتې رامنځته کولې، له بلې خوا وسلې وکولای شول چې د چينايانو قوت او ځواک پياوړی کړي، لکه څرنګه چې فکري تخريب وکولای شول قوي سپک کړي، او د ستر ملي يووالي جوړښتونه او اړيکې وشکوي، دا مهال موږ خونړيو جګړو ته ننوتو چې زرګونه سړي يې قرباني شول، موږ له څو سترړيو مياشتو وروسته ځانونه وسلې، مال او خوراک ته اړتيا وليده، له بلې خوا بايد ټپونه هم درمل کړو او د روسي او چينايي ډاروونکي فشار له کبله ارام هم وکړو، ځکه نو غرونو ته مو په شاتګ وکړ.
چينايي حاکم وکولای شول چې له نوي سره خپله واکمني کلکه کړي، په داسې حال کې چې موږ بشپړ برياليتوب ته خورا زيات نژدې شوي وو، د غرونو په ناوونو، غارونو او ځنډو کې خواجه نياز زموږ په منځ کې ګرځېدو او ويل به يې:
ای خلکو! جګړه سيالي ده، يوه ورځ به ستا وي خو بله ورځ به ستا د دښمن، او موږ د الله سره ژمنه کړې چې تر هغې به نه تسليمېږو چې يا بريالي شو او يا شهيدان.
په خپلو قوي او اغيزناکو سترګو به يې هغو وريځو ته کتل چې د غرونو لوړې څوکې به يې لکه د تاجونو په څير پوښلې وې، خپل نظر به يې په پراخو ځرځايونو ګرځولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه ورځې خوبونه به يې ليدل چې زمونږ سرې هر هغه شر او خطر له منځه يوسي چې زمونږ پاکه ځمکه يې ناولې کړې ده او په خندا به يې ويل:
دا دې روسانو ته ګورئ څوک چې تيره ورځ زمونږ د مرستې لپاره راغلي وو اوس د مرستې لاس زمونږ دښمن ته ور اوږدوي، ايا باور نه کوئ چې نن ورځ هغوی زمونږ د مصيبت سبب دي؟
بيا به خواجه نياز په خندا خندا خپلې ځينې خاطرې ويلې:
ای خلکو! مه خفه کيږئ، له پخوا راهيسې کليسا ستاسو د منځه وړلو کوښښ کوي، روسيه يې زمونږ په اسلامي هيوادونو د بريد لپاره لمسوله، ځکه کليسې دا نه وه هير کړي چې زمونږ پياوړو جنګياليو د ترکيې مرسته کړې وه، او په صليبي جنګونو کې د اسلامي نړۍ مرستندوی وو، ای اتلانو! زمونږ هيواد ماضي لري، تاريخ لري او يو ستر تمدن او کلتور لري، زمونږ ځمکه کې ډيرې شتنمۍ دي.
له زرو زيات سببونه شته چې هغوی يې زمونږ طامعين ګرځولي، او تر ټولو مهم دا دی چې موږ مسلمانان يو.

***

په غرونو کې څو سختې مياشتې پاتې شو، هلته هم د تمرين او د پيښو له څاره غلي نه کېناستو، د چريکي جګړې مو تنظيمولې او کمينونه مو نيول، وروسته له دې چې د يو ستر بريد لپاره چمتو شو، خواجه نياز راوغوښتلو، له موږ يې وغوښتل چې پټ شو، په هيواد کې خپاره شو او خبرونه راټول کړو، د دښمن احوال او د هغوی په نظام کې د کمزورۍ نقطې وڅېړو، د ټولو له منځه يې ماته د شرف تمغه راپه غاړه کړه او راته يې وويل:
ای مصطفی حضرت مراده! ته د هميشه لپاره د يو ستر سرتيري په څير وې، د دې تمغې په درکولو سره زه يوازې خپله هغه ستاينه څرګندوم چې زما زړه يې ډک کړی دی، او هيله لرم چې تاسې به ژر راستانه شئ، زمونږ سره ډير وخت نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورږ په بیلا بیلو خواوو پټ ولاړو ، غمژن قومول په تیارو پوښلی و، ځکه هغوی په ډېر لږ شک هم خلک اعدامول، او د کاشغر اوسیدونکو نه شول کولای چې د خپلو اتلانو سره وګوري ، ځکه چې هغوی خو یا پټ شوي و، یا غرونو ته تښتیدلي، یا ځینو د چینايي حاکم تائید کاوه، یا د روسي متخصصینو سره ګرځېدل، د یو انسان لپاره ګرانه ده چې د زیات تشدد او هغو مستبدینو تر منځه چې رحم نه لري د حقایقو تر منځ توپیر وکړي، په اورومچي کې د شیانو نښانې بدلې شوې، ماته داسې بریښیدل چې غیر له چینایانو او روسانو نور مخونه نه وینم، شیطاني لښکرې سرونه ښوځوي، سترګې کږوي او غوږونه د شور نه ډکوي.

په دې ډول له یو ځایه بل ته او له یو ښاره بل ته تلم، تر دې چې قومول ته راستون شوم، په تور او غمجن ځان مې د نجمة اللیل لټون پیل کړ، ای زما جادوګرې محبوبې چرته یې ؟ زړه مې له دردونو ډک دی، داسې احساس کوم چې د هغې تمغې وړ نه یم چې قوماندان مې یوه ورځ په سینه راځړولې وه، په داسې حال کې د تمغو هېڅ ارزښت نه شته، چې دښمن ځي راځي او د هیواد د زامنو بدنونه په قمچینو لولپه کوي، یا یې زندانونو ته وړي او یا یې د غرغرې په لرګیو راځوړندوي، په مرۍ کې د غرغرې پړی احساسوم، او ستونې مې د مرګ له تریخوالي ډک دی، خو له دې سره سره مې د نجمة اللیل لټون کاوه، په قومول کې د امیر ماڼۍ ته ولاړم، د تېرو یادونو ماڼۍ، د قهرجنې مینې ماڼۍ، د عاطفي او بغاوت ماڼۍ، د جذابو وعدو ماڼۍ، ماڼۍ راته د یوې پخوانۍ ارزښتانکې ودانۍ په څیر څرګنده شوه، چې له پخوانیو په مېراث پاتې وي، لوېې او دنګې ونې یې د کلونو تېربدلو رانسکورې کړې، او زړې شوې وې، هر شی زړېږي او ناروغه کیږي، او بیا اوښکې او غمونه پیدا کوي.

ای مورکۍ! نجمة اللیل دې لیدلې؟

چې ومې پوښتله، زړې ښځې سر راپورته کړ، په کمزورو سترګو یې راته وکتل او ویې ویل.

زه دلته له سلو کلونو راهیسې ژوند کوم خو دا نوم مې کله هم نه دې اورېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امسا يې تکيه کړې وه، څو قدمه وړاندې لاړه ، او بيرته راستنه شوه، ودريدله، سترګې يې د لمر په رڼا کې سرې شوې وې، په لړزيدلي لاس يې اشاره وکړه او ويې ويل:
ته په دې ښار کې نا اشنا يې ؟
نه زه دهمدې ځای يم.
له سترګو يې اوښکې راتلې شوې او ويې ويل:
ګمان مې وکړ چې ته له غرونو راغلی يې، زه د خپلو څلورو اولادونو په لټه کې يم، هغوی ولاړل او بېرته راستانه نه شول، کاشکې مې څوک هغوی ته بوځي، دلته د خپلو کونډو لونړو سره له تنهايۍ ستړې شوم، مېړونه يې د پسونو په څېر حلال شول، او بل دا چې زموږ سره ډېر ماشومان هم دي، په چينايانو او روسانو دې لعنت نازل شي.
له بوډۍ ښځې په خپله لار ولاړم، په د اشغال شوي قومول کې ګرځېدم، ناڅاپه مې په هغه سترګې ولګېدې، دا زما پخوانی ملګری دی.
بې له دې چې په ځان پوه شم د هغه نوم مې په زوره واخيست، منصوردرغا!
هغه سړی ماته رانژدې شو او ويې ويل:
مصطفی مراد حضرت! دا ته يې؟
موږ دواړو ګرمه غېږه ورکړه، بيا يې زما لاس کش کړ، يو پټ او خوندي ځای ته يې بوتلم چې هيچا نه ليدلو، او يوازې کېناستو .
څه حال دی منصوره؟
منصور درغا له غمه ډک اسويلی وکړ او ويې ويل:
د (ايلي)، (اقصو) او (چوچک) په ولسواليو کې انقلابيان وژل کيږي، د (شهيار) ښار په بند، ځورونې او بد غچ اخته دی، په (کوچار) او (آلتای) ښار کې هم دا حالت روان دی، په هر ځای کې ظلم دی، دښمنان سرونه پرې کوي او پلانونه جوړوي، هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې په جګړو، سوداګرۍ او تبلیغاتو کې متخصصین نه لري، بلکې د تعذیب، قتل، د مسلمانانو او اسلام د له منځه وړلو متخصصین ورسره دي.
د منصور درغا له سترګو اوښکې روانې شوې او د دلیل په توګه یې وویل :
ایا الله په دې رضا کیږي ؟
ما په دردناکه توګه وویل : طبیعي خبره ده چې نه .
د منصور درغا څېره بدله شوه او ځواب یې راکړ.
بیا نو ولې موږ په دې حالت کې پرېږدي، چې عذاب راکول کیږي او د ذلت سره مخ کیږو؟؟
الله عادل دې منصوره!
خو ظلم ټول امت د غمونو په طوفان کې ډوب کړ.
بیا هم الله عادل دې منصوره!
عدل خو دا دی چې دغه کافران نابود کړي.
منصور درغا مې له متې ونیو او ورته مې وویل :
دا هم عدل دې چې موږ دې حقیقي مسلمانان یو، چې الله زموږ سره مرسته وکړي.
هغه په غم سره سر وخوځولو او ویې ویل:
ریښتیا دې وویل، زموږ په منځ کې داسې خاینان هم شته چې له دښمن سره یې مرسته وکړه.
هغوی کم دي.
هو، زموږ له جملې داسې خلک هم دي چې له ژونده په شا شول او په هېڅ ډول یې ګډون ونه کړ.
په هر ملت او امت کې منفي فکر وي.
هو، په موږ کې داسې خلک هم شته چې په الله تعالی کافران شول او له بل ځایه په راغلیو یې ایمان راوړ.
منصور بیا ماته پړسېدلې سترګې راواړولې او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په موږ کې داسې ښایسته ښځې هم شته چې فضیلت او برتری، نه پېژني.
د منصور په خبرو بې حوصلې شوم، هغه د یوې وژونکې ناهیلۍ په انقلاب کې و، په یو نړوونکي نفسي بحران اخته و، ځکه حالات داسې نه وو، لکه چې هغه ویل، بلکې زموږ ملت یو صبر کوونکی، جنګیالی ملت دی چې نه دی تسلیم شوی، او خاینان یوه ډېره وړه ډله ده، دا هغه کسان دي چې یا یې نفسونه کمزوري شوي، یا د دښمن له وېرې او یا د ډول ډول عذابونو په وړاندې نړېدلي دي، یا په لږو مادي لاسته راوړنو غولېدلي، د دوی شمېر ډېر کم دی.
هر چې ښځې دي نو یوه ډله ناپوه، بې خبره او د لوږې په رنځ اخته ښځې د رزایلو په جال کې نښتي دي، ځو د ژوند کپله پیدا کړي، یا د تهدید له کبله مجبورې شوي او مردار ژوند یې له عزتمند مرګ غوره ګڼلې، زه موضوع ته په هغه سترګه نه ګورم چې منصور درغا ورته ګوري، زه منصور له پخوا پېژنم، منصور هغه چاته ورته دی چې په خوب کې مثالونه ورکوي، منصور شعر وایي، د بخاري احادیث یې زده دي، منصور د همېشه له پاره د معطر تاریخ خوبونهویني، خو هېڅکله یې هم دا کوښښ نه دی کړی چې د ښې ماضي او بدمرغه حال ترمنځ توافق رامنځته کړي، ځو په خپل ځان کې څه اندازه نفسي انډول هم وساتي.
ما ورته وویل:
ولې واقعیت نه قبلوې، او د علاج هلې ځلې یې نه کوې؟
منصور سر وخوځولو او په غوسه یې وویل:
حالات ناروغه او ناهیلي کوونکي دي.
او حل څه دي منصوره؟
شونډې یې تاو کړې او په بې زارۍ یې وویل:
حل مرګ دی.
څه ډول به مرو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پوه شو چې اشاره مې کوم لور ته ده، سترګې یې پورته تاو کړې، لکه چې د خپل ځان افق ته ګوري، کوښښ کوي چې خپل پخواني فکرونه وشنډي او په خپلو افکارو کې ژور نظر وکړي:
مصطفی! د اتلانو په خیر به مرو.
په خوښۍ سره مې په غیږ کې ونیو او ورته مې وویل:
وګوره! مونږ سره موافق یو.
بالکل، ما هم نیت کړی و چې په غرونو کې ستاسې سره یو ځای شم.
سبا به ځو، یو ستر پاڅون نژدې شوی دی.
راووتو، شپې څادر خپور کړې و، د قومول په خوا او شا کې مو قدم واهه، په موقفونو کې یو شی څرګند و، هغه دا چې خلک خورا تنګ شوي وو، دې ته اړتیا نه وه چې خلک دې له غرونو راښکته شي، او خواجه نیاز حاجي دې یو ځل بیا د دې له پاره راکوز شي چې له نوي سره انقلاب پیل کړي، مخکې تر دې چې سره جلا شو منصور درغا وویل:
د نجمة اللیل پوښتنه دې ونه کړه ؟
په عاجزۍ مې وویل:
هغه چرته ده ؟
منصور ترخه خندا وکړه او ویې ویل:
واده یې وکړ.
څه ډول ؟ ته ټوکې کوې.
کله چې امیر ماښې پرېښوده، کورنۍ یې سره جلا شوه، خلک جګړې ته ووتل، هغې ته ذهني ټکان ورسېد، ژړل به یې او چغې به یې وهلې، خو د هغې ژړا او چغو د هغې ښایست ویجاړ نه کړ، پوه شوې کنه.
هېڅ پوه نه شوم:
د یو چینایي ضابط خوښه شوه چې قومول ته په لمړي ځل راغلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دا قصې پربږده ، نه ښايي چې موږ په دې اړه فکر وکړو.

***

کله چې زما په زړه کې خوښي مړه شي، داسې احساس کوم چې په ډېرو ژورو کې غوپې وهم چې له مارانو، بلاګانو او تورو دودونو ډکې وي، دا يوه پخوانۍ خپسه ده، چې ما به په وړکتوب کې په خوب کې ليدله، او پلار به مې ماته ويل چې له ويده کېدو مخکې اية الکرسي ولولم، سل کرته په رسول الله دردو ووايم، نه پوهيږم چې ولې راته د هغه خپسې ياد راغلو؟

آهـ! نجمة الليل، ايا ستا پخوانۍ اوښکې ريښتينې ومنم ؟ او که له لمړي سره پر ما ستا ځان پورته ګڼل؟ زما د سترګو پورې ستا نښتل ومنم او که د خدای پامانۍ لمبې او له چين ځخه د راغلو ليوانو په اړه ستا خبرې ؟ کوم يو ومنم؟

ايا فکر کوې چې زه به تريخ واقعيت ومنم؟

منصوره! سبا به غره ته ځو.

د غمجن قومول د شپې منځ ته مې وکتل او ومې ويل:

د غره په لمنو کې شپه رڼه ښکاري، د سړيو سندرې به اورې او زړه به دې خوند اخلي منصوره! ستورو ته به ګورې، په اسمان به يو ستوری نه وينې، بلکې ميليونونه ستوري به وينې، چې په تل پاتې تبسم يې خوله وازه وي.

غر ښکلی دی منصوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲)

نجمة الليل مې پرېښوه، او د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ته مې وکتل، که څه هم وريځو پټه کړې وه، ما بيا هم د سپوږمۍ په مخ کې هغه تلپاتې خندا لوستلای شوه، چې له زرګونو او لا زياتو کلونو څخه تر اوسه په بشپړ ارامۍ او وقار سره په کې ځرګندېږي، ای هغې سپوږمۍ چې تيارې ننګوې! زه ستا په رڼا د ځرځايونو په منځ کې د انقلابيانو مشر ته روان يم.

زه چې کله يو، سل او يا زر يادوم نو د انقلابيانو سره ظلم کوم، هغوی تر دې زيات دي، د جنرال محمود محيطي، ستر جنرال عثمان باتور، جنرال شريف خان او جنرال عثمان اوراز په څېر، د غرونو څوکو ته د جاسوسانو هغه ډله راورسېده چې ولسواليو او ښارونو ته تللې وه، د هغه بد حال خبرونه يې ورکړل چې په ترکستان کې يې زموږ مبارز ملت د پېټې او بار لاندې زوېرګې کوي، د کال په اخر کې يو سخت يخ سيلاب پيل شو.

خواجه نياز وويل:

په اورومچي کې به سره يو ځای کېږو، چرته چې د عمومي چينايي حاکم ماڼۍ ده.

موږ پوهېدو چې دا يو اوږد پړاو دی، او تر شا يې وينې اوګوابښونه پراته دي، زه د جنرال محمود محيطي له خبرو وپوهېدم چې ويل يې:

زموږ سره به د الله ساتنه او رعايت وي.

ما وويل:

ای سترو پلارانو! دې پېښو زموږ ځينې ځوانان له ځانه سره يوړل.

خواجه نياز له خندا وروسته وويل.

کله چې د حقيقت لمر را وخېژي، دا ټولې درواغ افسانې ويلې کېږي.

د غرونو په واورو پوښلو لوړو څوکو ته يې وکتل او زياته يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله اراده د ځمکې له هرې فلسفې ځواکمنه ده، هغه څه چې تاسې يې هميشنی بری ګڼئ موقته ځلا ده، چې ډېر ژر به مړه شي، د تاريخ په هر عصر کې ځينې مغروره خلک د الله تعالی وينا ننګوي او بيا يو څه برياليتوبونه تر لاسه کوي، خو ډېره لږې او ناشونې ده، الله تعالی فرمايلي دي ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ ﴿الحجر:٩﴾

د الله په مرسته ورځئ او غير له الله له بل هيچا وېره مه کوئ.

د ترکستان په ملت کې مې يو نا اشنا حالت وليده، دا هغه ملت دی چې ويده و، تسليم شوی و، ټپي و، غمونه او کړاوونه ترې د وينو په څېر بهېدل، ناهيلي يې په زړه کې ځاله جوړه کړې وه، همدې ملت چې کله زموږ ډلې د راتګ پر مهال وليدلې، ناڅاپه يې سترېيا او کمزوري لکه د ګرد په څېر له خپلو اوږو وڅنډله، په يوه بې ساري او زياته خوشحالۍ کې يې سترګې پرانيستلې، او زموږ سره روان شو، ای الله! چينايان چرته دي؟ دوی خو وېرېدلي او تښتي، ډېر يې اسلام ته غاړه ږدي، او زموږ تر څنګ جګړه کوي، د چينايانو تر لاس لاندې پېغلو ته ازادي ورکړل شوه، هغوی هم راووتلې، او په جګړه کې برخه اخلي.

هغه مې په يوه ښنته کې وليدله، چې غټ او چاغ سړی يې رانيولی، او خلک يې شا او خوا راټول دي چکې وهي، دا ښځه څوک ده ؟ هغه د کاشغر يوه مېرمنه ده، چې خاتون نوميږي، او دا سړی يو چينايي افسر دی، دې ښځې نيولی او د يوې غټې ونې د ډډ پورې يې تړلی دی، افسر له ونې د حلال شوی غويي په څېر څرخونه خوري، ښځه يې په ملا په چابک وهي، او ورته وايي:

تا ماته وويل: ای خاتون ! ته زما يې، او هېڅ يو خدای نه شي کولای چې تا له ما خلاصه کړي، تا زه يوې ناولې جونګړې ته بوتلم، ياد دی دي؟ زه تاته زر کرته وايم، زه له تا کرکه کوم، او بيا دی هم بد ګڼم، ته به له ما هېڅ هم تر لاسه نه کړې، ما تاته بيا بيا وويل چې الله ستا او له ما قوي دی، ای ملعونه! تا زه لغړه پرېښودم، خپل نشه سړي دې راوستل چې په يوه بې چاره او تړل شوو لاسونو مېرمنې راغورځېدل، په يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باراني ورځ کې په ژړا وم او اسمان ته مې کتل، د زړه له تله مې الله ته دعا وکړه، تا ما پورې ملنډې ووهلې او راته دې وويل:
الله ستا اواز نه اوري، دلته چې څوک موجود دی هغه زه یم، ای سن لي! اوس چېرته يې؟ دې سړيو ته وګوره چې له هر لورې را روان دي، هغه بيرغونو ته وګوره چې رپيږي، الله دې وپېژندو؟ خبرې وکړه ، آهـ، ته اوس سجدې کوې، خاورې مچوې، او د هغه الله مرسته غواړی چې ورڅخه منکر وی، ته نارينه يې؟ زه پوهېږم چې ته بدذاته له مرګه وېرېږې، خو ای رذيله! تا زما زړه ټپي کړ، او زما بدن دې ټپي کړ، د کومې ښځې چې سپېڅلتيا په زور ټپي شي، زموږ په شريعت کې د دې مجرم لپاره له مرګ پرته بله سزا نه شته .
خواجه نياز دی اغېزمن منظر ته وکتل او ويې ويل:
داسې ښکاري چې دا ښځه ليونۍ شوې ده.
د کاشغر يو اوسيدونکي وويل:
ټول کاشغر د هغې له قصې خبر دی.
خامخا به ډېره ځورول شوې وي.
صاحبه! هغه د يو عزتمند کور مېرمن ده.
همداسې ښکاري.
چينايي افسر ته له دې پرته بل څه خوند نه ورکولو، چې د ابرومندو کورنيو په لوبو لوبې وکړي، هغه ډېر ستر عالمان او ديني خلک وژلي وو.
خواجه نياز تړل شوي چينايي افسر ته نژدې شو:
څه دې کړي؟
بندي په سترو سترګو وروکتل او ويې ويل:
پرون د يو بريالي له حقوقو برخه من وم او عملي کول مې.
د بريالي حقوق څه دی؟
خو هغه ونه شول کولای ځواب ووايي، خواجه نياز ورغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې اصیل ارزښتونه تر پښو لاندې شي؟
ما د هغې سره مینه وکړه، او د ځان له پاره مې غوره کړه.
تا د همدې له پاره جګړه کوله؟
ما هغه څه کول چې هغوی کول، او د هر څه مسئولین قوماندانان دي.
خواجه نیاز ولاړو خلکو ته وویل:
ده ته وګورئ! له موږ د هغو خلکو محاکمه غواړي، چې دا یې دلته راوستی دی.
بیا یې هغه ته وکتل او ویې ویل:
د الله په وړاندې به یوازې درېږو.
ایا تا دا ایت نه دی اورېدلی؟ (وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْداً) (مریم:٩٥)
طبیعي ده چې نه، موږ به ستا د قوماندانانو په جرم ستا سره حساب ونه کړو، بلکې د هغه څه حساب درسره کوو چې ستا خپلو لاسونو کړي دي.
چینایي افسر را پریوت او چغې یې کړې:
مرګ نه غواړم.
خاتون په زوره وخندل او خواجه نیاز ته یې وویل:
محترمه مشره! مظلومانو به له ده د رحم غوښتنه کوله، ما یوه شپه له یو شریف ځوانه واورېدل چې د ده په وړاندې یې چغې وهلې، نه غواړم چې مړ شم، همدغه خبرې چې نن یې دا کوي، خو هغه بې حیا او سپین سترګی و.
خبرې یې اورېدې کړې، او افسر ته یې وکتل:
انکار کوی؟ ته سپک او بې حیا وې، په ارام دې خپله توفنګچه راپورته کړه او ځو ډزې دې وکړې.
بیا خاتون په خبرو پیل وکړ، په اوریدونکو راوګرځېده، په غمجن او دردمن غږ یې وویل:
هغه ځوان له درده تاوېده او زوېرګي یې کول، سترګو یې ژوند ته په خواشینۍ چغې وهلې، او دی سپک سپي د چای پیاله څښله، په خوند خوند یې سګرټ څکولو، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



يخنۍ د ځان ژغورنې له پاره به يې په خپل بدن بالاپوش سمولو، او خندل يې، بيا به يې زه په زوره په خپل ورانه کېنولم، په يو خنجر به يې زما په اننګيو لوبې کولې، فکر وکړئ! فکر وکړئ! زما مخ ته وګورئ! د پخوانيو ټپونو نښې اوس هم زما پر مخ شته، خو د هغه مخ به له خوښۍ ځلېده، او زما د وينو څاڅکي به يې رودل.

بيا يې د ليونتوب په څېر چغه کړه :

محکمه!!!!

چوپتيا خپره شوه، ټولې سترګې په ژړېدونکې اوترې ښځې او د ونې پورې تړل شوي مات افسر ونښتلې، په څو شيبو کې يو له شپيتو کلونو زوړ سپين ږيري صفونه څيرې کړل، په لاس کې يې يوه پخوانۍ توره وه، موږ لا په ځان پوهېدو چې د هغه تورې د ضابط سر پرې کړی و، او ګډوډي خپره شوه، خو سپين ږيري چغې کړې.

زه د هغې پلار يم.

خاتون د خپل پلار پورې ونښتله، او نياز خپلو ملګرو ته د تګ امر وکړ، د کاشغر او نورو ښارونو په شا او خوا کې د جګړې اور بل شو، او انقلابيانو ازادې کړای شوې سيمې له هر خاين او اشغالګره جارو کولې.

په هر ځای کې لسګونه غمجنې کيسې ويل کېږي، خواجه نياز به له ځان سره ويل (زه د هغې پلار يم)، دا کلمې به يې په خورا فکر سره تکرارولی، داسې احساس يې کاوه چې هغه يې هم پلار دی، ټولو ته به يې په ټينګار سره ويل، هغه ترکستان چې د ناخوالو له کبله ځورېږي، د تل لپاره يو مسلمان محسن پلار ته اړتيا لري، دغه راز شريفو زامنو ته اړتيا لري چې د شرف او وجود څخه يې دفاع وکړي، او د بدني او نفسي ټپونو غچ يې واخلي.

ما ته لعنتي نجمة الليل را په زړه شوه، کاشکې هغه هم د خاتون په څېر وه.

خو اوس زه ولې په نجمة الليل کې فکر کوم، زه خو يې پلار نه يم، او هغه د خاتون په څير نه ده، دا هسې زهرجن براسونه دي چې له سختو حالاتو را پيدا شوي دي، په هر ښکلي باغ کې داسې ازغي را شنه کيږي چې ګوتې وينې کوي، او کله کله د ګلابونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په منځ کې هم مار پټېږي، نجمة اللیل هم د دې سپک او کمزوري چینایي افسر په خبر یو شی دی، لازمه ده چې زموږ جګړه د هغه د لښکر، او هغه زهرجنو وژونکو براسونو پر ضد وي، چې د نجمة اللیل سره مشابهت لري، او یا داسې نور.
هر ځای کې ارامي خپره شوه، په کاشغر کې نوی جمهوریت اعلان شو، خواجه نیاز د ترکستان د جمهور رئیس په توګه غوره شو، او یو بل ښه سړی چې قاهرې ته مهاجر شوی و، او نوم یې مولانا ثابت و، د نوي حکومت رئیس وټاکل شو، د وزیرانو شوری او د استازو غونډه هم جوړه شوه، زموږ نژدې ټولې ځمکې ازادې شوې، څه موده وروسته د ارومچي د ښار محاصرې ته مخه شوه، چرته چې د چینایي حاکم مرکز او وروستی سنګر و.
زه د داسې یوې دندې د تر سره کولو له پاره واستول شوم، چې د ځواکونو د راټولولو او په قومول کې یې د اوامرو د نشر پورې اړه درلوده، زه قومول ته په بریالیتوب سره د رسېدو له کبله خوشحاله وم، څومره په زړه پورې ده چې یو سرتېری خپل پلرني هیواد ته بریالی ورستون شي، لوړ سر تګ کوي، خلکو ته په مینه او صمیمیت سره ګوري، د ځان او د ښار د خلکو تر منځ د یوې قوي اړیکې د شتون احساس کوي، داسې احساس کوي چې هغه د خلکو د زړه اواز دی، د دوی د روحونو، خوښیو دردونو او هیلو یوه برخه ده، ستر بریالیتوب لکه یو ستر درد، چې زړونه سره یو کوي او هیلې په یو لوښي کې ویلې کوي.
راستون شوی سرتیری په ویاړ قدمونه اخلي، له کړکیو راڅرګندو شویو ښایسته او نېکمرغه مخونو، او د کوچنیانو سپینو ځلېدونکو مخونو ته ګوري، چې په ارامۍ او نیکمرغۍ کې ګرځي راګرځي.
راستون شوی عسکر احساس کوي چې ځینې مسئولیت یې اداء کړی دی، په داسې حال کې چې هغه پرون په زور سره په کلاګانو اوښتلو او په خپل زوړ توپ یې ډزې کولې، د چینایانو د چټلتیا څخه ځایونه پاکوي، او همدا زه راستون شوی عسکر یم، څومره خوږې سندرې دي، تر ټولو زیاته خوا مې په دې یخه شوه چې چینایي یرغلګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



رارغړېدل، او وژل کېدل، بیا به یې سمدستي الله تعالی یادولو، زه ډاډه یم چې هغوی دروا‌غ نه ویل، بې شکه چې د غم پر مهال د هغوی له سترګو پرده لرې شوه، او په خپل فطرت او اصلیت سره الله تعالی ته راستانه شول، هغه لمړنی ازلي حقیقت چې هېڅ درواغ په کې نه شته.

تلم ...تلم.....او ځمکه مې په خپلو نویو بوټانو وهله ..چې د شا له لورې مې یو اواز واورید چغې یې وهلې:

دا دې یو ځل بیا راوګرځیدی، مصطفی مراد حضرته! سوګند دی چې ته د همدې لپاره راغلی یې او هغه لټوې.

شا ته مې وکتل، دا منصور درغا و، ښي لاس یې په یوه غټه پټۍ تړلی و، سر یې هم په یوه وړه پټۍ تړل شوی و، په ارامۍ سره مې ورته وویل:

نژدې وه چې ودې نه پیژنم....

موږ دواړو غاړې ورکړې، منصور درغا وویل، څه موده مې په روغتون کې تېره کړه، زما د مټ نه یې دوه درې مرمۍ وویستلې نه پوهیږم څو وې، ویل یې چې لاس به مې د څه مودې لپاره شل وي، خو دا کومه مهمه خبره نه ده.

بیا یې سر ښکته کړ او په غمژنه توګه یې وویل:

ډېر خلک ووژل شول، له مرګه مې کرکه پیدا شوه، دا چې یو انسان ووژل شي یو سخت کار دی، دا ټول حماقتونه ولې کیږي؟ خو زه کوښښ کوم چې هېر یې کړم، کوښښ کوم چې خپلې ورېې پورته کړم، خپل توپ راواخلم، او په ناڅاپي توګه یې د چینایانو او روسانو د ډلې په لور واړوم، نه غواړم چې هغوی ووژنم یوازې غواړم چې هغوی زموږ له وژلو منع شي، غواړم چې د هغوی وسلې غلې شي، خو غم دا دی د دوی وسله به هلته غلې شي، چې دوی غلي شي، او دا د خفګان خبره ده، دوی باید خامخا ووژل شي، څو د دوی وسلې له لیونتوبه غلې شي.

راځه چې لږ وخاندو.

ما په حیرانتیا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک؟
منصور درغا د نجمة الليل نوم واخیست او ما وویل:
زه د هغې پلار یم.
کله چې منصور زما وروستۍ خبره واورېده په زوره زوره یې وخندل:
ښه نو ته یې پلار یې؟
ما خپلې سترګې د تشې مانۍ په لور واړولې او ومې ویل:
ما په کاشغر کې له یو سپین ږیري واورېدل چې همدا کلمې یې ویلې، «زه د هغې پلار یم»، ما له خپل رئیسه هم واورېدل چې دا خبره یې کول، «زه د هغې پلار یم»، خو ای منصور درغا! زموږ هیواد دې ته سخته اړتیا لري چې یو ځوک همیشه ووایي، «زه د هغه پلار یم».
منصور زما اوږه وټپوله او ویې وویل:
جګړې ستا اعصاب ستړي کړي دي.
ما په غمژنه توګه ځواب ورکړ:
کېدای شي.
تاسې اورومچي ته رسیدلي یئ؟
محاصره کړې مو دی، او جګړه پای ته نژدې ده.
منصور درغا وخندل او ویې ویل:
خو زه وایم چې زموږ عذاب هېڅ پای نه لري، تر ځو چې موږ د امبور په خوله کې یو، چې د دې امبور یو اړخ چین، او دوهم اړخ یې روس دی، او دواړه په موږ کې خپلې تمې لري، زموږ د اسلام د منځه وړل غواړي، ځکه چې اسلام ختمول زموږ ختمول دي، ما د هغوی له فیلسوفانو همداسې اوریدلي، او د هغوی په ځینو پټو خپرونو کې مې هم دې ته ورته افکار لوستي دي، چې موږ ونیول او هغوی ځنې وتښتېدل، دا توکي ماته له سوځول کېدو وړاندې لاسته راغلي وو، زما سره د دې ډول اسنادو یوه غټه ټولګه شته، خواجه نیاز ته به یې وړم، دا د نوي ډول صلیبي جنګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناڅاپه منصور زما غوږ ته رانژدې شو او پټ یې راته وویل:
نجمة اللیل د شپې په تیاره کې وتښتېدله.
څنګه وتښتېدله؟
هغه قوماندان تر ټولو دمخه وتښتېد، چې نجمة اللیل یې د ځان له پاره غوره کړې وه.
منصور په خندا شو او ویې ویل:
نجمة اللیل، د ژوند په اوږدو کې د خاورې په څیر، بلکې ختو ته ورته ده، ته یې داسې نه پیژنې لکه زه یې چې پیژنم، راځه ګرانه ملګریه چې د لمړي ځل له پاره درته د هغې خبرې وکړم، د هغې له لسو زیات عاشقان وو، په هغوی کې اس روزونکي، شپانه، سرتیري، او شتمن سپین ږیري شامل وو چې په هغې به یې ملغلری شیندلې.
ای مصطفی! ته ساده او ښېرا یې، مه خفه کېږه، زه پوره ستا په څېر نه یم، دې تورو ورځو داسې کړم چې یوازې له یو شي پرته په بل هېڅ هم باور نه کوم، په هغه انسان باور کوم چې وسله پورته کړي او تر مرګه وجنګیږي، دا د فساد او ضایع کېدو زمانه ده، ژوند په کې لعنت دی، نجمة اللیل ارومچي ته ولاړه، رښتیا وایم که چېرې موږ وکولای شول چې ارومچي ته داخل شو، نو ګورې به چې به په ژړا به درته راځي او مرسته به غواړي، او بیا به ټولو ته د استبداد او ظلم له کبله د یوې شهیدې په څېر ښکاره شي، خلک به یې اوښکې رښتونې وګڼي او ته به دې هم زړه نرم کړي.
ما په خپله تفنګچه ګوتې ووهلې او بیا مې په ګونېدلي اواز وویل:
خاین ورکیږي.
منصور په داسې حال کې چې اوږې یې خوځولې په خندا سره راغبرګه کړه:
داسې نه شې کولای، هغې چې څه وکړل ایا هغې ته مجبوره کړای شوې نه وه؟
موږ باید له دې زهرجنو بړاسونو او بې کاره بوټو څخه خپله ځمکه پاکه کړو.
منصور په خندا شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بړاسونه الله پیدا کړي، او بې کاره بوټي همیشه موجود وي، خو ما یوې جټې ښځې سره واده کړی، چې د غرونو اوسیدونکی ده، هغه د جنګ په اړه په ډېر څه نه پوهیږي، او تا؟

زه به شپه دوه شپې په قومول کې پاتې شم، او بیا به اورومچې ته لاړ شم، او ستاسو سره له دوه اونیو وړاندې نه شم یو ځای کېدی.

د منصور سره مې خدای پاماني وکړه او د قومول په کوڅو کې سرګردانه روان شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۷)

له دې ټولو ستونزو سره بيا هم مونږ يو کوچنی دولت و، چې دوه سترو دولتونو چين او روس سره مو مخه وه، خو ايا موږ ته روا وه چې د کوچنيوالي په دليل اشغالګرو ته خپلې دروازې پرانيزو؟ او هغه ارزښتناک څيز بد وکاروو چې الله راکړی؟ جګړه دې يوه مياشت روانه وي، دوه مياشتې، يو کال او چې څنګه د الله خوښه وي هغسې دې اوږده شي، مونږ به د ټول عمر له پاره جنګيالي يو، همدا زموږ برخليک دی، موږ په دې لړ کې هيڅ بله لار نه لرو، خواجه نياز شا او خوا وکتل او ويې ويل:

جګړې هر څه خرابه کړي.

جنرال شريف خان چې يو سخت او متشدد سړی و، لکه چې زړېدلی جنګيالی وي، وويل:

مهمه دا ده چې د جګړې له کبله مو په الله او ځان باور خرابه نه شي.

د قدر وړ مشره! دلته او هلته لوږې دي، قيمتونه هم خورا لوړ دي، په هره سيمه نا ارامي خپره ده.

جنرال شريف خان هغه ته وکتل او ويې وويل:

زما سره يوه رايه ده، هغه دا چې موږ اورومچي ته په يو فيصله کوونکي جنګ کې ننوځو.

همداسې بايد وکړو.

چې يا مړه شو او يا په اوروم‌چي او ايلي بشپړه سلطه ټينګه کړو.

همدا مهال د چينايي واکمن او روسيې تر منځ په دې موضوع خبرې روانې وې، چې د انقلابيانو د ځپلو له پاره پوره ځواکونه واستوي، خو په حقيقت کې روسيې په دې چينايي واکمن باور نه درلود، له همدې کبله روسي ځواکونه په تېزۍ سره وخوځېدل، او د هغه چينايي ځواکونو په اوښتون کې يې برخه واخسته چې د چينايي پوځ يو قوماندان يې مشري په غاړه درلوده، عسکري کودتا بريالۍ شوه او ملکي حاکم چين

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وتښتېد، ټول واک د چینايي عسکري قوماندان په لاس کې شو، او د «د پیل او مصلحت اتحاد» په نوم د چینايي قوماندان او روسیې تر منځ نوی تړون وشو، چینايي قوماندان ژمنه وکړه چې له ختیځ ترکستانه به خام مواد راټولوي، او روسیې ته به یې استوي، د دې په مقابل کې روس د هغه سره د عسکرو او وسلې مرسته وکړه څو محاصره ماته او نوی زېږېدلی جمهوریت له منځه یوسي، د دیسمبر په میاشت کې د روسي فوځ درې غونډونو چې د پرش الوتکی، شل ټانکونه او پنځوس زغروال موټر په کې وو، د ایلي او چوچک له لارې حرکت پیل کړ.

خبرونه خواشینوونکي وو، خلک یې په زیات تشویش کې کړل، ځکه موږ سره دومره ځواک نه و، چې د روسیې ناڅاپي فوځي مخکې تګ مات کړو، خواجه نیاز وویل:

پرون جنګېدو.

جنرال شریف خان د پوښتنې په دود ځواب ورکړ:

او نن؟

زموږ جګړه یو ډول زړورتیا ده.

بیا یې جنرال ته مخ کړ او ویې وویل:

خو ملګری جنراله! بیا هم د جګړې بدیل شته؟

زه د سیاست په نوم څه نه پېژنم، تجربو را ښودلې چې موږ ته یوازینۍ راپاتې طریقه جګړه ده، او دا ګرانه ده چې دښمن دی تسلیم شي، مګر دا چې په جګړه کې مات کړای شي.

خواجه نیاز په داسې حال کې چې کتل یې الوتکې انقلابیان بمباروي، وویل:

بیا نو تر پایه جګړې ته دوام ورکوو.

په همدومره موده کې، روسیې په ټولو چارو لکه عسکري، سوداګریزو، سیاسي او نورو کې متخصصین واستول، د نوي چینايي حاکم د دوه لوړ پوړو سلاکارانو له جملې یو روسی ظابط و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا روسی یو خبیث، چالاکه او ځیرک انسان و ، چې د هغه نقشې او نظریات کمزوري نه شول بلل کېدای، د چینایي حاکم سره یې وکتل او ورته یې وویل؟
زما په ذهن کې دجګړې له پاره یو انځور شته، که موږ یې په عملي کولو بریالي شو؛ نو ډېر څه به تر لاسه کړو.
حاکم وویل:
څه ډول؟
زموږ سره د ختځ ترکستان له خلکو را جلا شوې یوه ستره ډله شته، چې موږ پرې بشپړ باور کولای شو، او مونږ کولای شو له هغوی مرسته واخلو، هغوی د حکومت د اداري او عسکري ماشین په سر کې وګومارو، په دې سره به داسې څرګندیږي لکه جګړه چې د خواجه نیاز د ډلې او له همدې ترکستانیانو د راجلا شویو خلکو تر منځ وي.
حاکم دا نظر ومنلو، یو اصلي ترکستانی د استخباراتو مشر وټاکل شو، چې دغه استخبارات د المان د پټو پولیسو په څېر وو، هغه له عامو خلکو د غچ اخستلو او ځورولو په برخه کې خورا بد رول ولوبولو، دغه راز د استخباراتو د ادارې له پاره په نورو ښارونو کې هم ځانګې جوړې کړای شوی.
موږ په خپل ټول قوت جنګېدو، جګړه په ټوله معنی سخته وه، جګړه یوازې دا نه وه چې د الوتکو، ټانګونو، او زغروالو موټرو مرمۍ زموږ د شهیدانو په بدنونو کې ننوتلې، بلکې هلته یوه بله بې ارزښته جګړه هم روانه وه، وروسته له دې چې دوښمن پلوو ترکستانیانو په یو ښار کې د چارو واګې په لاس کې واخستل، او موږ له ارومچې شاتګ وکړ، د یوې نا اشنا محاکمې خبر مو واورېد، زما ملګری منصور درغا بندي شو، خو لږه موده وروسته په تېښته بریالی شو، هغه موږ ته عجیبه کیسې وکړې، منصور درغا د استخباراتو مرکز ته بوتلل شو، هغه ورته ویلي و:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د غره سړی یم، په جنګ نه پوهېږم، نه لوستل کولای شم او نه لیکل، انقلابیانو زما له خوښې پرته زما څاروي او پسونه ټول واخستل، بیا تاسې ونیولم، زه بې ګناه یم او هېڅ په جنګ نه پوهېږم.
د استخباراتو مرکز د جهنم په څېر ښکارېدو، د استخباراتو مشر په خپله ولاړ و، هر څه یې څارل او چارې یې پر مخ وړلې، او ویل به یې:
ای خاینو افسرانو، تاسو څنګه د وروسته پاتې خاین جواجه نیاز په صف کې جنګېږئ، ایا نه پوهېږئ چې هغه ستاسو مالونه غلا کړل او له تاسو یې د ملیونونو په ارزښت شتمني پټه کړه؟ ایا نه پوهېږئ چې هغه په تاسو سوداګري کوي، هغه ځمکې لري، ښځې لري او سره زر لري؟ شرمېدلو ته به یې وګورئ.
د هغوی په مخ کې یې ځینې جعلي چاپ شوي شیان، دروا غ شمېرې، او له ځانه جوړ شوي انځورونه وغوړول، دغه راز یې د جنرال شریف خان او نورو غټو قوماندانو په اړه هم همداسې وکړل، کله یې چې په خپلو درواغو د هغوی معنوي روح ویجاړ کړ، خپلو ملګرو ته یې اشاره وکړه، او هغوی یې یو ځل بیا په تعذیب او شکنجه پیل وکړ، هغوی مسکینانو ژړل او چغې یې وهلې، یا به چوپه خوله مړه کېدل، په زور اعترافات اخستل کېدل، او بې ګناه خلکو به پرې په زور لاسلیکونه کول، بیا به په (سینګیانګ) ورځپاڼه کې خپرېدل، دې خاینانو وړې وړې رسالې لیکلې وې، او یا به د کوم بل هېواد استخباراتي کړیو جوړې کړې وې، ترکستاني نومونه به یې پرې لیکلي وو، بس د جګړې سېمه پراخه شوې وه، ګڼ اړخونه یې خپل کړي وو، خو پاڅون کوونکي تر مرګه په جګړه اخته وو.
هغه ورځ هم راغله چې زه یې په ټول عمر کې نه شم هېرولای.
آهـ..کاشکې تر هغه وخته ژوندی نه وای چې دا ورځ مې ولېده، جګړه ګرمه شوه، جلا شوي خاینان او دښمنان له هر لورې راغلل، جګړه خونړۍ وه، خواجه نیاز شا او خوا وکتل او ویې ویل:
ورونو زموږ امانت یوازې او یوازې شهادت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال شریف خان په جګړه کې مشغول و، مخ یې په وینو او خاورو لړلی و، الوتکو او ټانګونو اورونه ورول، مړو لاره بنده کړې وه، د وینو بوی هوا ډکه کړې وه، شریف خان غلي وویل:

داسې ښکاري چې دا ځل مو جګړه بایلوده.

خواجه نیاز وویل:

باید بل ځای ته په شا شو.

دښمنان زیات شول، او موږ په غیر منظم شاتګ او نا منسبه جګړه کې د خطرونو سره مخ کېدو، زه په یوه لوړه او سخته غونډۍ وختلم، نه پوهېدم چې په پښو او لاسونو کې مې څومره اغزي ننوتي دي، د ستړیا له کبله سنېدم او د غونډۍ په سر ودرېدم، لرې لرې مې وکتل او له ځانه سره مې وویل: ای الله! خواجه نیاز، جنرال شریف او نور د دښمن په لاس کې پرېوتل، د استخباراتو او یا تحقیق مرکز ته یوړل شول.

هېله مندي له منځه ولاړه، زما شا او خوا هر څه مړه کېدل، مېنه، هېله، بری، دا هر څه داسې مړه شول څه ډول چې پرون نجمة اللیل زما په زړه کې مړه شوه، نژدې ده چې د مبارزې ورځې ولاړې شي او یوازې یاد یې پاتې شي، لکه د منصور درغا د یاد په څېر، چې پټ شو او زه ورځخه هېڅ نه وم خبر، زه د ختیځ ترکستان په هغو زامنو ودردېدم چې جلا شول، او د ټول ځواک په مټ، د نورو په بنده ګۍ کې، په سختۍ او ملنډو سره د انقلابي پاڅونوالو او خپلواکي غوښتونکو پر ضد ودرېدل، زما پر زړه تر ټولو سخته دا وه چې د خپل ښار یو غوښن او خندانه سترګې اوسیدونکی وینم، چې لوړ لوړ اوازونه باسي، خپل ورونه یې د پسونو په څېر روان کړي، او د هغوی سره د څارویو په څېر چلند کوي.

کېدای شي هغه څه چې خواجه نیاز او جنرال شریف خان ته پېښ شول د ډېرې مودې لپاره یو راز پاتې شي، ځکه دوی دواړه او نور یې یو ناڅرګند ځای ته بوتلل، یوې ژورې څاه ته چې هېڅوک هم ورځخه خبر نه دي، خواجه نیاز او جنرال شریف خان څنګ په څنګ د استخباراتو په مرکز کې ودرول شول، د خواجه نیاز زړې جامې په تن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې او مخ يې ځېرې شوې و ، تحقيقات خورا سخت او نادر وو ، د خواجه نياز سترګې سرې او کمزورې و ، د استخباراتو مدير چغه کړه:

په خپل خيانت اقرار نه کوې؟

خواجه نياز په خندا شو ، نژدې وه له سترګو يې وينې وڅڅېږي، ويې ويل:

او ته؟

زه څه ؟

زه خاين يم او که ته؟

د استخباراتو مشر ولسمشر ته يوه کلکه څپېړه ورکړه، خواجه نياز خپل تړلي لاسونه په زوره او د ملنډو په ډول ولړزول او ويې ويل:

ډېر ځله د چا خوښه نه وي خو مچ يې په پوزه کيني.

حقيقت ووايه.

خواجه نياز يو ځل بيا په خندا شو او ويې ويل:

حقيقت ځرګند دی، د هغو خلکو په لاسونو کې زولنې پرتې دي چې د خپلې خپلواکۍ او شرف ساتنه يې غوښته، د چارو واکې، قمچينې، او د ستر زندان کيلي ګانې د خاينانو او رزيلانو په لاسونو کې دي، يو بل حقيقت چې ماته معلوم دی، دا دی چې زه به مرم، له همدې کبله زه په تا لياږې تو کوم.

د استخباراتو رئيس ته يې له سکروټو په ډک نظر وکتل او زياته يې کړه:

او زما د جسد ارزښت به څه وي، روح خو هلته د غرونو په څوکو ځوړند دی، ځکه چې هغه نه مري.

د ورځپاڼې ليکونکي مداخله وکړه، قلم او پاڼه يې په لاس کې او پوښتنه يې وکړه:

روح څه معنا خواجه نيازه؟

خواجه نياز هغه ته وکتل، هغه يې پېژانده:

ايا ته دې په خپله ورځپاڼه کې د بودا او کونفشيوس له تعليماتو څه نه خپروې؟

سمه ده، روح زما د رب له امره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استخباراتو رئیس ځواب ورکړ:
دا د وروسته پاتې خلکو ناسمه فلسفه ده.
نیاز موسکی شو او له ځان سره یې د قرآن کریم دا ایتونه وویل:
قال الأولون من الکافرین: لا یهلکنا إلا الدهر.
رئیس د خواجه نیاز په غوږ کې پټ وویل:
ته باید په دې اعتراف وکړې، چې ټول ملت تا دهوکه کړی.
خواجه نیاز وویل:
ته باید په دې اعتراف وکړې چې د ملت پر ضد دې دسیسه جوړه کړې، هغه ملت چې ماته یې د واکمنۍ امانت راکړ، او د خپلې ازادۍ په لار کې یې په مېړانه جګړه وکړه.
رئیس وویل:
ته باید په غلا کړو مالونو هم اعتراف وکړې.
خواجه نیاز:
زه ځانګړې شتمنۍ نه لرم، ما د زړورو جنګیالیو سره خوراک ځنباک کولو، او د هغوی سره بېدېدم.
رئیس:
ته د یو جنګي مجرم په څېر محاکمه کېږې.
دا زما لپاره شرف دی چې د اشغالګرو د شړلو له پاره جګړه وکړم، زه جنګي مجرم نه، بلکې د الله د لارې مجاهد یم.
قوماندان وویل:
لمړی باید اسلام له منځه یوړل شي، بیا به ټول مقاومت ټوټه ټوټه شي.
ظاهره ده.
د استخباراتو مشر خپلې پاڼې راټولې کړې او ویې ویل:
ستا اعتراف ته اړتیا نه شته، ته د جرم په حال کې د جګړې له میدانه نیول شوی یې.
خواجه نیاز وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ما يې په ټول وياړ سره ثبت کړه چې زه په شا شوی نه يم، او زما هيله همدا وه چې شهيد مړ شم.
جنرال شريف خان مداخله وکړه او د استخباراتو مشر ته يې وويل:
که ته زما د لښکر سرتېری وې، نو د يو خځنده په څېر به مې د پښو لاندې کړی وې.
د استخباراتو مدير ورته په قهرجن نظر وکتل او ويې ويل:
ستا غرغره کول بس نه دي، ته بايد ټوټه ټوټه وشکول شې، او بيا دې غوښه پيشوګانو ته واچول شي.
منصور درغا هم په همدې ځای کې بندي و، هر څه يې په خپلو سترګو وليدل، هغه هم د عذاب او سپکاوي جامونه په سر اړولي وو، خو له مرګه په عجيبه ډول خلاص شوی و، د اګست د مياشتې په يوه شپه کې د استخباراتو د مرکز سره نژدې چاودنه شوې وه، چې وېره يې خپره کړې وه، په زندان کې يې يو غټ سوری جوړ کړی و، او درې بنديانو ته يې د تېښتې فرصت په لاس ورکړی و، منصور درغا په تېښته بريالی شوی و، خو دوه ملګري يې په مرميو ويشتل شوي او وژل شوي وو، زه د منصور درغا سره يو کال وروسته مخ شوم، د کوچي شپون په جامه کې پټ شوی و، جامې يې زړې او خېرنې وې او ځان يې ناپوهه او بېړا ښوده.
په دې سختو ورځو کې، دښمن د خلکو د ژوند، د ښارونو د امنيت او شتمنيو سره لوبې وکړې، هر سپيڅلی او ارزښتناک يې سپک استعمال کړ، منصور درغا وويل:
فکر و کړه، ان تر دې چې دوی ښځينه ځاروي هم له ترکستانه خپل هيواد ته استوي، څو يې په ترکستان کې نسل زيات نه شي.
ما په ترخه او غمجنه لهجه وويل:
بيخي داسې لکه پرون يې چې ښځې په خپل واک کې واخيستې.
تورونه پورې کېدل، دا هم بس وه چې د يو بې ګناه پورې تهمت ونښلي او په ګناه يې ټول خپلوان ونيول شي، ټول هېواد د دې له پاره تر کلکې محاصرې لاندې و، چې خواشينوونکي خبرونه بهر ونه ووځي، په هر ځای تشويش خپور و، وېره خپره وه، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیواد مین سړي نه شول کولای په ازادۍ د خپل اولاد سره خبرې وکړي، دښمن په دې بریالی شو چې د ترکستان نیمایي کورونه خپل جاسوسان کړي، ګاونډي په خپل ګاونډي باور نه شو کولای، د دولت له درې برخو زیات مامورین جاسوسان شول، د پوځ، زده کوونکو، کلیوالو، مامورینو له نیمایي زیاتو خلکو به د عامو استخباراتو له مرکزه د تنخواګانو غوښتنه کوله، ځینو به د دې وېرې له کبله جاسوسي کوله چې زنداني نه شي، یا یې کوم زوی ونه تښتول شي، او یا یې لور ونه نیول شي.

په ځینو خلکو لګیدلي تورونه خورا نا اشنا او حیرانوونکي و، کوم زده کوونکی به په دې دلیل نیول کېده، چې د کودتا نیت لري، کوم مزدور کار به له دې کبله تحقیق ته بوتلل کېده او شکنجه کېده، چې نظریات یې د هیواد امنیت ته زیان رسوي، کوم مفکر به په دې تور بندي کېده چې د کوم بهرني هیواد لپاره کار کوي، ..

او خدایه!

کله چې هم دا ټولې سختۍ را په زړه کوم داسې فکر کوم چې دا هر څه یوازې یو ډاروونکی خوب و، چې د حقیقت هېڅ سیوری نه لري، نو دا څنګه ومنم چې سل زره تنه په بېلا بېلو طریقو وژل کیږي، شا او خوا نیم میلیون نور زندانونو ته اچول کیږي، د دیني علماو سره د مرګ تر بریده ناروا سلوک کیږي، دیني او تاریخي کتابونه شکول کیږي، له مسجدونو زېرمتونونه او نندارځایونه جوړیږي، هغوی نوي ځوانان تر لاسه کړل، څو هغه څه وروښیي چې تاریخ او شخصیت یې له منځه یوسي، او د اشغال په توپان کې ویلې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۸)

آهـ! د قومول ښاره! تا څومره نادودې او بدبختۍ ولیدې، کله چې د قومول د چینایي حاکم دا کوښښ ناکام شو چې امیره تر لاسه کړي، د علماؤ غوغا را وپارېده او پاڅون پیل شو، د قومول نوم په هره ژبه وغورځېد، د دې ښار نوم د انکار او ټینګار یو رمز او راز و، قومول د عزت او انکار یوه بېلګه وه، سړي به دې ښار ته د منسوبېدو له کبله ویاړېدل، ښارونه بیخي د پلرونو په څېر دي، کله د نسب او حسب څښتنان وي، او کله تر ټولو سپک مخلوق وي، او یا د هغه مخلوق په څېر چې هېڅ ارزښت نه لري، خو دې کار دوام ونه کړ، او قومول د غچ سره مخ شو، د امیر ماڼۍ د مرمیو، کېڼې او غچ اخیستلو هدف و، امیره په خپله ماڼۍ کې وه، د کورنۍ ځینې غړي هم ورسره وو، نجمة اللیل هم لا همدلته اوسېده.

حاکمه کورنۍ د تېښتې په حال کې وه، خو چینایي افسر په ماڼۍ برید وکړ، د هغه سره څو تنه سرتیري وو، ماڼۍ ته ایستلې توره ننوت، تر هر څه وړاندې یې په یوې ښکلې پېغلې سترګې ولګېدې، چې یو سور ګلاب یې بویولو او ګلاب یې د اننګیو سره لوبې کولې، نجمة اللیل خندل او افسر ته یې په ذو معنی نظر کتل، مخکې تر دې چې افسر څه ووايي له نجمة اللیل یې واوریدل چې ویل یې:

مورې په زور نه اخستل کېږو، او زه زړور خلک خوښوم، خو له جلادانو او سخت زړو کرکه کوم.

هغه ورته په حیرانتیا وکتل، د هغې د خبرو څه معنی ده؟ خو اول باید دا معلومه شي چې دا څوک ده؟ بې شکه چې ښایسته ده، چې څومره یې ورکتل لېوالتیا یې زیاتېده، خو هغه په هېچا هم باور نه درلود، د الله په ټول مخلوق شکمن و، دا یې خوښول چې هر څه په زور او سختۍ سره تر لاسه کړي، ایا یو جنګیالی نه و؟ بریالی نه و؟ او دې مسلمانانو خو د چینایانو سره واده هم نه کاوه، له همدې کبله یې پاڅون هم وکړ، نجمة اللیل بیا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په زور دې واخستم نو نیکمرغي به ونه وینې، افسر ورنژدې شو، وسله يې ښکته کړه او ویې ویل:
له خبرو دې ښکاري چې ته له یوې لنډې ناستې او یو جام شربته انکار نه کوې؟
اننګي يې ګلابي شول او ویې ویل:
ولې نه بې شرمه؟ خو زه ستا له سړیو شرمېږم.
هغوی به بهر انتظار کړم.
نجمة اللیل په بې زارۍ سره وویل:
ای خدایه! هغه عاشقان به څنګه خوشحاله شي چې د نورو سترګې يې څاري، یا لږ تر لږه په دې خبر وي چې څوک يې انتظار کوي، نه....نه...لرې دې لاړ شي، ښه لرې.
په ماڼۍ کې ځینې خلک شته چې زموږ په کار دي.
زه د ماڼۍ مېرمن یم، او اوس ستا د لاس لاندې یم.
دا خبره يې په داسې حال کې وکړه چې په سترګو يې اشارې هم کولې، افسر خپلو سړیو ته امر وکړ چې خپلو مورچلو ته ستانه شي، هغوی يې په سمدستي تګ قانع کړل او د نجمة الیل خوا ته راغلو.
ډېر ښه، ستا ښایست د سړي عقل وړي.
لاس رانه وړې، لږ وخت راکړه څو خوشبویي ووهم، او شربت راوړم.
نجمة اللیل په منډه ننوتله، امیره، مور يې، خوېندې يې او نور خادمان په سخت تشویش کې وو، شپه د خپل تور مخ سره په قومول راختلې وه، په قومول کې ډار خپور و، نجمة اللیل د کورنۍ غړو ته وویل:
مخکې تر دې چې د چینایانو په لاس بندیان شئ، همدا اوس باید ولاړ شئ، زه به افسر وغولوم او تاسې له شاتنۍ دروازې ووځئ، د غر لور ته ولاړ شئ، چمتو کړې بګۍ په انتظار ده، او سړي به د تېښتې لار ساتي، پام کوئ چې په کومه ښته کې ښکېل نه شئ، که هره ښته رامنځته شوه نو دښمنان به دربانډې راټول کاندي، بیا به یا خپل ژوند له لاسه ورکوئ او یا ابرو، زه چمتو یم چې خپل ځان ستاسې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرباني کړم، وخت بې ځایه مه تېروئ، افسر په کوټه کې دې، زه شربت وروړم ، او تاسې درځئ.
اوښکې راروانې شوې، د خدای پامانۍ توري د افسوس او سلګیو سره ګډ شول، نجمة اللیل راستنه شوه، اوښکې یې لا په اننګیو نښتې وې، خو بیا یې هم مستې چینایي سندرې زمزمه کولې، چې یو څو بیتونه یې له یوې زړې چینایي خادمې زده کړي وو، په لاسونو کې یې د شربت پیالې وې، کله یې چې افسر ته یوه پیاله ورکړه، هغه ورته په شک وکتل، بیا یې پیاله په خپل دروند لاس ووهله، په داسې حال کې چې نجمة اللیل یې ووېروله، او په زړه یې ډار ننوت، د مخ رنګ یې والوت او ویې ویل:
لمړی به زه وڅکم، خو د ماښې په تاریخ کې څوک هم په زهرو نه دی مړ شوی، دلته سړي او ښځې یوازې په تورو جنګیږي.
افسر ورنژدې شو او سینې ته یې جوخته کړه، هغې په نرمۍ سره لرې کړ او ویې ویل:
ډېر څه دې له لاسه ورکړل.
افسر یې په مطلب پوه شو ، سمدستي یې ورته وویلي:
زه پښیمانه یم.
اوس وخت تېر شوی.
څه مطلب؟
نجمة اللیل له الله پرته له بل هېچا نه وېرېږي.
تر هر څه مخکې خو موږ د مینې په تار تړلي یو.
شک مینه وژني چینایي افسره!
حالات ماته د احتیاط لارښوونه کوي، دې ډلو زموږ ډېر سړي ووژل، او زه ستا سره مینه کوم.
نجمة اللیل نېغه ودرېده او په زړورتیا یې وویل:
نن شپه دې نه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجيبه ده! هغه به له ځانه سره يوازې همدا ويل، عجيبه ده!

هغه کولای شول چې له طلايي څڼو يې ونيسي، د خپلو غټو بوټانو لاندې يې واچوي، او چې څه غوارې پرې ويې کړي، خو زړه يې نه منل، هغه د نجمة الليل چلند، ساده او ترنده ښايست، ځرګندو او د پام وړ تورو په غېږه کې اخستی و.

نجمة اليل زه درسره مېنه کوم، تر هغه نه ځم چې تا له ما خپله خوښي نه وي ځرګنده کړې.

په داسې حال کې چې هغه ته يې شا کړې او دننه روانه وه، ويې ويل:

کولای شې د ختې له اړخه پر ما ګولۍ وچلوی، زه تاسې پېژنم، خو زه ځم څو په خپله خونه کې ارام وکړم.

هغه په زاريو وويل:

زما ګرانې امېرې.

هغې وروکتل او په سختو ټکو يې وويل:

زه اميره نه يم، بې چاره امېره خو يوه وړه ماشومه ده، د بېربډلې پيشو په څېر غره ته وتښتېده، په حقيقت کې زه مشره خادمه يم، او که ته غوارې نو بيا زه د ماڼۍ مالکه يم، امير، مېرمن يې او د کورنۍ نورو غړو به زما امر منلو، اوس پوه شوې چې زه څوک يم؟

د هغوی خبرې اوږدې شوې، تر دې چې نجمة الليل ډاډه شوه چې د اميرې کاروان د غره په لور له ماڼۍ په تېښته ووت، پلان يې بريالی شو، د ماڼۍ او د اوسېدونکو په حق کې يې خپله دنده اداء کړه، اوس يې کولای شول چې په ازادۍ سره ولاړه شي.

هر لور غمېزو، له جګړې وورسته د ارزښتونو پايمال کېدو، د حکومت رنګېدو او درېدو، د حاکمانو بدلېدلو، بريالیتوبونو او ماتو، د اوښکو، خولو او عذابونو شپو د هغې ژوند سترې او تنګ کړی و، امير ولاړ او بيا را ستون نه شو، مصطفی مراد حضرت هم ولاړ، او را ستون نه شو، ټوله نړۍ د حيواناتو شوه، بس منډې دي، خولې لګول دي او وينې رودل دي، ناوړه کارونه تر سره کيږي، خو هغې دې هېڅ ته نه کتل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امېرې خونې ته لاړه، هغه خونه چې په ښايسته او ښکلو سامانونو ډکه وه، بيا د اميرې په کټ پرې مخې وغزېده او د نا اميدۍ اوسيلي يې وکښل، سيوري په ديوالونو ګډېدل، او طلايي وړانګو زېړه زېړه ځلا کوله، هغه د سپي په څېر په دروازه کې ولاړ و، ځکه چې نجمة الليل د هغه احساسات او جذبات سوځولي و.

زه رانه‌نو تلای شم؟

دروازه له باندې نه بنده کړه!

او بې له دې چې په ځان پوه شي د هغې د امرونو په عملي کولو يې پيل وکړ، کله چې له دروازې بهر يوازې پاتې شو ډېر حيران شو، په يو وخت کې د خجالت او مستۍ دواړو سره مخ شو، بيا يې دروازه پرانيسته، او د غويي په څېر په غوسه او ورو ورو د ننه روان شو، هغې ورته توجه ونه کړه، هغه يې لاس ونيو خو دې ترې په کراره را کش کړ:

نن شپه دې نه غواړم.

نو چرته لاړ شم؟

مانۍ ستاسو شوه، کولای شې په هره خونه کې دې چې خوښه وې واوسېږې.

او ته ؟

راپاڅېده او ويې ويل:

ته ما ته د يو ختمېدونکي خوند په سترګه ګورې؟

هغه نه پوهېدو چې څه ځواب ورکړي.

سمه ده که غواړې چې واده راسره وکړې ..نو.....

دا مهال غلې شوه خو هغه ورته په حيرانتيا سره وکتل او ويې ويل:

نو څه؟

دا چې ته به زما په دين وې.

ستا دين څه دې؟

اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زه..............

زه هغه چا ته په سپکه سترګه ګورم چې په خپل خالق ایمان نه لري، ته د خپل مشر په وړاندې په ادب او احترام دربږې، لکه چې لمونځ کوې، نو بیا د خپل خالق په وړاندې ولې د اطاعت فرض نه اداء کوې؟

ځان یې په یوه نرمه چوکۍ وغورځاوه او ویې ویل:

زه اسلام نه پېژنم.

باید ویې پېژنې.

که مشران په دې وپوهېږي چې ما دې وروسته پاتې افکارو ته غاړه ایښې ما به له منځه یوسي.

هغوی به څوک خبر کړي؟

هو.....

سمه ده ، بیا راځه نو...

څه؟

چې واده پیل کړو، یو لړ مراسم او کلمې دي چې ته یې باید ووایې، او څو لمړني اصول دي چې باید د ټولو تر مخه پرې وپوهېږې.

زړه یې تنګ شو، داسې ورته ښکاره شوه چې هغه د تېښتې لار ګوري، غوښتنې زیاتوي، او داسې کارونو ته یې راکشوي چې پرون یې ورته هېڅ پاملرنه نه کوله، دا ټولې سترتیاوې د څه لپاره؟ او د څه لپاره تر دې بریده صبر کوي؟ بیا یې ورته د زړه تنګۍ په حالت کې وویل:

کولای شم د ګډې په څېر دې خپل ځای ته را کش کړم، او چې څه مې خوښه وي هغه درباندې وکړم.

هغې په بې پروایۍ سره ولې واشتیل او ویې ویل:

کولای شې.

لاړې یې تېرې کړې او زیاته یې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بیا به ته هغه ښځه ونه وینې چې تاته د مینې شربت درکوي، بیا به زه یوازې او یوازې یو خوندور خوراک یم، لکه د مېږې غوښه، ګوره نو د ښځې او مېږې د غوښې ترمنځ ډېر فرق دی.

په ګونډو شو او ویې ویل:

ته نا اشنا ښځه یې، ما په دې ښار کې په سلګونو کسانو د اعدام حکم وکړ، په څو شپېو کې اعدام شول، سړي او ښځې ووژل شول، خو زه په دې حیران یم چې زه په تا هېڅ نه شم کولای.

نجمة اللیل په خندا شوه او ویې ویل:

زه خو په همدې خوشحاله یم کنه.

ولې؟

ځکه چې ته له یو ځیروونکي حیوان څخه ورو ورو په انسان بدلېږې.

چغه یې کړه:

مطلب دې څه دې؟

ظالمان او قاتلان انسانان نه دي، ستا ماضي د یو لارې شکوونکي د ماضي په څېر بریښي، زه یو زړور انسان غواړم، یو انسان...ایا د انسان د کلمې په معنی پوهېږې؟ د هغه په نظر انسان هغه بني ادم مخلوق دی چې بریتونه لري، کولای شي وجنګیږي او بریمن شي، چې څه غواړي تر سره یې کړي، مړي وکړي او غنیمتونه تر لاسه کړي، هغه شعارونه او چغې پورته کړي چې د هغه مشران او رئیسان یې پورته کوي، د هر رنګ، عقیدې او جنس د ښځو خوندونه واخلي، خو دا ښځه بیا له هغه څه غواړي.

په داسې حال کې چې نجمة اللیل ورته رانژدې کېده، په لاس کې یې د شربت یو جام و، ورته یې وویل:

رښتیا هم چې د انسان او حیوان تر منځ توپیر شته.

هغه وویل:

ټول خلک پوهېږي چې زه څوک یم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک خو یا له تا وېره لري او یا ستا د لښکر غړي دي، له همدې امله ته هر هغه څه اورې چې ستا غرور یې مني.

له غوښنو ولو یې کلکه ونیوله او ورته یې وویل:

له ما څه غواړې؟

دا چې زموږ ملاقات د یوې عقیدې تر سیوري لاندې وي، نه هغه ناسمه عقیده چې ځواکمن خلک یې بې وزلو ته له ماتې ورکولو وروسته تاکي.

نجمة اللیل! زه له تا سره مینه لرم.

خو موږ به تر هغه وخته نه یو ځای کیږو څو پورې چې تا د دې کلمې شاهدي نه وي ورکړې چې لا إلله إلا الله وأن محمدا رسول الله صلی الله علیه وسلم

له دې کبله چې زه درسره مینه کوم، څه چې وایې زه یې تر سره کوم.

کلمه طیبه ووایه.

کله چې هغه کلمه طیبه وویله، بیا ورته نجمة اللیل وویل:

ته باید خپل پلویان له وژنو او لوټماری، هم منعه کړې.

دا کار به هم وکړم.

زه پوهېږم چې تاسې وږې، او ستړي یاست، خوراک، ښځو او امنیت ته اړتیا لرئ، نو بیا په انصاف ولاړو قوانینو عمل وکړئ، ستاسې برې باید د دې سبب نه شي چې له تاسې د وحشیانو یوه ډله جوړه کړي، د وحشیانو چار چلند انسان کرکې او تشدد ته راکشوي، او بیا په کې د نېکمرغۍ هېڅ بوی نه شي موندل کېدای.

هغه وویل:

ستا خبرو ځومره حیران کړی یم.

بیا نو ته د احترام وړ یې، د ماښی سره نژدې یو فقیه عالم دی چې مولوي عبد الرازق نومیږي، ولاړ شه هغه راوله، د هغه سره باید دوه شاهدان هم وي، او موږ به واده وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یو څه په تشویش کې شو، یو خوا بل خوا یې کتل او نه پوهېده چې څه وکړي، نجمة اللیل له خپله کټه پاڅېده، خپله توره چپنه یې واغوسته او ویې ویل:
ته انتظار وکړه، زه یې سمدستي راولم.
په ګوته یې اشاره وکړه او ویې ویل:
پام کوه ګوره، د تېښتې معنی دا ده چې زه به له ښاره د وینو حمام جوړ کړم.
په رټونکي نظر یې ور وکتل او ویې ویل:
غلی کېنه.

***

او څو ورځې وروسته د قومول خلکو نجمة اللیل ولیده چې په یوه پرتمینه بګۍ کې سپره ده او دوه اسونه یې راکشو، څنګ کې یې یو پوځي افسر روان و، او د لارې په اوږدو کې ورته خلکو مخه پرېښوده، چینایي قوماندان ورسره واده کړی و، خو تر څو چې د واده راز نه و څرګند شوی، په قومول کې د هغې واده دومره اسانه کار نه و، تر هغه وخته خلکو رټله، ټیت ذاتې او بد ذاتې یې بلله، خو که چرته چینایي قوماندان په زور بیولې وه نو بیا به یې ورته عذرونه لټول، خو لکه څرنګه چې ښکاره کېده هغې په اشغالګرو ځان خرڅ کړی و، او خپل کوژدن مصطفی مراد حضرت ته یې انکار کړی و، د بریالیو د ډلې سره تللې وه، له همدې کبله په هر ځای کې د هغې په اړه خبرې کېدې، او هېچا هم د هغه لامل پوښتنه ونه کړه چې له کبله یې د څه مودې لپاره په قومول کې وژنې ودرېدې، د نجمة اللیل رنګ خرابه او هغه نوره هم د اضطراب ښکار شوه، هغه به د چینایانو په ډلو کې راڅرګندېده او د احترام په سترګه ورته کتل کېدل، همدا علت و چې د ولایت ښځې او نارینه یې په حیرانتیا کې اچولي و.
کله چې انقلابیان په لمړي ځل بریالي شول، او د خواجه نیاز په مشرۍ یې په کاشغر کې حکومت جوړ کړ، چینایان یې د ګواښ سره مخ کړل، چینایي ځواکونو هم په تېښته پیل وکړ، او بیلا بیلو ځایونو ته وتښتېدل، د دې قوماندان نصیب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارومچي ته تېښته لېکل شوې وه، نجمة الليل يې هم له ځانه سره بوتله، د قومول خلکو له تنګ ورانديې د همده سره د تېښتې په حال کې ليدلې وه، خلکو پرې لعنتونه ويل، ښځو پرې لاړې تو کولې، ځينې کوچنيان تر دې بريده زړور شول چې په ډبرو يې وويشتله، او بيا له وېرې راستانه شول.

کله چې د حاکم او روسانو تر منځ تړون وشو، نو روسي الوتکې، ټانکونه او زغروال موټر را ورسېدل، وضعيت بدل شو، پاڅونوال په شا شول، ولسمشر او نور لوړ پوړي مشران ونيول شول، او په دې توګه په ختيځ ترکستان کې اسلامي ځمکه او اسلامي ملت اشغال شو.

يوه شپه همدغه قوماندان وليدل چې نجمة الليل ژاړي.

نجمة الليل! ولې ژاړې؟

خلک وژل کيږي، زه جګړه بده ګڼم او وېرېږم.

هغه په خواشينۍ وويل:

زه څه وکړم، دوی له موږ وژنې کوي، او موږ له دوی څخه.

د هغې چې له سترګو اوښکې بهېدې وويل:

ما غوښتل چې ته خپل ښار ته ولاړ شې او زه هم درسره يم، داسې ژوند وکړو لکه نور انسان چې په نېکمرغۍ او ډاډ سره ژوند کوي.

هغه سمدستي پوه شو چې نجمة الليل په غير مستقيمه توګه د چينايانو له خوا د هغې د هيواد په اشغال نيوکه لري، او بې له کوم زړه سوي او عاطفې يې ورته وويل:

ګرانې، دا د لويانو چارې دي، زما په خبر يو چا ته په دې اړه بحث نه ښايي، لښکر د مشرانو په امر خوځيږي، هر چېرې همداسې وي، سياست هېڅ اخلاق نه لري، که په حقه و او که په باطل.

بيا يې د خپل لاسي چيلم دود وويست، په داسې حال کې چې لوړی يې په مخ ورپورته شو وويل:

ډېر زيات ستړی يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېبه غلی شو او بیا یې وویل:
غواړې قومول ته ولاړه شې؟ هلته اوس ارامي ده، انقلابیان هم غلي شوي دي، او مونږ پرې یو ځل بیا واکمن شو.
هغې په غمژن انداز وویل:
زه خو غواړم په هغه ځمکه کې وګرځم چې ما په کې هېڅوک نه پېژني.
هغه یې په مخ لاس راکش کړ او ورته یې وویل:
پوهېږم چې په تا څه تېرېږي.
لاس دې له ما لېرې کړه.
ولې؟
داسې احساسوم چې لاسونه دې د سرېو او ښځو په وینو لړلي دي.
په حیرانتیا یې وویل:
زه په جګړه کې د ړوند په څېر یم، څه وکړو؟ د دې له پاره پیدا شوي یو چې خوراک وکړو، او د دې له پاره چې خوراک وکړو، باید وجنګېږو، ووژل شو، او ته زما یې، زه ستا سره مینه کوم نجمة اللیل!
بیا لږه شېبه غلی شو، او ویې ویل:
ته ماته څنګه ګورې؟
هغې ورته په هیجان سره وویل:
ته بندي یې، ناروغ یې، په هر حال، په عذاب اخته انسان یې.
هغه مسک شو او بیا یې وویل:
زه په همدې خوشحاله یم.
په حیرانتیا یې وکتل:
دا څنګه؟
ځکه چې ته ماته د دښمن په سترګه نه ګورې.
خو هغې سمدستي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې شکه ته دښمن يې.
سترګې يې خړې شوې او پټ يې وويل:
زما نصيب همدا دی.
نجمة الليل په خندا شوه، ورنژدې شوه او ورته يې وويل:
که زه له تا جدايي وغواړم نو څنګه به وي؟
هغه حيران شو او  چغه کړه:
څه ؟
مطلب طلاق.
ولې؟
ځکه چې ته مسلمان نه يې.
ايا هېر دې شول، ما هر هغه څه وکړل چې هغه عالم وغوښتل.
خو ته د کفارو په صف کې جنګېږې.
زه له دې پرته په نور هېڅ نه پوهېږم چې زه په پوځ کې يو سرتېری يم.
بيا يې چغه کړه، ديوال يې په سوک وواهه او ويې ويل:
پوځيان الله نه پېژني.
نو موږ ولې کوښښ نه کوو چې هغه وپېژنو؟
په ملنډو يې ولي وغورځول او ويې ويل:
نو څه ارزښت لري؟
دا چې د نېکمرغۍ لار وپېژنو.
آهـ، کافران ميليونونو ته رسيږي، هغوی له مسلمانانو زيات دي، په دې پوهه شه ګوره، که نه نو موږ به بې ګټې ځوريږو.
خولې يې وچې کړې او ويې ويل:
که زه ولاړ شم...
لا يې خبره نه وه پوره کړې چې نجمة الليل ورنژدې شوه او ورته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ستا سره مينه کوم، خو که ته زما د ملت د يو بچي په وژلو کې هم سبب شوې نو زه ستا سره يوه شيبه هم نه پاتې کېږم.
ګرانې ته ارامه شه، زما د اوسني جنګ سره هېڅ کار نه شته، زه اوس د اکمالاتي موادو په څار مقرر يم، اوس کار د چينايانو په لاس کې نه دی، روسانو د هر څه واګې په لاس کې اخيستې دي.
بيا په ملنډو سره په خبرو کې بلې خوا ته ولاړ او ويې ويل:
نو دلته خو ډېر داسې ترکستانيان هم شته چې ځانونه يې په شيطان خرڅ کړي دي، دوی هم وژنې کوي، او د خپلو هيوادوالو په حق کې تر ټولو ناوړه جرايم تر سره کوي، ته نو نه يې خبره؟
هغې خپلې سترګې په بالښت کې خښې کړې او په ژړا شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۹)

زما د ډول ډول میوو او کښتونو شنې او له زیاتو معادنو ډکې سیمې په نه زغملو وړ دوزخ بدلې شوې، انسان به په داسې ځمکه څنګه ژوند وکړي چې مرګ پکې کمین نیولی وي، ډار پکې خپور وي، او پردي یرغلګر یې په تقدیر لوبې کوي، څومره بده ده چې ته په خپل ګران هیواد کې د پردي په توګه ژوند وکړې، په حقیقت کې زه پردی نه وم، بلکې داسې احساس مې کاوه چې ترکستان نا اشنا دی، شړل شوی، او د اوبو په سر د زګ په شان روان دی، ژوول شوی دی، ټول غصب شوی، په وژنو او زندانونو ډک دی، او په دې هر څه کې عجیبه لا دا چې زه لا ژوندی یم، خو دا د الله اراده وه.
ډېر کم مسجدونه پاتې دي، ډېر کم سپین ږیري او عمر خوړلي پاتې دي، چې په پټه مسجدونو ته ځي، په اوښلنو سترګو او ټیټ اواز لمونځونه کوي، او د جاسوسانو سترګې یې څاري، دوی ته به زیان نه رسیږي، خو د هغوی زامن او کورنۍ همیشه د غچ هدف دي، چې مسجدونو ته ګورو نو اشغالګرو نیولي، له هغې یې سینماوې یا د پوځ د اوسیدو ځایونه او دفترونه جوړ کړي، دیوالونو ته یې ګورو او پټ پټ ژاړو، که څوک په ښکاره وژاړي نو حتمي مرګ ته ځان ورکوي، په همداسې حالاتو کې زه له یو ښاره بل ته تلم، او هر ځای مې د ځان لپاره نوی نوم غوره کاوه.
آهـ ......دا پخواني یادونه دي، هغه نومونه مې هم اوس نه دي یاد چې ځان مې پرې یاد کړي دی، خو په اورومچي کې دې پایلې ته ورسېدم چې یوازې د نوم بدلول هم ګټه نه کوي، جوالیتوب مې پیل کړ، د رخت یوه درنده بوجۍ مې په شا کړه، دوه وسپنیز کنجکي مې پیدا کړل، ږیره او بریتونه مې همداسې پریښول چې څومره اړدیږي، پښې مې لوڅې اوچاودیدلې وې، لکه چې لسګونه کاله یې په ختو کې تېر کړي وي، چوپتیا مې غوره کړه، که چرته معقولې او په وزن برابرې خبرې وکړې، نو الفاظ به ستا شیطاني وکړي، او شخصیت به دې راڅرګند کړي، شپه به مې په یوه خیرنه او وړه خونه کې تېروله، د الله عبادت به مې کاوه او داسې فکر مې کاوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملايکې مې تودې اوښکې پاکوې، زموږ تمدن له منځه ځي او ويلي کيږي، لسګونه زره روسان او چينايان راځي، دغه راز ښځې هم راتلې څو د ترکستانيانو او چينايانو تر منځ ودونه وشي، او ګډ شي.
ما وويل چې ما جواليتوب کاوه، ما به په اوږو د خپل هيواد هر ډول غوره توکي بارول او په غټو غټو موټرو او اورګاډو کې مې ايښودل، څو د يرغلګرو خاور ته انتقال کړای شي، هر څه باريدل، معادن، ميوې، څاروي او فصلونه، د يرغلګرو د مشرانو د راټوليدو ځايونه معلوم وو، هلته به ګډيدل، شراب به يې څښل، شپې به يې سبا کولې او سندرې به يې ويلې، او ما به عجيبه عجيبه حالات ليدل، هغه خاينان څومره زيات وو، چې خپل ضميرونه او دين يې خرڅ کړل، او د يرغلګرو غوښتنو او ارادو ته تسليم شول، په دې توګه ورته دا شونې شوه چې ځينې مهم منصبونه تر لاسه کړي، او ډېر ژر به ترې يو نوی ډول انسان جوړ شو، کله به مې چې د هغوی مخونو ته وکتل داسې به راته وبريښېده چې هيڅکله هغوی ترکستانيان نه وو، او د هغوی د خوراک، څښاک، لباس، حتی د هغوی رويه او طريقه او هر څه يې بدلون موندلی و، هغوی په هر څه کې د يرغلګرو د مشرانو پيروي کوله، خبرې يې د دوښمن په ژبه کولې، او کله به مې چې د هيواد شکل ته وکتل چې رعب او وحشت پکې خپور دی، پوښتنه به مې کوله چې مشرقي ترکستان هغه ښکلې، زړه راښکوونکې او سپيڅلې ناوې به څنګه بيا د سپيڅلتيا او ښايست څښتنه شي.
په زړه کې مې مايوسي ګرځېده، او زه به په ځمکه غمژن ګرځېدم، هغه پنډونه به راباندې دړانده وو، چې ما به موټرو يا کښتيو ته رسول، خو په همدې ګرځنده ژوند کې مې هغه يوه ورځ وليده......بې سيکه حيران او سست پست شوم، په ځان پوه نه شوم او چغه مې کړه:
نجمة الليل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ګاډۍ ودرېده چې یو چینایي چلوله، د هغې زبږ مخ ته مې وکتل، ځان ته مې پام شو، مخ مې بل خوا واړولو، د تېښتې نیت مې وکړ، خو هغې خپله ګاډۍ راوالوزوله، او زه یې ونیولم، په رډو او وازو سترګو یې ماته وکتل او ویې ویل:
غواړم زما سره ماڼۍ ته ولاړ شې....
ولړزېده او په زور یې دومره وویل:
زما سره راځه، مشر یو کاریګر سړي ته اړتیا لري چې زموږ خدمت وکړي، هغه له اورومچي بهر دی، نه شته، باید راشي.
او مخکې له دې چې زه له ناڅاپي حیرانتیا راببیدار شم، هغه ښکلې ګاډۍ روانه شوه، او مخکې تر دې چې روانه شي، همدومره مې واورېدل چې د ماڼۍ ادرس یې په لنډو ټکو کې راکړ، زه بېرته خپلې بوینې خونې ته راستون شوم، دعاوې مې کولې او ژړېدم، ډېر ځله ماته مرګ تر ژونده ډېر غوره او ارام راکوونکی ښکارېده، مړي په هیڅ شي نه پوهیږي، او کله به مې زړه په دې باور ډک و، چې اسلام باید بریالی شي، او ازادي خامخا راځي، زه د مایوسۍ او هیلې تر منځ ځوړند وم، کله به مې مرګ ته زړه کېده او کله به د ژوند پورې نښتی وم، زه هغه غوځ غوځ، رنځېدلی او ورک شوی انسان وم، چې لار ورته نه وي معلومه، یا داسې پناه ګاه چې پکې ارام شي.
د مشر ماڼۍ پیدا کول ګران کار نه و، ماڼۍ په یو ارام او ګوښه ځای کې ده، لږ ساتونکي لري، خو ما نه شول کولای په دې زړو او خیرنو کالیو کې لاړ شم، د جوالي کالي مې و ایستل، او داسې څه مې واغوستل چې د قومول د حاکم د ماڼۍ د پخواني ساتونکي سره لایق و، هغه حاکم چې حکومت یې پای ته ورسید، او کورنۍ یې سره وپاشل شوه.
هیڅا مې مخه ونه نیوه، د ماڼۍ ساتونکي راته وکتل او ویې ویل:
ته د هغې لیدو ته راغلی یې؟
سر مې په ډار وښوځولو، د خدای شکر مې وکیښ چې زما د نوم پوښتنه یې ونه کړه، که څه هم زما نوم به داسې څه د پام وړ خطر نه و پېښ کړی، ځکه دوښمن چې کله ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ځای شي، او واک يې کلک شي، بيا يې له زړه ويره ځي، او په لړ بې احترامۍ هم بسنه کوي، خو دا زما ښه بخت و، چې کور خالي و.

ای خدايه! ولې راغلم او زه به ورته څه وايم؟ زه به اوس د هغې ښځې خدمت کوم چې د پرمختللې ټولنې له قدرمنو شوه؟ او پرون زما کوژدن شوې مېرمن وه، دا نو څه معنی لري چې څه به کوم؟ هغه په اسمان کې ده او زه په چکړو کې غورځېدلی يم، او مرګ د ټولو پخوانيو پاڅون کوونکو په شان زما پسې هم دی، خو د تجسس مينې روان کړم، هغه به په سرو وريښمو پوښل شوې تخت کېناسته، تور کالي به يې اغوستل چې ښکلا به يې نوره هم ورزياته کړې وه، خو سره له دې چې نجمة الليل بدله شوې وه، بيا هم خفه، خو ښکلې او له وقار ډکه ښکارېده، په هغې کې مې د پيغلتوب مستي او د ماشومتوب هوسونه نه ليدل، د يوې ښايسته کونډې په شان ښکارېده.

له ډېره وخته مې هيله وه تا وګورم.

ځواب مې ورنه کړ، يوازې ورته کتل مې.

ما فکر کاوه ته په جګړه کې وژل شوی يې.

غلی شوم، که څه هم غوښتل مې وغږېږم خو ونه توانيدم.

مصطفی مراد حضرته! مايوسي په انسان هر څه کوي.

زما د ځواب منتظره شوه، خو بې ګټې بيا له خپله ځايه پورته شوه، ويې ويل:

زه د هغو نارينه وو ډېر زيات قدر کوم چې په جګړه کې وژل شوي دي. ما هيله درلوده چې هيڅوک د دار په لکړو، يا زندانونو کې مړ نه شي، بايد جنګيالي په ډګر کې مړه شي، او يرغلګرو ته ځان ونه سپاري.

زه په ډېر جرئت ورنژدې شوم، او ورته مې وويل:

تا ولې ځان ژوندی وسپاره نجمة الليل؟

له درده ډکه خندا يې وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخر دې خبرې پيل کړي، ښه ....زه د خپلو کارونو لپاره مبرر نه ګورم، کله چې ماڼۍ د دوښمن لاس ته ورغله، ما يې د ميشتو خلکو په ساتلو فکر پيل کړ، او دا پرېکړه مې هم وکړه چې د هر يرغلګر سپرلۍ بايد ونه ګرځم، له همدې امله مې يو سړی غوره کړ او واده مې ورسره وکړ.

په حيرانتيا مې وپوښتله:

نو واده دې څنګه وکړ؟

لکه چې زرګونه خلک واده کوي، مسلمان شو، او زه يې په نکاح کړم.

په تاسف سره يې وويل:

هر څه ډېر په سادګۍ تېر شول، کله يې چې زه ونيولم، ما شرطونه کېښول، او هغه ومنل، پوهېږم چې د هغه اسلام ظاهري بڼه لري، هيڅ زور پکې نه شته، په دې هم ښه پوهېږم چې زه هغه ته هم دوکه ورکوم، او ځان ته هم، خو زه....څه به ووايم، زه دې ته چمتو نه وم چې ليوان مې وخيري، زه يې واده کړم، ويې ساتلم او اوس هم راسره مينه لري.

ما بيا په څه حيرانتيا وپوښتله:

نو ته د داسې سړي سره څنګه ژوند کوې چې مينه ورسره نه لرې؟

په مسخرو يې ولې واشتيېل او ويې ويل:

لکه چې زما هيواد ترکستان د اشغال تر پښولاندې ژوند کوي، لکه ته چې په هغه ارومچې کې ژوند کوې چې دوښمن پرې حاکم دی، دلته هر څه بې روحه روان دي.

زه له ځانه سره وبنګېدم (بې روحه).

ويې ويل:

هو موږ د شيانو مينه له لاسه ورکړه، او په همدې سبب، خورو، څښو، ويده کېږو او بې روحه روان يو، او داسې ښوځېږو لکه چې له موم جوړ شوي بوتان يو او بل ته اړتيا لرو چې روح راکې پو کړي، لکه هغه ښايسته جاپاني د لوبو شيان چې ګرځي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوازونه کاږي خو له لرګي یا وسپنې نه جوړ وي، حقیقي ژوند نه شته، موږ خاندو، ژاړو او کار کوو، لکه د تمثیلي پارچې ممثلین، پوه شوې مصطفی مراد حضرته؟
لاسونه یې په عصابانیت وپړکول، د خادمانو مشره راغله، ماته یې اشاره وکړه، هغې ته یې وویل:
غوارم چې دا ښه کالي واغوندي، او داسې شي چې د صیب د لیدو وړ وي.
اوس زما نوم تورسون و، زه د قوماندان په ماڼۍ کې ګرځېدم، لکه په خوب کې چې ګرځم، د ماڼۍ مشره ښایسته ترکستانۍ ښځه ده، داسې ښکاري چې زما په لیدلو یو څه خوشحاله شوه، د خادمانو په ښکلي خونه کې د څه وخت لپاره په لومړي ځل ارام اوده شوم، ملا مې لا هم د رد کاوه، خو لمبا مې د ملا درد یو څه کم کړ، دا چې ږیره او بریتونه مې وخریبل، او په اینه کې مې وکتل، ځواني راباندې راغله، یا الله! د سترګو په وړاندې مې اوس هم د وحشي غرونو چغې وې، سره له دې چې ورنه راغلی وم، او اوس د نجمة اللیل په اړه فکر کوم، زما احساس د هغې په اړه د هغه سړي د احساس په څېر و، چې ښځه یې په زور ځنې اخیستل شوې وي، نجمة اللیل هغه ښار ته ورته وه چې دوښمن اشغال کړی وي، د مینې معنی اوس په وطني حماقت واوښته، اوهووو ،زه خاندم، زما فکر اوس د پخوا په شان نه دی.
سبا یې په خپله ښایسته ګاډۍ کې داسې یو ځای ته بوتلم چې ونې، میوې او ګلان راڅخه راتاو وو، خو ټول د اشغالګرو وو، ټولو نجمة اللیل پېژندله، احترام ته یې راولاړ شول، لاره یې ورته خلاصه کړه، له ګاډۍ ښکته شوو، له ځوړندو څانګو، ګلانو او ګڼو میوو په منځ کې تېر شوو، هغه مخکې او زه پسې غلی شاته روان وم، ویې ویل:
هغوی زما په اړه وایي شرف او پاکیزګي مې پرېښې.
یوه لښته یې راماته کړه، لمر ته یې وکتل چې د هغې په زیړ مخ یې وړانګې راخپرې وې، او پټ یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قومول د خلکو په منځ کې درواغ په اسانۍ خپرېږي، ولې یې زما کیسې ته دومره پاملرنه وکړه؟ زه د امیر په ماڼۍ کې له یوې عادي خدمتګارۍ پرته بل څه نه وم.
زما لاس یې ونیو، او ویې ویل:
ایا تاته مې د واده ونه ویل خو تا رد کړه؟
هغه د هجرت وخت و، او مونږ د مرګ په مورګو ولاړ وو.
ترخه خندا یې وکړه، او زیاته یې کړه:
مونږ د مرګ په مورګو نه وو، ایا پوهیږې اشغالګر حکومت څومره خلک اعدام کړل؟
هغوی له سل زرو هم زیات دي.
ما په حیرانتیا وویل:
ته اوس هم د پاڅون کوونکو او شهیدانو په اړه فکر کوې؟
په سپک نظر یې راوکتل، او ویې ویل:
ته څه ګومان کوئ؟
ستا په شان یو څوک باید داسې کارونو کې فکر ونه کړي....
ایا زه ستا په څېر ترکستانۍ مسلمانه نه یم؟
یو ځل بیا چوپتیا خپره شوه، هوا یخه وه، لمر په لویدو و، عجیبه غمونه یې تر شا پریښودل، ځینې پخوانۍ منارې د تاریخي اثارو په شان ملاستې وې، او ګومبزې هغې کشپ ته ورته وې چې ما په یو ژوبڼ کې لیدلې وه، ودانۍ داسې راکږې وې لکه چې هیڅ اهمیت نه لري، نجمة اللیل یو سور ګلاب له لاسه وغورځاوه او ویې ویل:
ما د هغه په وژلو کې هم فکر وکړ.
د چا؟
زما د میړه ضابط.
ولې؟
فکر کوم دا زما دنده ده، خو زه له تا پوښتنه کوم چې مړ یې کړم که د ځان تابع یې کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ولي واشتييل او پوښتننه مې وکړه:
د هغه د تابع کولو څه ارزښت دی؟ وژل، شکنجه او زیاتی په هر ځای کی دی.
خو زه له تا پوښتنه کوم چې د وژلو ارزښت یې څه دی؟
دا پخوانی غچ دی.
خو که زه یې د ځان تابع کړم دې کې ډېره ګټه کوم.
شخ ودریدم اوومې ویل:
ښاغلې! د دوښمن ټول ژوند جعلي او درواغ دي.
په حیرانتیا یې راوکتل او ویې ویل:
ته دا فکر کوې؟ معنی دا چې ما ځان ته په یوې ماتې ګوډې فلسفې دوکه ورکړې، څو ځان له شکنجو او ورکېدو وژغورم، او ژوندی پاتې شم.......اها. ته دا ګومان کوې؟
سر مې ځوړند کړ ومې ویل:
له همدې کبله د قومول خلک تاته په سپکه سترګه ګوري.
له سترګو یې اوښکې راوڅڅېدې، رانژدې شوه، او په زوره زوره یې وجړقولم، ویې ویل:
دوی نه پوهیږي، باید ما د امیر کورنۍ ژغورلې وای، خو ما باید د دې قیمت هم ورکړی وای، موږ ټول ژوند خوښوو، او مرګ بد ګڼو.
بیا یې اوښکې پاکې کړې، او ویې ویل:
او ته مصطفی مراد حضرته! ته په ما څه ګومان لرې؟
تورسون، زما نوم تورسون دی، پخوانی نوم باید هیر کړو.
ستا څه رایه ده؟
زه یې په ښکاره وایم، د غرونو په سرونو د جنګیالیو سره وچه ډوډۍ خوړل، زما په وړاندې په یوې سترې او دنګې ماڼۍ کې د سلو حلالیدونکو ګډو نه غوره دي.
نری باران پیل شو، یخني نوره هم زیاته شوه، موږ د باران نرۍ نرۍ ټکا اورېده، بوټان مې دومره تنګ وو، چې پښه مې پکې نښتې وه، او د کالیو غاړې زما مرۍ زور کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، سره له دې چې پکې ګرم وم، خو بیا هم پکې مرګ ته نژدې وم، دا هغه احساس و، چې له اوږدې مودې مې له لاسه ورکړی و.

مصطفی.

خادم دې تورسون.

چرته ځې؟

هلته د غونډیو سرونو ته چرته چې ستر سړي اوسي.

په دې به وروسته او په ارامه فکر وکړو.

کله چې د ماښام ډوډۍ له سفره راستون شو، زه لږ وخت پټ شوم، خو هغه مې لید چې په ماښ کې یې غلي غلي خو په مینه او شوق نجمة اللیل کتله، په هماغه پخوانیو تاتاري سترګو، هغه یې په خپله غیږ کې وځېښله، او په ښکلولو یې پیل وکړ، له ځان سره یې ګرځوله، هغې ته یې خندا کوله، سترګې یې اخوا دیخوا اړولې، کېدای شي له دې وېرېده چې چرته زما سترګې پرې ونه لګېږي.

ته زما په راتلو خوشحاله یې؟

بې له دې چې هغه ته وګوري وویل:

ډېره زیاته، خو د استخباراتو خلک اوس هم په سلګونو خلک وژني.

دا بله خبره ده، اوس ولې په دې کې سوچ کوې؟ زما پکې هیڅ زور نه رسیږي.

ولې ته په ژوند کې کوم دریځ نه لرې؟

یو محدود دریځ ګرانې.

هغه څه دی؟

ډېر کرت مې درته ویلي، زما دریځ دا دی چې خپله دنده تر سره کړم.

ستا د دندې او ستا د مسئولیت د تر سره کولو تر منځ ستر توپیر شته.

زما دنده زما مسئولیت دی.

زه تا یو انسان لیدل غواړم.

نجمة اللیل! بیا به هغه پخوانۍ لانجې ته ځو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقي انسان هغه دی چې د شکنجه کېدونکو او ځورېدونکو غم احساس کړي.
ناڅاپه او په لیونتوب یې وویل:
ته باید وپوهېږې که دغو ځورېدونکو غاړو ته رسې ورخوشې کړای شوه، دوی به زما او حتی ستا ژوند ته هم د پای ټکی کېږدي.
هغې په نا اشنا ارامۍ وویل:
دا مهمه نه ده، مهمه دا ده چې ته خپل مسئولیت اداء کړې.
په جذباتي ډول یې چغه کړه:
او زه څوک یم؟ په دې ستر لښکر کې یوازې یو فرد، په یوه ستره اله کې وړوکی سپر، ایا ته له سفره راستون شوي میړه سره داسې مخ کیږې؟ زموږ پخوانۍ مینه څه شوه؟ راځه.
خپلې ځانګړې خونې ته لاړل، دا ناولې ما هم لوبوي، او هغه هم، که د هغې سره څه موده نور هم و اوسیدم، نو زما ټول فکرونه به په زهرو ولړي، حقیقي سپیڅلتیا دلته په ښارونو کې نه ده، بلکې هلته د غرونو په لمنو کې ده، چرته چې خپلواک سړي اوسیږي، په اوږو یې وسلې دي، څومره چې ژر کیږي باید ولاړ شم.
ماسپښین د ډوډۍ پر مهال راته ضابط ژور نظر وکړ، او ویې پوښتل:
دا هغه نوی خادم دی؟
هو دا وړتیا لري، او په خپل کار کې مخلص دی.
ته له کومې ولسوالۍ یې؟
زما نوم تورسون دی، د التای له ولسوالۍ یم.
دسترخوان په ښو خوراکونو ډک و، خو بهر ملت د ونو پاڼې خوړلې، بې وزله ماشومانو یو بل ته په وازو سترګو کتل، هغو شیانو ته یې کتل چې په ګاډیو کې باریدل، یا د یرغلګرو کورونو ته وړل کېدل.
په داسې حال کې چې پر دسترخوان ایښو چړو ته مې کتل سر مې وګرځېد.
تورسونه! کولای شې لاړ شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره يې په ارامه وکړه، او زه پخلنځي ته راستون شوم، د اوښ په شان مې ځمکه په پښو وهله، داسې چې هيڅ ارامي نه پېژني، کرکې مې زړه خوړ، لکه چې اور لړګي خوري، د دين په وړاندې د هغوی جګړې او د دې ضابط عقايدو زه هڅولم چې هر حماقت ته لاس واچوم، دا کار خاص زما نه و، خو دا د الله په لار کې غچ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۰)

زه د یو دوښمن په کور کې اوسم، دا یوازې دوښمن نه دی، بلکې یو پورورۍ هم دی، او هغه څوک یې نیولی چې ما ورسره مینه کوله. داسې فکر کوم که دلته یو کال نور هم پاتې شم؛ نو له ما به یوه اله جوړه شي، زه به هم د نجمة اللیل په څیر شم، ارام ژوند، پوره خوراک او لباس، ارامي او ښایسته ژوند دا ټول هغه څه دي چې په انسان کې د پاڅون، مقابلې او جهاد روح وژني، بله ستونزه دا چې زه د نجمة اللیل په سترګو کې نا اشنا ګرم او تېز شوق وینم، زه د هغې له سترګو شرمېدم، او ډېر ځله به ورځخه تښتېدم، ډېرې شپې به مې د هغې په اړه فکر هم کاوه، غیرت به مې پرې کاوه، په دې کور کې شیطانان، هوسونه او تېروتنې ژوند کوي.

پرون په دې کور کې د ګډا یو مجلس جوړ شو، ټول د یو بل سره ګډوډ شول، نجمة اللیل د مجلس ځلانده ستوری و، سترګې ورپسې وې، هر افسر د هغې سره د نڅا هیله من و، مېړه یې دومره شراب وڅښل چې ښه نشه شو، خو په سهار کې یې د یو مهم کار لپاره راوغوښت، هغه راووت، له نشې ځنګېدو، غټ کوټ یې اغوستی و، کار عادي ښکارېده، خو هغه زما خونې ته راغله، د ټولې شپې ویښې له امله یې د مخ زیړوالی نور هم زیات شوی و، لاسونه یې رانه تاو کړل، او شونډې یې رانژدې کړې....

باداري، زه باید سبانارې چمتو کړم.

زه خوراک ته اشتها نه لرم، او زه ستا باداره نه یم.

ټوله مانۍ سترګې سترګې ده.

نور صبر نه شم کولای.

څه معنی؟

نه پوهېږې؟

زه خیانت نه کوم.

د خاین سره خیانت کول تېروتنه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یو مسلمان یم، الله پېژنم.

پوښتنه راسره پیدا شوه، چې ایا له مېړه یې غچ اخیست، که پر ما یې شفقت کاوه، او که دا پخوانۍ مینه ده چې بیا په جوش راغله، او باغي شوه، زما لاسونه یې ونیول، په زاریو شوه، خو زه یې له نظر او لمسولو له دې وېرې په تېښته وم، چې مقاومت به مې کمزوری شي، په جذباتي انداز کې مې وویل:

د غرونو په لمنو کې داسې سړي دي چې د لوږې او عذاب له امله ځورېږي.

ویې ویل:

هغوی حقیقي نارینه دي، خو بیا هم هغوی خپل ژوند کوي.

په هغو حدودو کې چې الله مباح ګرځولي.

د وږي ځیرووونکي لیوه په څېر یې راوکتل، او په ګواښوونکي ډول یې وویل:

ته پوهېږې چې زه تا ته سزا هم درکولای شم.

ومې ویل:

ایا مینه همدا ده؟

هو، همدا مینه ده.

کله چې ته د دوی په یو ویرووونکي زندان کې بندي شې، شا او خوا دې تیارې او چوپتیا وي، قمچینې دې په بدن لګېږي، بیا به ته دا خوب ووینې چې کاشکې زما په څنګ کې څو دقیقې تېرې کړې.

ما ورته په باوري انداز وویل:

ما مرګ ته ځان نذر کړی.

ته د اور سره لوبې کوې، ته زما حقیقي مېړه یې.

خو ته د یو داسې سړي په نکاح کې یې چې مسلمان شوی، که څه هم اسلام یې ظاهري بڼه لري.

نو بیا دلته ولې راغلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پوښتنې حیران کړم، ربښتیا هم ولې راغلم؟ ما ټول ژوند له دغو تجاوزګرو د غچ اخستلو په اړه فکر کړی دی، خو اوس انتقام چرته دی؟ زړه مې ودربېد، خو یو حقیقت هم و چې ما پټولو، ما د نجمة اللیل سره مینه کوله، دې مانۍ ته زما د راتګ سره موافقې د هغې مېنې سره تړاو درلود، هغه لاړه او زه یې پرېښوم، ټوله ورځ مې ونه لیده، فکر مې کاوه چې ولې حالات خرابه شول؟ زموږ په ځمکه پردي حکومت کوي، پخوا ماته د (کاشغر) د یو مسجد خطیب ویلي و:

بچیه! اسلام عزت دی، څوک چې پرې منګولې ولګوي، هغه عزتمند کیږي، که چا پرېښود ذلیل به شي، او زموږ هیواد په ژور خوب کې دی، ارام، بې هودګي او عبثیات پرې غالبه شوي دي، له دین نه ورو ورو لرې کیږي، بچونیه! حکمت له لاسه ووت، او شتمنۍ یې ځای ونیو، علماء د امراؤ په وړاندې ټیټ شول، فساد، بې وزلي او جهالت عام شو، ګناوې خپرې شوې، بچیه! همدا د نړیدو پیل دی.

هغه راته وویل:

په ختیځ او لویدیځ کې دوښمنان دي، هغوی د زیاتوالي او ځواک لمن نیولی، او موږ د پخوانیو ویاړونو لمن نیولی، خو پخواني ویاړونه او ښیګڼې مقاومت نه شي کولای.

ماته یې وویل:

بچیه! مسلمانان سره ټوټې ټوټې دي، په ترکیه کې جنګونه او ظلمونه دي، عرب د دوښمن د اسونو د سومانو لاندې غلي پراته دي، خو کفر یو ملت دی، او مسلمانان ګڼ ملتونه دي، اوس نو ته کولای شې د دې تعبیر خپله وباسې چې بریالیتوب ولې او ماتې ولې رامنځته کیږي.

دا خبرې زما ډېرې ښې يادې دي، او نورې ورته خبرې چې خواجه نیاز، جنرال شریف او نورو به بیا بیا کولې، هغوی زړور مسلمانان وو، د جګړې په ډګر کې بې له وېرې د الله سره مخ شول، دې کې شک نه شته چې دې مانۍ ته زما راتګ د شیطان دسیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، باید بېرته لاړ شم، او سمدستي لاړ شم، خو باید د هغه وخت په بدل کې چې دلته مې ضایع کړیو څه وکړم، او بیا به په غرونو کې میشتو سړیو ته په منډه ورځم.

ویل کیږي چې زموږ یو زړور مشر عثمان باتور خلک راټولوي، او د نوي پاڅون تیاری نیسي، نو زه ولې دلته پاتې شم؟

د مېړه په غیاب کې نجمة اللیل کوښښ کاوه څو هغه څه چې زما په زړه او سر کې ناست وو، محوه او پاک کړي، ما مقاومت کاوه، خو مقاومت هم سخت و، نجمة اللیل قاتلې اداګانې درلودې، په دې ضابط د هغې واک او داسې عجیبه واکمني بې له دې چې هغه ډېره ځواکمنه ښځه وه بله معنی نه لري.

ضابط دوه ورځې وروسته بیا راغلو، ستړی او سرګردانه و، ویې ویل:

موږ د نویو ستونزو په درشل ولاړ یو.

ولې؟

عثمان باتور او نورو پاڅون کوونکو چریکي جګړه پیل کړه.

نجمة اللیل وویل:

تاسې ته نو څه زیان رسوي، ګومان کوې هغوی به تاسې ته ماتې درکړي؟

هغوی په صنعتي مرکزونو ناڅاپي بریدونه کوي، افسران تښتوي، ډېر خلک یې ووژل، که په ازاده جګړه کې وای نو له بیخه ختمول یې شوني و.

د هغې په سترګو کې د خوښۍ بریښنا وځلیده خو پټه یې کړه، هغه په خوراک او څښاک اخته او فکر وړی و، ماښام خبر شوم، چې هغه دواړه یوازې د باندې یو ځانګړي باغ ته د چکر لپاره وتلي، ډېر وځنډېدل، خو نیمه شپه راستنه شوه، شور او ځوګ هم ورسره ملګری و، ماڼۍ له افسرانو او استخباراتو له مشره ډکه شوه،څه شوي؟ مېړه یې په مرګوني مرمۍ لګېدلی، هغه یې هم ماڼۍ ته راووړ، هغې چغې وهلې ژړل یې ویښتان یې ایستل، او همدا یې ویل:

ما قاتل ولید، ډز یې وکړ، په اس سپور شو، او د رود په لور ولاړ، د لسګونه زره خلکو په منځ کې یې هم پیژنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چغې او فریاد یې ویست، د خلکو په سترګو کې هم غوصه او خفګان ښکاریده، له غمژنې کونډې یې په داسې حال کې پوښتنې پیل کړې چې هغه په خپلو اوښکو کې ډوبه وه، هغوی غلې کوله، خو هغې هغوی غځ، او په اورومچې کې د هر شکمن کس نیولو ته هڅول.

د استخباراتو یو مسئول وویل:

دا نن په اورمچې کې دریمه پېښه ده، د عثمان باتور خلک تشویشونه پیدا کوي، له تشدد پرته بله لار نه شته، او لا زیاته سختي، ما وویل باید هر شکمن ترکستانی ووژنو، خو هغوی یې نه مني، زما نظر دا دی چې ټول ترکستانیان شکمن دي، زه پوهیږم چې دغه خاینان څنګه په نښه کړم، اجازه به ورنه کړم چې پېښې همداسې بې له سزا روانې وي، موږ په اورومچې کې بېړنی حالت اعلان کړی دی.

نجمة اللیل په غم، درد او ستړتیا کې وه، خو حیرانوونکې دا وه چې د وژل شوي ضابط ډېرو ملګرو هغې ته دلاسا ورکوله، او تعزیت ته ورته راتلل، د هغوی په سترګو کې مې خوښي او امید لیده، ډېر د نجمة اللیل په تمه وو، سره له دې چې د مړي وینې نه وې وچې شوې، نجمة اللیل پرېکړه وکړه چې کور کې به یوه اونۍ ګوښه کیږي او هیچا سره به نه مخ کیږي، په ښار کې چې څومره خولې هومره خبرې، اوازې زیاتې شوې، وېره پرې خپره شوه، پردي افسران هم سخت په تنګ وو، زمري او پړانګان اوس د سویکو په شان بریښېدل، زه له دې مانۍ د تګ په حال کې وم، خو دې پېښې مې تګ وځنډاوه، زه باید انتظار وکړم، یو ماښام زما خونې ته راغله، زه راپاڅیدم، او ومې ویل:

باداري.

نیغ نیغ یې راوکتل، سترګې یې هم نه رپېدې:

ته قاتل نه پېژنې؟

څوک؟

ښه، ما وژلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا! نجمة الليل؟

له خوښۍ او مسخرو ډکه خندا يې وکړه او ويې ويل:

هو خو ته پوهېږې چې ولې؟

سرګردانۍ په حالت کې يې خبرې کولې، زه يې خبرو ته غوږ غوږ وم، ما هيڅ ونه ويل هغې بېرته ځواب راکړ:

د داسې يو کمين مشري يې کړې وه چې لس پاڅونوال يې ووژل، ډاروونکې عمليات وو، خپله يې راته وويل، او دې هر څه ته يې په دې جواز ورکړ چې د اوامرو مخالفت نه شي کولای، ماته يې مخکې ژمنه راکړې وه چې مرستندويه کارو ته به وزګارېږي، هغه شپه ما خوب ونه کړ، بيا هم هغه شپه ماته رانژدې کېدو، او هيڅ اغيز پرې نه و غورځېدلی، خوشحالي يې کوله، ټوکې يې کولې لکه هيڅ يې چې نه وي کړي، ما فکر وکړ، مصطفی مراد حضرته! که د هغې لسو پاڅونوالو له جملې يو ته هم وې، راومې ويست، ما وويل راځه! ستا په بريا جشن کوو، او شراب څښو، ډېر خوشحاله و، د ډېرو برياليو عملياتو کيسې يې راته وکړې، او هغه څه يې هم راته وويل چې پاڅونوالو ته يې چمتو کړي، عثمان باتور د هغوی لپاره ستر سردردی دی.

باغ ته لاړو، د ديوال په غاړه کې روان وو، توفنګچه مې راوويسته، مخامخ ورته ودرېدم، له شا مې پرې بريد نه دی کړی، ورته مې وويل زه تا محاکمه کوم، ته خاين يې، او قتل هم د خيانت يوه برخه ده، خندا واخيست، ګومان يې کاوه زه ټوکې کوم، د ليونۍ په څېر مې پرې چغه کړه، په خپل ځای ودرېږه، درواغ تر ټولو ستر جرم دی، تا درواغ ويل کله دې چې ويل مسلمان شوې، يو رکعت لمونځ دې هم ونه کړ، ته دروغژن وې چې ويل دې جګړه بده ګڼې، ته له يو ځاروي پرته بل څه نه وې، او زه ستا لپاره د هغې جام په شان وم، چې پرې روږدې وې او خلاصې دې ځينې نه و،..ودريږه!....مه ښوځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ يې زيړ شو، په ګونډو شو، په سترګو کې يې اوښکې ډنډ شوې، ته فکر وکړه! هغه ژړل، ما يې له ژړا څومره خوند واخيست، ته ولې زموږ هيواد ته راغلې؟ سترګې يې پټې کړې، او په زاريو يې وويل:

اى نجمة! زه درسره مينه کوم، دومره د هيچا سره مينه نه لرم، لکه ستا سره، په خپل عزت درسره ژمنه کوم چې بيا به داسې نه کوم، که څه هم ما له پوځ شړي، ته زما په ژوند کې هر څه يې.

په خندا شوم، ماشه مې کش کړه او ومې ويل:

زه هم درسره مينه لرم، ستا وژل تا له ډېرو ګناهونو تېروتنو پاکوي.

واخله...، واخله...، واخله...، پنځه مرمۍ، د هغو بدمرغو لپاره چې ستاسې ښکار ګرځيدلي.

بيا يې اوښکې راتوى شوې، او زياته يې کړه:

اوس به د قومول خلک زما په اړه څه وايي که وپوهيږي چې څه پېښ شوي؟

له خونې ووته، بېرته راستنه شوه او په لاس کې يې جام و، ويې ويل:

ښښنه غواړم، هغه لعنتي په شرابو روږدې کړې يم، موږ به واده وکړو، ګرانه، خو څه ډول؟

جام يې وغورځاوه، بيا يې په زوره زوره خندا کې وويل:

د هغه يو ملګري ماته د واده وړانديز وکړ، د هغه يو مخلص ملګري، ته وګوره دلته د افسرانو زړونه د ډبرو دي.

موږ بدمرغه ورځې تېرې کړې، د استخباراتو مشر به په اورومچي کې بې ګناه خو شکمن کسان زندانونو ته کشول، او هره ورځ به يې يو يا دوه د قاتل په لټه کې غرغره کول، وخت په وخت به نجمة الليل ته هم راتلل او پاڅون کونکي يا شکمن کسان به يې ورته ښودل خو هغې به انکار کاوه چې دوى قاتلان نه دي، خو د شکنجو او بند عمليات زيات شول، ښېړنى حالت هم اوږد او سخت شو، په ټولو ښارونو کې دغه حالت روان و، له بلې خوا د پاڅونوالو فعاليتونه هم زيات شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شپه مې نجمة اللیل ته وویل:

د ماتم وخت هم ختم شو، اوس باید د ګډا یو ستر محفل جوړ کړې، غټان خلک ورته راوغواړې، او په دې ډول به موږ په پخوانۍ ښپښې پرده واچوو، هغه او کیسه به یې پای ته ورسیږي، او زما مشوره دا ده چې ته باید د هغه چینایي سره د خپلې کوژدنې اعلان هم وکړې، چې غواړې دې.

په غوصه یې وویل:

هغه مې ځکه وواژه چې زه تا غواړم.

خو زه دغه محفل غواړم که رښتیا زما سره مینه کوې نو..

ولې؟

له مټو مې ونیوله، په زوره مې ځان ته راکش کړه، په سینه پورې مې ونیوله، او ومې ویل:

ګرانې موږ باید د دې بې ګناهانو بدل واخلو.

هغه څنګه؟

زما سره له چاودیدونکو توکو یوه ډکه لارۍ ده، پاڅونوالو را استولې ده، چې محفل جوړ شي، موږ به مانۍ په دوزخ بدله کړو.

سر یې وښوځولو، او ویې ویل:

او موږ؟

په شرابو، ګډا او ساز سرود کې به یې غرق کړو، کله چې موږ له دې مانۍ ښه لرې شو، چاودنه به وکړو.

بیا به چرته ځو؟

غرونو ته، عثمان باتور او ټول زړور خلک همالته دي.

مخ یې له خوښۍ وغوړید، او زما په ښکلولو یې پیل وکړ، ما له ځانه سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زړه اشپزه باید له پېښې وړاندې لرې واستوو، د دې بدمرغه مغولي ګاډۍ چلوونکي چاره هم باید وکړو، او دغه دوه واړه ماشومان خادمان باید په باغ کې هغې لرې خونې جوړولو پسې واستوو چې ته او هغه به پکې اوسېدۍ.

او په ټاکلې شپه... شپه ډېره تیاره وه، په یو قوي اس سپاره شوو، د شپې په وېروونکې تروږمۍ کې روان شو، چې شاته مو وکتل مانۍ د اور یوه لمبه ګرځېدلې وه، اور هره خوا رڼا کړې وه، چغې وې، او د خطر زنګونه کړنګېدل، څه ساعت وروسته مو ږ د غره لمن ته رسېدلي وو.

په داسې حال کې چې هغه مې د اس له شا راکوزوله ورته مې وویل:

نجمة اللیل! غر د ازادو مبارزانو هیواد وي.

په داسې حال کې چې له یخنۍ لړزېدله، ویې ویل:

زه څومره نېکمرغه یم.

په خندا مې ورغبرګه کړه:

باید د ځان لپاره زاړه کالي پیدا کړې.

ناڅاپه یې پوښتنه وکړه:

خو تا ولې په دې ټاکلي وخت کې د دې باجرئته اقدام پرېکړه وکړه؟

په یو تنګ خو خوندي کږلیچ کې مې اس د ځان پسې راکاږه ورته مې وویل:

دا لومړی ځل نه دی، په اورمچي کې د میشتیدا پر مهال مې ورته عملیات تر سره کول، ما هر څه د عثمان باتور په امر کول.

ماته یې په رډو سترګو زیر زیر وکتل...

او که تا هغه کار چې د مېړه سره دې وکړ، او د دې پېښې په شپه دې وکړ نه وای کړی، نو ستا برخلیک به هم د هغو په شان وای چې د خپل خیانت او ظلم په اور کې وسوځېدل.

څه؟ تا زه هم وژلم؟

د ضابط، او ښځې کیسه راپه زړه شوه، او چغه مې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هغې پلار یم.

نجمة اللیل د دې خبرې په معنی پوه نه شوه، او مورې د اوږد سفر، په غرونو کې د پاڅون د مشر عثمان باتور سره د لیدلو او نورو خبرو اخته شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۱)

ډېر ډاډه شوم، د غرونو په ناوونو، غارونو او ځوکو کې چې انسان اسمان ته نژدې کوي روان وم، افق صاف او هوا مخ پر يخيدو وه، او زړه مې خلاصېدو، داسې احساس مې کاوه چې بې وزرو مارغه يم، نجمة الليل هم زما په څنګ يا شاته په اس سپره روانه وه، د لمر ګرمۍ يې ژړ زبيښلي مخ سور او ګلابي کړی و، اوس په هماغه پخوانۍ ښکلا کې ښکارېده لکه چې موږ به د امير په ماڼۍ کې ليدله، نجمة الليل هم نېکمرغه او خوشحاله وه، په لومړيو ورځو کې يې يو څه خفګان او زړه تنګی محسوساوه، ځکه چې د ځان مينځلو وسايل يې نه درلودل.

له دې امله هم ډېره زړه تنګې وه چې د سينګار سامان الات ورسره نه و، او يا له دې امله چې دلته هغه کارونه نه وو، چې دې به سبا او بيګا کول، په غرونو کې خلک په طبيعي ډول ژوند کوي، ښځې د نارينه و سره په هر کار کې شريکې وي، دا نوې ټولنه وه، سره له دې ټولو نا راحتيو بيا هم د دې تجربې سره يې زړه لګيدلی و، خپله نيکمرغي يې نه شوای پټولای او هره شيبه به يې کيسه تکراروله چې هغه يې څنګه وواژه، په سترګو کې يې وېره وه، زارۍ يې کولې، او له شونډو يې د نرمۍ غوښتلو الفاظ راتليدل.

ما احساس کړه چې دا په خپل کار ډېره وياړي، او له اوږده او سخت سفر وروسته موږ د التای غرونو ته ورسېدو.

دلته د جنرال عثمان باتور مرکز دی، د هغه اتل چې دوښمنان يې مات کړي او وتوانيد چې ځينې هغه هيوادوال هم ونيسي چې خاينان شوي او دوښمن ته اوښتي وو، عثمان باتور د تېزو سترګو، اوږدو بريتونو، ګڼې ږيرې، غټې پوزې څښتن و، ارام، مخور، لږې خبرې او ژور فکرونه يې کول، زه يې ډېر ښه پېژنم، او ډېر هغه خلک هم پېژنم چې د ده سره په يو صف کې مبارزه کوي،د يخنۍ د مخنيوي په موخه به يې درندې او ډبلې جامې اغوستې ، دا ځومره عجيبه خلک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی به د طبیعیت د طوفانونو او دوښمن د مکر په وړاندې کلک ولاړ وو، او د کلونو په اوږدو کې به د مرګ او ستونزو په وړاندې په بې بېلګې شجاعت سره درېدل، د دوی شعار چې غرونه به یې لړزول یوازې د الله اکبر- الله اکبر نعرې وې، په غرونو کې د پاځونوالو ګڼ مرکزونه و، زه به کله په یو او کله بل مرکز کې وم، او هلته میشتو خلکو ته به مې د دوښمنانو لخوا د هیوادوالو د وژنو او ربړونو کیسې کولې، او کله کله به مې په چریکي بریدونو او جګړو کې برخه هم اخسته، خو لومړی هدف مې دا و چې دعثمان باتور سره نژدې وم، ځکه هغه زما اصلي ډلګۍ وه، زه هغې ته منسوب وم، د هغوی سره مې کار کاوه هلته به د منصور درغا سره هم مخ کېدم.

حتی چې موږ په غرونو کې یو کوچني کلي ته ورسېدو، چې ډېر کم کروندګر او شپانه پکې اوسېدل، هوا په ګرمېدو وه، موږ دلته څو شپې پاتې شو، نجمة اللیل وویل:

تر څو به روان یو؟

بیا به راوګرځو.

دا ستړي کوونکې ده.

دا جنګ دی.

زما مطلب دا نه دی.

بیا دې نو مطلب څه دی؟

اوس باید واده وکړو، ته همیشه له فرصتونو ګټه نه اخلې، ایا د امیر په ماڼۍ کې دې زما او ستا وروستي لیدل یاد دي، کاشکې دې هغه مهال منلی وای.

ما یې په مینه لاس ونیو، هغې زما لاس د خپلو اننګو سره وصل کړ، همداسې پاتې شو، په داسې سترګو یې راکتل چې نرمي او مینه ترې څڅېده.

تر څو به داسې پاتې یو؟

خامخا په کلي کې کوم عالم شته.

زه ځم ګورم یې.

دا کار ماته وسپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ډېره خوشحاله يم
مورې د سختيو سره مقابله کوو.
ولې مصطفی؟
ايا ته فکر کوې چې مورې به دومره ژوند کوو چې اولاد به زېږوو هغوی به ستريږي او مورې به هغوی ته نېکمرغي ورکوو؟
دا کار الله ته پرېږده.
زمورې واده وړوکی او ښکلی و، د کلي خلکو راسره پکې ګډون وکړ، انجونې وګډېدې، او شپنو کليوالې سندرې وويلې، او خپلې هغه چمبې يې ووهلې چې زړونه په لړزه راولي، خوراک او څښاک مو وکړ، او لس داسې خوندورې ورځې مو تېرې کړې لکه له زمانې مو چې راپټې کړې وي، نجمة الليل خپلې ګانې خرڅې کړې او مورې دوه اسونه واخستل، او بيا مو سفر پيل کړ.
ګرانې! هلته زړور خلک دي، هلته به ژوند کوو، هغه يوه پوره ټولنه ده، ښځې نارينه او ماشومان پکې دي، ټول له جګړې پرته بل څه نه پېژني.
دلته د جګړې معنی ژوند او ازادي ده، جنګ د الله په لار کې فرض دی، کله چې بريالي شو، او د خپل هيواد واک په لاس راوړو بيا به نو نور هم ښکلی او په زړه پورې ژوند پيل کړو.
تبسم يې وکړ، په وريځو پوښلي اسمان ته يې وکتل او ويې ويل:
ايا له دې ژوند چې اوس يې مورې تېروو هم ښکلی ژوند شته؟
هو ګرانې... چې امن خپور شي، د اسلام هيواد بېرته د اسلام په واک کې شي، دوښمن په تېښته شي، بيا نو له ژوند خوند اخيستلی شو، بيا به ريښتيني نېکمرغه يو، مورې بايد د يو ستر هدف لپاره ژوند وکړو، له هغه مينې هم ستر چې زما او ستا تر منځ ده، ژر ده چې ټول ترکستان به د هميشنۍ مينې يوه سندره شي، زه ته او زمورې په څېر نور به د همدې سپيڅلو سندرو ښکلا او تلپاتې والی وګرځو، همدا په ځمکه جنت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۲)

عثمان باتور د التای په غرونو کې په یوه ستره غونډه کې وینا وکړه:

ای کلکو او زړورو خلکو!

نن یوه سخته ورځ ده، خو زموږ د هیواد راتلونکی ورپورې تړلې دی، کېدای شي دلته زموږ جګړه اوږده او راتلونکو نسلونو ته وغزیږي، له هغه وخته پیل ده له کله چې د متعصبو اروپایانو په لمسه زموږ هیواد ته د روسانو تمه پیدا شوه، او له لسګونو کلونو راهیسې چې د چینایانو سترګې زموږ په ستر هیواد خښې شوې، زموږ د اتلولیو، عظمتونو او تلپاتې اسلامي غزاګانو پر هیواد، له هغه وخته چې د سیمه ایزو مشرانو او واکدارانو د غفلت له کبله هر دوښمن زموږ د هیواد یوه برخه پرې کړه.

ای خلکو! نه غواړم له ماضي څخه ډېر وغږېږم، بلکې دا وایم چې زموږ هیواد موږ ته بل څوک نه ازادوي، یوازې زموږ په اوږو به د خپلواکۍ ودانۍ لوړیږي.

روسانو موږ ته درواغ وویل کله یې چې راته د مرستې وړاندیز وکړ، او چینایانو راته درواغ وویل کله یې چې راته د ازادۍ او خپلواکۍ خوږې هیلې راوڅکلې، اوس تاسې وینئ چې هیواد مو د وسپنې او اور په زور اداره کیږی، زرګونه خلک د دار میدانونو ته وړل کیږي، او لسګونه زره نور زندانونو ته، ترکستاني کورنۍ په بشپړه توګه له منځه ولاړې، او کله چې دوښمن زموږ مشران، د ازادۍ رهبران بندیان کړل، د هغوی سره یې د جنګي بندیانو په شان سلوک ونه کړ، بلکې په ناوړه مرګ یې ووژل، د هغوی شرف او ابرو ته یې زیان ورساوه، په داسې حال کې چې هغوی زموږ په پاکه خاوره کې تر ټولو غوره زېږېدلي خلک و، اوس هغوی کوښښ کوي چې زموږ په ښارونو کې زموږ له نسل څخه یو غولیدلی او بې لارې نسل جوړ کړي، خو داسې څرګندوي چې زموږ په هیواد کې د علم او پرمختګ د خپراوي اراده لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای اتلانو! موږ د خپلې خاورې د ازادۍ لپاره مبارزه کوو، او هر ډول تیری بد ګڼو، موږ له خپل نرم دین اسلام، او خپل اصلي تمدن له میراث څخه دفاع کوو.
زموږ ننی جنګ د الله په لار کې جهاد دی، موږ باید داسې وار وکړو چې د دوښمن ملا ماته کړي، او کله چې خپلواک شو بیا به د ټولو ملګري یاستو، زموږ هیواد په هیڅا تیری نه کوي، هیڅا ته یې سترګې نه دي نیولي، په ښېګڼو او عظمتونو غني دی، او باید زموږ وي، ایا موږ د ازادۍ وړ ملت نه یو؟ دوښمن د چریکي ډلو د هغې جګړې له مخنیوي مایوسه شوی چې موږ پیل کړې، نو ځکه یې د خلکو په نیولو او د ولس په ربړلو پیل وکړ او په دې توګه خپل غچ اخلي، اوس نو له یو ستر او پراخه جنګ پرته بله لار نه شته.
په دې سره خلکو د تکبیر چغې پورته کړې، او په راتلونکو ورځو کې ډلې ډلې خلکو خوځښت پیل کړ، د دوښمن ځواکونه په وېره کې په شا کېدل، او موږ د ارومچي څو کیلو مترۍ ته ورسېدو، د ولس ځواکونو په ختیځ ترکستان کې د دوښمن په پاتې ځواکونو بریدونه کول، او دغه ځواکونه لویدیځ ترکستان ته په شا شول، او د دوښمن ماتې عجیبه حقایق رالوڅ کړل، چې د اشغال تر پښو لاندې پټ وو، له ځینو هغو راجسترونو څخه چې له دوښمن پاتې شوي وو، روښانه شوه چې یو شمیر ترکستانې کورنۍ په بشپړه توګه ورکې شوي، او د دوښمن په زندانونو کې د بندیانو شمېر درې سوه زرو ته رسېدو.
هغو بندیانو چې د دوښمن له شاتګ وروسته راخوشې شوي وو، د وحشي تعذیب داسې وېروونکې کیسې وکړې چې دوی ورسره مخ شوي وو، دوی داسې انځورونه وکاږل چې بدنونه ورڅخه وبربېدل، خلکو د خپلو خپلوانو د شهیدانو جسدونه هم پیدا نه کړل؛ ځکه هغوی به یې له منځه وړلو لپاره له ډول ډول وسایلو کار اخیست، په تصادفي ډول د طبیعي معادنو په یو کان کې چې له سا بندوونکي ګازه ډک و دوه مړي وموندل شول او وروسته روښانه شوه چې یو د خواجه نیاز او بل د جنرال شریف خان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا زار د زیات باران د وربښت له کبله د استخباراتو د اداري ودانۍ هم ونړېده چې دوښمن به پکې خپل مخالفین ساتل، د همدې ودانۍ په تهدابونو کې د انسانانو هډوکي وموندل شول او معلومه شوه چې درې زرو ته رسیږي، چې د دې څرګندویې یې کوله چې د دې ودانۍ لاندې د ولسي خلکو لپاره زندان جوړ شوی و، او دوی داسې مړه شوي وو چې نه چا ورته دروازه پرانیسته او نه یې چا پوښتنه وکړه، د ترکستان له هرې برخې څخه خلک راغلل چې دغه ناورین وګوري.

نجمة اللیل په داسې حال کې چې له سترګو یې اوښکې روانې وې وویل:

دوی څنګه مړه شول؟ ای مصطفی! زه له خپلو فکرونو نه شم تښتېدای، ایا دا د قساوت وروستی حد نه دی؟آه..... تیاره خونې، د مرستې چغې چې هیڅوک ځواب نه ورکوي، لوږه، تنده، دورې وهل، ځینو به د خپلې مېرمنې او اولادونو په اړه هم فکر کاوه، چا به د خپلې مینې په هکله.یا الله! دا وګوره ځینو سره غېږې ورکړې، داسې مړه شوي چې یو بل یې غېږ کې نیولي، ځینې په ناسته او غونج مړه شوي، بې شکه چې یخني زیاته وه، خدای ته به یې په داسې حال کې زارۍ کړې وي چې تر ټولو بدمرغه حالت کې دي، لعنت دې وي په کافرانو.

ما یې لاس ونیو ومې ویل:

کله چې انسان مړ شي بیا د هیڅ شي احساس نه کوي هسې زړه مه خوره.

غذابیږو خو موږ، باید ودردیږو، تر څو زموږ په رګ رګ کې د تجاوزګرو څخه د همیشنۍ کرکې ځواک وزېږیږي.

ګرانې موږ یې په هر ځای کې تعقیبوو.

هغې اوښکې وچې کړې او زیاته یې کړه:

مصطفی! زه نور له تاسې سره د تګ توان نه لرم.

ولې؟

فکر کوم زما په پوښتیو کې بل ژوند وده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمر او باران ته پرتو هډوکو ته مې وکتل، بیا مې نجمة اللیل ته وکتل، د هغې زېړ زبیښلی او دردیدلی مخ مې ولید او په غوږ کې مې ورته وویل:

که الله زوی راکړ نو خواجه نیاز نوم به پرې ږدو.

ترخه خندا مې وکړه، هغه کور ته شوق واخستم چې موږ به پکې ژوند کوو، او ومې ویل:

زه به یوه اونۍ وروسته لاړ شم، ایلي او التای ولایتونه له کانونو او شتمنۍ ډک دي او باید له دوښمن یې بېرته واخلو.

سختې جګړې روانې وې، دوښمن په تېښته و، عثمان باتور په یو ځانګړي غونډه کې زموږ سره چې زیات شمېر قوماندان هم پکې و وکتل، او ویې ویل:

ای خلکو! تاسې خبر یاست چې چینایي حاکم په ترکستان څه کړي؟

زموږ سترګې د هغه خواته ورکږې شوې، هغه په خپله ارامه لهجه وویل:

هغه خپل پلویان هم نیسي.

دا حیرانوونکې خبره وه، موږ ټولو په یو غږ چغه کړه:

هغه څنګه؟

د سیاست لوبه او ګټې یې، ناولې لوبه ده.

لکن هغوی خو یې ایتلافیان وو، او نجات یې ورکړ.

هو ویې ژغورل چې بېرته د دوی مالکان شي، له دوی یې هم کار واخیست او له هیواد څخه هم، دوی مشران و خو واک یې په لاس کې نه و.

او دا ښکاره وه چې چینایي مشر په خپلو ایتلافیانو او ملګرو کړۍ تنګه کړې وه او د ده د سلاکارانو او جاسوسانو له کورنیو هیڅوک هم له دوی خلاص نه شول، مګر له هغې وروسته چې ډېر چینایان له سیمې وتلي وو، او کله چې د عثمان باتور ځواکونه وتوانیدل چې د دوښمن ډلې تیت پرک او تېښتې ته اړ کړي، هغوی هم دا فرصت غنیمت وګاڼه او د خپلو پلویانو کورنۍ یې بندیانې کړې، بیا چینایي مشر خپل رهبر ته پیغام واستوو دلته په شته حالت یې افسوس څرګندولو، ښښنه یې غوښته او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی یې زموږ پر ضد د مرستې غوښتنه کوله، چینایي حاکم هیڅ لاره نه درلوده، او له دې پس چې د هغوی پلویان مو مات کړ، اوس موږ باید د چینایانو سره نوې جګړه ولرو.

زموږ مشرتابه امر وکړ هر هغه څوک چې وسله اخستلای شي باید له چینایي مړو څخه د هیواد د پاکولو په کار کې برخه واخلي، بیا عثمان باتور چینایي حاکم ته ګواښنه وکړه او وخت یې ورکړ چې د خپلو ځواکونو سره هیواد خوشې کړي، کنه نو برخلیک به یې مرګ وي.

حاکم حیران و او نه پوهېده چې څه وکړي، زموږ ځواکونو له هرې خوا محاصره کړی و، او د ورور په ګډون یې پلازمېنې ته د استولو استازو خبر هم ببرته ورته ونه رسېد، ولس له ویاړه ډک پاڅون کې د ځان ژغورنې په هدف ځانونه مرګ ته هم وړاندې کول.

مصطفی حضرته! دا دی موږ بیا سره ولیدل.

چې ورومې کتل دا مې پخوانی ملګری منصور درغا و.

آه منصوره! څومره بدل شوی یې، د سر ویښتان دې هم سپین شوي، دواړو سره غېږې ورکړې.

ګورم چې چپ لاس یې حرکت نه کوي، او هر څه په ښي لاس کوي، په پوره مینه مې په غېږ کې ونیو.

ښه په دقت مې ورته وکتل، د مخ تازه والی یې نه و پاتې، سر یې هم ګنجی شوی مګر یو څو تاره ویښته پرې پاتې وو، خو ږېره یې په تور کې سپینو ویښتانو شنه کړې وه، او په سترګو کې یې نه جلا کېدونکی غم و.

ستا څه کېسې دي منصوره؟

موږ بریالي شو.

ما وخندل؛ ځکه نور څوک له دې حقیقت څخه ناخبره نه و، هغه هم پوه شو چې ځواب یې نیمګړی دی، او زیاته یې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما غجرۍ معشوقه هم مړه شوه، داسې يې ذبح کړه لکه يو پسه چې په يوه پرتمينه وليمه کې ذبح کيږي، د وحشيانو په څېر به يې يو بل ته ټيل وهله، خو هغې به چغې وهلې او دفاع به يې کوله، ځيرونکي حيوانات هم رحم لري خو دوی.

خبره يې په داسې حال کې پوره کړه چې ګوته يې ښوروله:

نه...نه...له زندانه زما د تېښتې خبر خپور شو، کاشکې نه وای تښتيدلی، دا زما له پاره غوره وه چې په هغه هډوکو کې وای چې د استخباراتو د نړېدلې ودانۍ لاندې وموندل شول، پوښتنه به کوې چې ولې؟ هغوی هر ځای کې وکتلم، خو چې پيدا يې نه کړم زما ټوله کورنۍ يې وتښتوله، ښځې، نارينه او ماشومان، بيا به پوښتنه کوې چې د هغوی برخليک څه شو، په ډېر تاسف سره چې هغوی لاړل.

د سترګو ځلا يې زياته شوه او ويې ويل:

له موږ لاړل، د هغه ذات په لور ولاړل چې په هيچا ظلم نه کوي، اوښکې يې وچې کړې، او غلي يې وويل:

ايا ته په دې باور يې چې زه له هغوی ډېر نيکمرغه يم؟

له لاسه مې ونيو او ورته مې وويل:

راځه، نجمة الليل غوښتل تا ووينې..

داسې يې راته وکتل لکه چې يوه هېره پخوانۍ کيسه ورياده شوې وي.

نجمة الليل؟

هو زما مېرمن.

ستا مېرمن؟ ناشونې ده، ته پوهېږې.

ما وخندل او ومې ويل:

زما سره يې په ګڼو فدايي عملياتو کې ګډون هم کړی دی.

زموږ څنګ ته يو ټيپي خبريال ناست و، يو ناڅاپه يې وپوښتل:

ته مصطفی حضرت يې؟

هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبریال په خوشحالۍ وخندل او ویې ویل:

په اورومچي، التای، کاشغر او قومول کې ستاسې دواړو په اړه اعلان شوی.

څه مطلب؟

ستا او نجمة اللیل پر نیولو یا وژلو د سرو زرو یوه اندازه انعام دی، خو دا ته یې؟

ستا کیسه یوه ښه خبري ټوټه ده.

ما خپلې اوږې ته وکتل، خبریال ته مې اشاره کړه او هغه په زوره وخندل:

د ویاړ لومړی ستوری.

هو ملګریه د عثمان باتور له خوا.

او چینایي حاکم خپل حکم اعلان کړی دی، دنیا څومره عجیبه ده؟

سپوږمۍ خپلې رنګینې وړانګې خپرې کړې وې، منصور درغا مې څنګ ته و.

منصور غلي وویل:

د قومول امیر مړ شو، فکر کوم وژلی یې دی، امیران هم له منځه ولاړل یا یې ژوند د بدمرغۍ ببلګه شوه، ښځمنې یې یو خوا بل خوا خپرې شوې، دنیا کې پېښې همداسې یو د بل پسې راخوټېږي او پای نه لري، لکه چې موږ ته لیکل شوي چې ټول ژوند به د جنګیالیو په څېر تیروو.

منصوره! د الله په لار کې له جهاد پرته بل هیڅ شی زیات عزتمند نه شته.

پوهېږم، خو کله کله ځان ته فکر کوم، او د ماشومتوب هغه ښکلې او سپیځلې ورځې رایادوم، خپلوان او هغه بهانده ویالې، ولې دا هر څه ولاړل؟ ایا باید انسان بدمرغه شي تر څو د نېکمرغۍ چینې ته ورسیږي؟ ای مصطفی! او دا نیکبختي چرته ده؟ دا دی موږ بریالیتوبونه تر لاسه کوو، خو اوس د زیاتو بریاوو یا زیاتو ناکامیو خبره اسانه شوه، په ښښنه سره خو باید ووایم چې کله کله ماته دا فکر رالویږي، څکه د یو انسان په څېر مې د انسانانو فجاعت ولیدو زما مېړمنه ولې مړه شي؟ او ولې مې سپین ږیری پلار مړ شي؟ ولې مې د مور، وروڼو او کورنۍ وینې تویې شي؟ ماته ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي چې هغوی به د قرأن کريم څو ايتونه ويل، او پلار به مې په لوړ غږ ايت الکرسي ويله، او جلادانو به پسې خندل، ولې يې خندل؟

مصطفی! زه غواړم د نجمة الليل سره وګورم، غواړم پوښتنه تري وکړم چې د دې وحشيانو سره يې څنګه يوه موده ژوند وکړ؟ د هغوی سره يې څنګه خوراک او څښاک وکړ؟ ايا هغوی هم انسانان و؟

پوه شوم له هغه څه چې ده او کورنۍ ته يې رسيدلي منصور دردمن دی، او د غم هغه جوپې چې وخت په وخت پرې راځي دا نور هم راپاروي، کېدای شي ليونی يې کړي.

ما يې په اوږه لاس کيښود ومې ويل:

په الله ايمان لرې؟

هو

اوښکې يې روانې شوې او بيا يې د دې ايت تلاوت وکړ چې:

﴿الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ (البقرة: **۱۵۶**)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۳)

هغه لاس موټی کړ، شونډې یې راټولې کړې، او په جنون سره یې چغه کړه:
ما ناهیلې اراده دردوی.
دا هغه الفاظ دي چې د ترکستان د تر ټولو مشر حاکم له خولې ووتل، او په غوسه یې په خبرو پیل وکړ:
ما باید په خپلو ملګرو، یا د چینایانو په مرسته باور کړی وای تر څو مې د ترکستانیانو له پاڅون څخه خپل حکومت ساتلی وای، نه مې یوازې مقاومت وکړای شو او نه مې کومه بریا تر لاسه کړه، دا نو څه معنی؟ د دې دا معنی چې په ټول ژوند کې به د خپلو پلویانو او ایتلافیانو په اوږه تکیه کوم، همدا علت دی چې تر اوسه مې نه ارام لیدلی او نه مې د نېکمرغۍ بوی حس کړی.
یو لوړ رتبه چینایي جنرال ورته وویل:
موږ هیڅکله فکر نه کاوه چې د ختیځ ترکستان له ولس سره به ملګرتیا وکړو.
دا ناشونی ده، برید کوونکی او ماتې خوړلی نه شي ملګري کېدای، هر ځل مې کوښښ کړی مقاومت په تشدد او سختۍ سره چوپ کړم، بله لار نه وه، زه ساده نه یم، زه هغه څه کوم چې سم راته ښکاري، ته وګوره! له موږ څخه زموږ د ایتلافیانو له شاتګ وروسته، شا او خوا غرونو پر موږ د مرمیو او سرېو باران جوړ کړی، او که زموږ رهبر په خپله وعده وفا ونه کړي ارومچي به سقوط وکړي، او موږ به په داسې ډول ذبح کړای شو چې هغه به د ترکستان په ځمکه کې تر ټولو مشهوره مذبحه وي.
حاکم خپل استراحت ځای ته ولاړ، غوصه او پاریدلی و، یوازې کېناست او په فکر کې شو، نه پوهېده وخت پرې اوږد او که لنډ شو، خو چې سر یې پورته کړ ویې لیدل چې خادمه یې مخ ته ولاړه ده او په لاس کې یې دوه جامونه دي، غلي او په حیرانتیا یې وپوښتل:
له کله راهیسې دلته ولاړه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې نيم ساعت کېږي.

يا الله! ولې دې غږ ونه کړ، ستا چوپتيا ما لا پسې دردوي.

دا يوه ترکستانۍ پېغله وه او مجبوره کړای شوه چې د هغې د خوښې خلاف د دې حاکم سره و اوسيږي، هغې په دې ډول خپله کورنۍ او ځان ساتل، دا يوازينۍ نجلۍ نه وه خو دې دلته څو مياشتې تېرې کړې وې، رئيس ورسره خبرې هم نه وې کړې، هغه به هميشه چوپ وه، بايد دا يې شړلې وای، خو د هغې چوپتيا هم ورته ښه ښکارېده، ټولې ښځې ډېرې خبرې کوي خو دا تر هغه وخته خوله نه پرانيزي چې پوښتنه ترې وشي، او ځواب يې هم په ډېرو کمو الفاظو او کلماتو کې وي، ده ورته وويل:

که موږ ځو نو ته به زما سره ځې که دلته پاتې کېږې؟

زه ستا د امر طابع يم.

لکه چې هغه يې په مطلب پوهه نه شوه.

ښه، کېدای شي ترکستانيان موږ ته ماتې راکړي نو بيا به څه کوې؟

بيا به ته خپل ځان ژغورې او زما په څېر د يوې ښځې په اړه به فکر نه کوې.

ولې؟

د لارې په اوږدو کې ښځې ډېرې دي، زه څوک يم؟

هغه سر وښوځولو او ويې ويل:

يعنې دلته به پاتې کېږې؟

په ارامۍ يې ځواب ورکړ.

هو، تر څو زما کورنۍ راشي او ما ځان سره بوځي.

جامونه او صراحي يې په يو وار ووهل، او چغه يې کړه:

تاسو ټول زما سره بې له زړونو ژوند کوئ.

زه نه پوهيږم تاسې د څه په هکله خبرې کوئ، ايا ما په خپل کار کې ناغېړي کړې؟

احمقې! زه د دندې په اړه نه غږېږم.

باداره! بيا نو د څه په اړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مینې.
بې پروا یې ور وکتل او څه یې ونه ویل.
پر ژوند وېره خپره ده، خلک یا له وېرې ژوند کوي یا د ګټې پر اساس حرکت، تر دې چې د جګړې په ډګر کې چینایي پوځیان هم کله چې احساس کړي ژوند یې په خطر کې دی نو په ځمکه په ګونډو شي د مرستې غږونه کوي او له ترکستانیانو عفوه غواړي، او ډېر خپل ژوند د اسلام غېږې ته راوړي، او د خپلو دوښمنانو ترکتسانیانو دین مني، ایتلافیان هم زما سره مرسته کوي خو خپل پوځیان د پیسو په بدل کې را استوي، یا د دې لپاره چې واک تر لاسه کړي، یا خام مواد لاس ته راوړي او یا نوي ملګري پیدا کړي، زما سره یې تر هغه وخته مرسته ونه کړه تر څو مې چې د هغوی تابعداري نه وه اعلان کړې.
له دې خبرو وروسته یو ځل بیا پېغلې ته متوجه شو:
دوزخ ته ورځه.
له مانې ووځم؟
دوزخ نه پېژنې؟
دوزخ......دوزخ.......نه پوهېږم چرته به وي، خو زه باید پوښتنه وکړم.
هغه په زوره زوره د مسخرو خندا وکړه او چغه یې کړه.
ووځه احمقې.
د تګ نیت یې وکړ خو بېرته راوګرځېده او ویې ویل:
یاد مې شو باداره، دوزخ هلته دی، په اخرت کې دی، چرته چې اشرار کافران او د الله دوښمنان ورځي.
په چوکۍ وغزېد، په مړاوو سترګو یې هغې ته وکتل او ویې ویل:
ورځه همالته لاړه شه.
خو زه خو نه یم مړه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په ژور خوب اوده شو. له خرهاري يې داسې معلومېده چې له دوه شپو بې خوبه دی، او نجلۍ ولاړه وه. بيا په يو شور راپاڅېد او ويې ليدل چې هغه لا هم ولاړه ده.
له کومه راغلې يې؟
له وروستيو شمالي سيمو. د سايبيريا څخه. هېر دې شول صاحبه! مابه تاته ستا په ميلمستياوو کې جامونه او ميوې وړاندې کولې. ستا خوښه شوم. او نوره کيسه خو درته معلومه ده. که ته له دې ځايه ولاړې، زه به هم شمال ته لاړه شم. مور او پلار به مې ولټوم.
هغه ښايسته او زړه راښکوونکې خو بې سواده وه. هغه خپلې چوکۍ ته ورکش کړه. او په غېږ کې يې کېنوله. او په مينه يې د هغې په ويښتو کې ګوتې وهل پيل کړل. د هغې نازکه پوزه. غوښنې شونډې او غټې غټې سترګې به يې لمسولې او ښکلولې لکه چې په يو ګلورين خوب کې وي. بيا يې غلي وويل:
حاکم ته اوس هيڅ نه دي ورپاتې. له سلطنت او واکمنۍ وروسته ځواني او عاشقي هم لاړل. له ما خو ستا نوم هم هېر دی. هيڅ مې نه دي ياد. يوازې د اوښکو او خنداوو ګډ خيالونه چې ماضي په غېږ کې نيولي. او جګړه هميشه ده. له جګړې بل څه نه شته.
دروازه وټکېده. نجلۍ په ملا کږه شوه. ووته او يو افسر راننوت:
صاحب! مرسته نه ده رارسېدلې. مسلمانو ترکستانيانو ارومچي محاصره کړې. له ښار دباندې خونړۍ جګړه روانه ده. موږ هيڅ پرمختګ نه دی کړی.
نور جنګيالي هم واستوئ.
په شاتګ کې فکر نه کوې؟
شاتګ حماقت دی. که دا فکر مو وکړ او په شا شوو. پوهېږې نتيجه به څه وي؟
څه؟
مسلمانان به مو له هر اړخه وتښتوي. له هرې خوا به مو له منځه يوسي. او جنګ به خامخا وبايلو. او ټول به مړه شو. ارومچي محکم ښار دی. او د اوږدې مودې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلکیدای شي، تر مرګه له مقاومت پرته بله لار نه شته، یا به مرسته راځي، ورځه قوماندانانو ته همدا امر ورسوه.

افسر په سوچ کې شو او ویې ویل:

هغه اختار چې عثمان باتور را استولی د دې ضمانت ورکوي که موږ ووځو نو خوندي به شو.

هغه وخندل او ویې ویل:

زه د جنګیالیو په وعدو باور نه کوم.

ولې؟ دوی دروا غ نه وايي.

د یوې زورورې خندا سره په ګډه اواز یې زیاته کړه:

موږ زر ځله دوکه ورکړې ده.

خو هغوی....

حاکم یې خبرې پرې کړې:

څه، تر پایه جګړه ده، نه شاتګ او نه تسلمیدل.

افسر ووت، حاکم یوازې پاتې شو، زړه تنګی او په وسوسو کې ډوب و، هیڅوک یې نه درلودل، یو قوماندان چې د نا امیدۍ ژۍ ته نژدې کیږي هم باید تسلیم نه شي، بلکې باید ځانوژنه وکړي، او د دې لپاره ښه لاره دا ده چې د جګړې د اور په منځ کې ځان وغورځوي، له ځانه سره یې وویل: زه په همدې کې فکر کوم، ورور مې د چین پلازمېنې ته واستاوه، او ورور به مې خالي لاسونه نه راستنیږي، رهبر به اجازه ورنه کړي چې ختیځ ترکستان زموږ له لاسونو ووځي، د دې معنی به دا وي چې زموږ ایتلافیان یې له ستوني تېر کړي، مرسته خامخا راتلونکې ده.

هغه په خپلو فکرونو کې ډوب و چې خوله ګنډلې نجلۍ بیا راغله، خوراک او د شرابو یو لوښی یې راوړ، خوراک یې دهغه مخ ته کېښود او ویې ویل:

باداره! غوا ړم لاړه شم.

هغې ته یې په حیرانتیا وکتل او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې؟

دلته ډارېږم، او جګړه هم راتږدې کېدونکې ده.

په خندا يې وويل:

هو، خو ستا د ژوند او مرګ څه ارزښت دی؟

نه غواړم مړه شم.

دا بس نه ده چې ته زما په څنګ کې يې؟

ته يو لوی قوماندان يې او زه يو ازې خادمه او مزدوره.

هغې ته يې په غوسه وکتل، ده ورسره مينه درلودله، د هغې له مخ، چوپتيا او ساده توبه يې خوند اخيست، له ډول ډول ښځو يې زړه موړ شوی و، زده کوونکې او ممثلينې يې تجربه کړې وې، نويو سيمو ته د مهاجرو شويو چينايي ښځو سره هم پاتې شوی و، له ټولو ښځو سترې شوی و، خو د دې لپاره يې لا په زړه کې ځای و، ولې؟ نه پوهېدو...د زړه خپلې چارې دي.

غوسه يې کمه شوه يو ځل بيا يې ورته وکتل او ويې ويل:

له ژونده څه هيله لرې؟

غواړم خپلې کورنۍ ته ستنه شم، چې ورشو ګانې او.....

د هغې خبرې يې پرې کړې:

زما سره پاتې کېدل نه غواړې؟ په سرو سپينو، خوراکونو، لباسونو او ساتونکو کې به دې پټه کړم.

هغې په زوره زوره ژړا پيل کړه: ؛ خو ده چغه کړه:

ای سرکشې! په متروکو به دې شنه واړوم.

په وېره يې اوښکې وچې کړې او ويې ويل:

ما هيڅکله په دې کې فکر نه دی کړی چې تا ته زيان ورسوم.

او ستا کورنۍ به هم داسې تور زندان ته واچوم چې ترې راوبه نه وځي.

د هغه پښو ته په ژړا وروغورځېده او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحم، هغه چې په تېروتنه کې رانه وشول ښښنه يې غواړم.
ووځه.
ووته، په داسې حال کې چې د هغې مرغۍ په څېر رپېده چې په يوه يخه توره شپه کې باران لمده کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۴)

بالاخره رهبر د خپلو فدايانو شپږ فرقې د مرستې په توګه راواستولې چې په نوې وسله سمبال وو، کله چې دغه کنډکونه د ترکستان له حدودو تېرېدل سرحدي ځواکونو يې د مخنيوي کوښښ وکړ، خو چيني ځواکونو هڅه وکړه چې دوی ته دوکه ورکړي، د چينايي ځواکونو قوماندان ترکستاني قوماندان ته وويل:

موږ د حاکم د تاديب لپاره راغلي يو، هغه حاکم چې د خپلو پلويانو سره يو ځای شو او ډلې يې جوړې کړې، غير له دې چې ستاسې هيواد پاک کړو بله اراده نه لرو.

ترکستاني قوماندان په ملنډو وويل:

لومړی خپل هيواد پاک کړئ.

هغه پسې زياته کړه:

ډاډه اوسه صيبه! موږ کولای شو خپله خاوره له هغوی پاکه کړو، او هم يې ستاسې له مشر څخه تصفيه کړو، موږ هغه ښه پېژنو، موږ مسلمانان يو او اسلام د هر بريد په وړاندې ښه زغره ده.

چينايي قوماندان:

زما د ځواکونو په وړاندې ستاسې درېدل دوښمن ته بل فرصت هم ورکوي.

تاسې هم دوښمنان ياستئ.

حاکم به تاسې ونيسي.

هغه په اورومچي کې تر محاصرې لاندې دی، تښتيدای هم نه شي.

ښه ده، په کومه لار چې راغلي يو په هغې به ستانه شو، او دا ناوړه خطر به تاسې تهپربږدو چې خپله يې علاج وکړئ.

څو ورځې وروسته دوکه راڅرګنده شوه، او چينايي ځانګړي فدايي ځواکونه د ناپامۍ پر مهال رامخکې شول، پر سرحدي ځواکونو يې ناڅاپي بريد وکړ، د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر د برید کوونکو چینایانو په نسبت ډېر کم وو، دا د سیالانو جنګ نه و، چینایان له سرحده راتېر شول، دې ځواکونو د سیمه ایز مقاومت له کبله زیانونه هم وګالل، ډېر مړي یې ورکړل؛ خو په ډېرې سختۍ سره وتوانیدل چې اورومچي ته نژدې شي چرته چې چینایي حاکم د یو بندي په څېر اوسېده، هلته د عثمان باتور نظامي ځواکونو محاصره کړی و، دا داسې مهال و چې چینایي حاکم له خپلو ټولو مؤتلفینو څخه د جلا کېدو اعلان کړی و، خو د چین نوي کنډکونه د میړېو په څېر راوچلېدل تر څو د عثمان باتور او د هغه ځواکونو سره مخامخ شي.

عثمان باتور وویل:

ای خلکو! زه تر اوسه نا امیده نه یم.

جنراله! په دې شمېر چینایانو سره زموږ مقابله ناشونې ده، پای او پېل یې نه معلومېږي.

عثمان باتور ډاډه خندا وکړه او زیاته یې کړ.

مینه ناک زړه ته ور وګرځئ، غره ته.

څنګه؟

مصطفی حظرته! له هغه ځایه به نوی پیل کوو.

باداره...

پوهېږم چې څه وایې، غواړې چې جګړه دې د اورومچي په شا او خوا کې دوام پیدا کړي، او دلته باید تر مرګه مقاومت وکړو، دا ډېر ستر کار دی، خو له دې څخه ستر کار دا دی چې موږ ژوندي پاتې شو او د اسلام خاوره له دوی پاکه کړو، خلکو ته بېرته غرونو ته د ستنیدو اعلان وکړه.

موږ بیا غرونو ته ستانه شوو، خپل شهیدان، ټپیان او غمونه راسره وو، نا امیدي راباندې نه وه حاکمه، په دې خوښ و چې دوښمن ته مو دوه زیانونه واړول، موږ هم قربانۍ ورکړې، خو هغوی لوړه بیه پرې کړه، او زموږ شان او شوکت هم مات نه شو، نه مو ارادې کمزورې شوې، او غر یو ځل بیا د صابرو او کلکو ولاړو نارینه و په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخونو مشرف شو، بیا د لمانځه صفونه ودرېدل، د تکبیر چغې افق ته پورته شوې، او جګړه ایز تمرینونه له سره پیل شول، خندوونکې دا وه چې چینایي رهبر خپل هغه ملګری له منصبه لرې کړ چې د هغه مرستې ته راغلی و، او د هغه پر ځای یې د ختیځ ترکستان لپاره نوی چینایی حاکم وټاکه، عثمان باتور په خندا وویل:

څوک چې څه نه لري په هغه چا سخا کوي چې مستحق یې نه وي، لکه چې زموږ هیواد د هغوی کرونده وي.

نوی حاکم غوسه ناک او عصبي و، هڅه یې کوله ثابته کړي چې د خپل نوي منصب وړتیا لري، نوی سخت او خبیث اقدام یې وکړ، او تر ټولو بد یې دا و چې د ترکستان د ټولو باسواده او مثقفو خلکو د نیولو امر یې وکړ، په ځانګړې توګه د لیکوالو، شاعرانو او علماوو، حتی د هغو کسانو هم چې تر اوسه یې وسله هم نه وه پورته کړې، او د مرګ وېروونکی منظر یې جوړ کړ چې له دې وړاندې یې په ټول هیواد کې بېلګه نه وه لېدل شوې.

دا ورځ د غرونو هوا هم خفه وه، منصور درغا وویل:

دا مجرم د امت د روح د وژلو هڅه کوي.

ما هم په غمژنه لهجه وویل:

دفکر خاوندان داسې وژني لکه ګډ چې حلالیږي.

هو! دین او اصیل فکر د ولس وجدان دی، دې سرکشه او خبیث په زړه وار وکړ.

منصور درغا په ژړا و، زیاته یې کړه:

یو شاعر پېژنم چې د سبا د هیلو په اړه به یې شعر وایه، او یو ښه عالم پېژنم چې له جګړې دمخه یې ځوانانو ته اسلامي درسونه او تحلیلونه ورکول، تر دې چې د مدرسې د ماشومانو هغه ډله یې هم د مرګ میدان ته بوتله چې په لاریونونو کې به یې شعرونه ویل.

نجمة اللیل راغله، ماشوم یې په اوږو کینولی و، کوچني مسلسل ژړل او هغې به په نرمۍ سره په غېږ کې ښورولو، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه علماء او مثقفین ولې هلته پاتې شول، ایا هغه روښان فکره چې وسله نه شي پورته کولای او غره ته راځي تر هغوی غوره نه دي.
ما له غمه په ډکه لهجه وویل:
دوی خپل عذر لري، او زموږ ملت په هر ځای کې د دوی خبرو ته اړتیا لري، دوی کټ مټ هغه دنده تر سر کوي چې وسله وال یې د غرونو په څوکو کې تر سره کوي، بلکې د دوی دنده کېدای شي زیاته خطرناکه وي، له همدې امله ګورې چې چینایي دوښمن تر نورو دمخه دوی د مرګ کومي ته واچول، ځکه هغوی ته د دوی خطر معلوم دی.
او یو ځل بیا چریکي جنګ پیل شو، چینایان وپوهېدل چې جنګ لا پای ته نه دی رسیدلی، او هر ساعت له غرونو خلک راکوزیږي چې فدایي عملیات وکړي، برید کوونکي وتښتوي، هستوګنځایونه یې وران کړي، او هغه ښېګڼه له منځه یوسي چې دوی حقیقت باله، او د چینایانو بریالیتوب په دردونو، قربانیو، او پرله پسې عذاب واوښت.
په عین وخت کې د ایلي په ولایت کې یو بل ولسي انقلاب پیل و، مشري یې یو ریښتیني هیواد پال کوله چې لوی اسلامي عالم هم و، علي خان نومېده، هغه له چینایانو سره د سختو نښتو په پایله کې وتوانید چې یو ولایت ونیسي او ازاد یې کړي، او شیخ علي خان د ختیځ ترکستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر شو، جنرال عثمان باتور هم د خپلو ملګرو سره د هغه سره یو ځای شوی و، او د همدې باتور قوماندان عثمان د تجربې پر اساس آلتای او چوچیک ولایتونه هم ونیول شول، دوښمن سخت مالي او ځانی زیان ولید، ولسمشر شیخ علي خان د التای د ولایت د والي په توګه د جنرال عثمان باتور د ټاکلو فرمان صادر کړ.
شیخ علي دغه بریالیتوب د هغو وسلو په مټ تر لاس کړ چې د روسانو لخوا ورته بې له کوم قید او شرطه ورکړل شوې وې، او د روسانو هدف یوازې له چینایي یرغلګرو څخه د ختیځ ترکستان پاکول و، خو چینایان هم داسې نه وو چې په یوه ورځ یا شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې تسلیم شي، بلکې تر مرګه یې مقاومت کاوه، د اسلامی ترکستاني لښکر شمېر هم زیات شو، او د ولس هیلې له سختې ربړې وروسته یو ځل بیا تازه شوې.

منصور درغا وویل:

دا دی موږ بریالي شوو، خو زه وېرېږم.

ما په باور سره وویل:

وېره هیڅ معنی نه لري، او موږ ولیدل چې بریالیتوب زموږ په متو تر لاسه کیږي.

منصور درغا په ملنډو زیاته کړه:

د وسلو په نه شتون کې زموږ د متو څه قیمت دی؟

پوه شوم د هغه مطلب د شیخ علي خان سره د وسلو مرستو ته اشاره ده، منصور شکمن و، او له دې وېرېدو چې زموږ کوچنی هیواد به یو ځل بیا د غمژنې لوبې مرکز شي، د توپ هغه لوبه چې ځواکمن یې په خپلو پښو کې تاووي.

نړۍ بدلیږي منصوره!

ولې یې واشتیېل او ویې ویل:

بلکې د بریالیو زړونه له کبر او غرور څخه ډک شوي دي.

د هیواد اشغال به په څه بدل شي.

څه مطلب؟ مصطفی!

مطلب دا چې ملګرتیا د اشغال بدیل دی، او دا پروا نه کوي چې موږ د هغه چا ملګري شو چې زموږ سره یې مرسته کړې ده.

منصور زما کوچنې زوی ته وکتل او زیاته یې کړه:

زه ستا کوچني اولاد ته ګورم، پوهېږې زه د هغه له کبله خفه یم؟

ولې؟

ته فکر کوې چې یوازې موږ د خطرونو او ستونزو ژوند تېر کړ، خو زه درته په باور سره وایم چې ستا زوی او له هغه وروسته نسل به له موږ هم زیات بدمرغه وي.

نجمة اللیل زوی په مینه او وېرې سینې ته ورنژدې کړ او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د زوی په اړه داسې خبرې مه کوه.
ما هم وخندل او منصور هم په خندا شو خو بیا یې خبرې پیل کړې:
شکست خورده چینایانو د سولې غوښتنه کړې.
خو موږ رد کړې.
ماته یې مخ کړ او ویې ویل:
ایا خبر یې هغه هیواد چې زموږ سره یې د وسلو مرسته کړې پر ولسمشر یې فشار اچولی چې د سولې خبرې او سوله ومني؟
ما په حیرانتیا وویل؟
په کوم اساس؟
منصور وویل:
زموږ د خپلواکۍ پر اساس، او زه باید ووایم چې د هغه هیواد هیلې د ولس له غوښتنو هم قوي وې، موږ د چینایانو بشپړه ماتې او غیر مشروط وتل غوښتل، خو هغه هیواد بل څه....باید وپوهېږې.
نجمة اللیل زوی غلی کولو او ویې ویل:
هغه امن چې موږ یې خوب لیده بیا راستون شو، موږ به خپلو ښارونو او کورونو ته ستانه شو، او د ارام احساس به وکړو، زه راتلونکې ښه وینم.
منصور درغا په لاس اشاره وکړه، زما په غوږ راکوږ شو او غلي یې وویل:
عثمان باتور وړاندیزونه رد کړي، زموږ خپلواکي زموږ خپله ده.
ما په تشویش سره وویل:
چینایان به وځي او همدا مهمه ده.
بیا یې ولي واشتیل او ویې ویل:
څوک خبر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۵)

له فتوی غوښتنې او تګلارې د ټاکلو لپاره د چمتوالي پر مهال په هیواد کې خبرې ډېرې او خپرې شوې، د سیاسیونو او مفکرینو تر منځ اختلافات پیدا شول، خو د ایتلافیانو فشار داخلي بدلونونو ته نوي او ځانګړي لوري ورکړل او غونډې وشوې، او هغه خلک برلاسي شول چې د ایتلافیانو د دریځ ستاینه یې کوله، چې د ختیځ ترکستان سره یې د وسلو مرستې کړې، د مبارزې یو والي د ټولو خلکو زړونه په یوه خبره راټولول چې هغه ازادي او د اسلام او خپلواکۍ پر باغچه د هیواد بدلیدل و.

خبرې وشوې، او نتیجه دا شوه چې د چین د شمال لویدیځ عمومي قوماندان جانجي د ختیځ ترکستان لپاره عمومي حاکم وټاکل شو، درې ترکستانیان یې په دنده کې مرستندویان شول، هر یو احمد جان، او برهان شهیدي (دواړه مرستیالان) او لیومون شون د حاکم سکرتر، د دې ځلور تنو دنده د هغو عامو ټاکنو تر سره کول و چې په تړون کې یې یادونه شوې وه، خلکو پسپسک پیل کړ چې دغه درې تنه د ایتلافیانو ملګري دي، ځانونه یې په شیطان وپلورل، خو له دوی څخه د دې شکونو د لرې کېدو کوښښ وشو، او هڅه وشوه چې دوی د اتلانو په څېر انځور کړي، د هغو وطنپالو په څېر چې د هیواد د ازادۍ لپاره یې خپلې دندې اداء کړې، ځکه چې د پاڅونوالو سره یې د وسلو مرستې وکړې او وولسي انقلاب یې په ښه ډول خپل هدف ته ورساوه، سربېره پر دې هیواد د ټاکنو لپاره چمتوالی نیولو، اوس نو د ملت رایه وروستۍ او پرېکنده وه، او هیچا نه شوای کولای هغو جنګیالیو پاڅون کوونکو ته دوکه ورکړي چې د کلونو په اوږدو کې یې د دوښمن مخنیوی وکړ، او د دوښمن پرله پسې هڅې یې شنډې کړې چې غوښتل یې د هیواد استقلال سلب کړي.

په همدې منځ کې موږ مرستندوی هیواد ولید چې هڅه یې کوله درې ولایتونه هر یو ایلي، التای او چوچیک تر خپل واک لاندې راولي، ولسمشر علي خان په خلکو کې اعلان وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د هیواد د خاورې یوه ذره هم نه خوشې کوو، هیچاته به اجازه ورنه کړو چې په درې ولایتونو کې مداخله وکړي، که دوی په شا نه شي موږ چمتو یو چې بیا جګړه پیل کړو.

جنرال عثمان باتور وویل:

هیواد بیا د دسیسو او فتنو په یوه بله هوا کې راایسار شو.

ولسمشر علي خان ځواب ورکړ:

نړۍ د بشریت د زخم په پټۍ کولو مصروف ده او موږ یې پرې اېښي یو.

زموږ جګړه پای ته ورسېده؛ خو نه پای ته نه ده رسېدلې.

علي خان عثمان باتور ته ورلنډ شو او ویې ویل:

جنراله! خپلو ځواکونو ته ستون او چمتو اوسه.

زه پوه شوم چې په سیاسي فضا کې کوم ویروونکي خوځښتونه شته، مېرمنې ته مې وویل:

نجمة اللیل! د سفر وخت نژدې شو.

ارومچي ته؟

هلته تګ نه غواړم، یادونه یې ما دردوي.

بیا نو قومول ته؟

قومول کې هم پخواني تهمتونه شته چې ما او تا به ستړي او خفه کړي.

کاشغر ته پر تګ موافقه کوې؟

هو پروا نه کوي.

ته به هلته د ماشوم سره ژوند کوې، زه ځم غرونو ته.

بیا ترخې ورځې راغلې، او ملګرې یې بیه غواړي.

ولسمشر علي خان د خپلې مېرمنې او اولادونو سره د ریاست په ماڼۍ کې و، شپه ارامه وه، خلک په کورونو کې چې د راتلونکو ټاکنو او نوي دور په اړه یې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولې، چې مانۍ ته د ځوانانو یوه ډله راننوته وسلې ورسره وې، له سترګو یې خیانت معلومېده:

څه غواړئ؟

له موږ سره راځه.

هېر مو شول چې زه ولسمشر یم؟

پوهېږو خو که له موږ سره لانه ړې بې له دې چې مرمۍ وکاروو بله لار به ونه لرو.

شیخ علي خان پټ شو، خلکو هم خبرې پیل کړې چې ولې لکه د پخوا په څېر د جمعې په لمانځه کې نه راڅرګندېږي، او ولې د هغو وسله والو ملګرو سره نه ګوري چې پرون یې مشري کوله او د هغوی سره یې یو ځای د چینایانو پر ضد غوره بریالیتوبونه تر لاسه کړل، د شیخ علي د برخلیک په اړه خبرې او لانجې زیاتې شوې، خو حکومت یو رسمي بیان جاري کړ چې ولسمشر علي خان د درملنې لپاره په سفر تللی.

خو خلک ناڅاپه یو ځل بیا د جاسوسانو سره مخ شول، د استخباراتو کسان په کوڅو، کروندو او کارخانو کې ګرځېدل او په هغو درې ولایتونو کې یې دوښمنان نیول چې ملګري یې د نیولو کوښښ کاوه، یوه بله پرېکړه وشوه او احمد جان ترکستاني د ایلي، التای او چوچیک درې ولایتونو د رئیس په توګه وټاکل شو.

کله چې د اشغالګرو قواوې آلتای ته نژدې شوې جنرال عثمان باتور د خپلو پلویانو سره راڅرګند شو، د هغوی مخه یې ونیوله او جګړه پیل شوه، د دوښمن وسلې وسیلې او شمېر زیات و ځکه عثمان باتور د غوجن سیمې ته پناه یوړه او په لوړو غرونو کې پټ شو.

له جګړې وروسته منصور درغا راغی، په ژړا شو:

څه شوي؟

په ملنډو یې وویل:

هر ځل زړه ته رانژدې څه له لاسه ورکوم، یوه ورځ مې لاس، بل ځل مې ګرانه مېرمن، د امن په دې لنډو ورځو کې مې د آلتای په ښار کې یوې کونډې سره نکاح وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږې په کوم برخلیک به اخته وي؟ زما ښي مټ په مرمۍ ولګید، اوس هم وسله پورته کوم، په دې نا اشنا دنیا کې دا څومره عجیبه شیان وینو؟
زما څنګ ته یې ځان راوغورځولو او تېزه تېزه یې سا اخیسته، اوبه یې داسې وڅکلې لکه یوه اونۍ چې تږی و، بیا یې پر مټ پټۍ لګول پیل کړل، ختې او ګرد یې ځنې پاکول.
پریوتونکي لمر ته یې وکتل او زیاته یې کړه:
کله هم چې د لمر پریواته وخت ته وګورم ماته اخرت رایادوي، لمر پریواته مهال ماته د پای پیغام لري.
ولې دا ټول غمونه منصوره!
کولای شې له دې وروسته راته ماتې خوړلی ووایې.
بیا یې د پخوانیو ترکستاني کلیوالو سندرو په ویلو پیل وکړ.
ای ګرانې! شپه په ستورو پسولل شوې
په تیارو او چوپو لارو د یو بندي په څېر فریاد کوي
لکه د یوې ښایسته سندرماري مخ
چې تک تور وي
د مریانو له ساحل څخه وي
ګانه یې ارزانه وي
خو بیا هم ځلیږي
زما سترګې اوس هم غوښتنه کوي
ستا د ځلیدونکي مخ
ای ګرانې! خو زموږ لیدل ناشوني دي
زما خوښي د غونډیو په نامعلومو کې اوسیږي
ما ورته په ټوکو کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا معشوقه کونډه او له ځلوېښتو کلونو اوښتې، او بې شکه چې اوس به په ژور خوب اوده وي.

منصور په غمژن حالت سره راوکتل او ويې ويل:

درته مې ونه ويل؟ دا دی هغوی خپل کار وکړ، درې ولايتونه يې جلا کړل، هغوی اوس په نورو ولايتونو کې ژوند کوي، اوس خپل نفوذ کاشغر او اورومچي ته هم خپروي، د هغوی کونسلګيرۍ خلک اخلي، سرې تښتوي، سره او سپين زر يې هم وپيرل او قيمت يې لوړ شو، ته له دې خبر يې؟ دوی اقتصاد، سياست، فکر او دين خرابوي او د هيوادوالو ژمنې هم.

هغه سيمه چې موږ پناه ورورې وه رښتيا هم محکمه وه، د لارو د سختوالي له کبله هيچا نه شول کولای پر موږ بريد وکړ، او هر هغه ټولی چې دوښمن موږ ته راوړاندې کړی موږ توانيدلي يو ټول له منځه يوسو، موږ اوس د چريکي عملياتو په برابرولو ښه پوه شوي او تجربه شوي وو، دوښمن هڅه کوله چې درواغ اعلانونه وکړي، عثمان باتور ډېر غوره عمليات رهبري کړل، اوموږ د آلتای پر لور په غټو ټوليو کې روان شوو، په نيولو يې وتوانيدو، دوښمن مو وشړلو، خاينان او د هغوی پلويان هم وتښتېدل، جنرال باتور يو ځل بيا په دې ولايت خپل واک قايم کړ.

دا ورځ ايله منصور درغا وخندل او ويې ويل:

دا زما د ښکلې کونډې قسمت دی، نژدې وه دوهم ځل کونډه شي.

ښار ته ننوتو، محجبو ښځو به د جنرال ښه راغلاست په سندرو کولو او سرې هم د مبارکيو د ځوږ سره راووتل، ماشومانو به حماسي ترانې ويلې، کله چې هم موږ برياليتوب تر لاسه کړو، زموږ د هيواد اصلي څېره راڅرګنده شي چې په خوښۍ کې ډوب وي، منارې روښانه شي او د تکبير او تسبيح اوازونه ترې پورته کيږي.

احساس کوم چې زموږ نيکونه لکه فارابي، البيروني، بخاري، ابن سينا پټکي وهلي او د لارې په څنډو کې ولاړ دي، زموږ د جهاد مبارکي راکوي او زموږ راتګ ته ښه راغلاست وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس کوم چې پخوانی برم بیا راژوندی کیږي، او زما روح له هیلو ډکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۲)

منصور درغا په غمژن او خپ اواز وويل:

موږ د اوبو اخستو په شان يو ، ابو کې لاهو شوی هميشه کوښښ کوي په خپلو متو د مرګ سره مقاومت وکړي، وهل کوي او کمزوری کيږي او په کمزوری کې ځپې په مخ وهي، بيا غرقيږي، او هلته د بحر د تل په تيارو کې د ژوند سره په چوپتيا او غم سره مخه ښه کوي، آه.... مصطفی حضرته! موږ همداسې يو ، څه فکر کوې له مرګ وروسته به مو څوک ياد کړي؟

منصور درغا خبرې کولې، او داسې يې انځوروله چې اوبو اخيستی؛ خو زما خوا ته ناست و ، او په ډېر حماسي ډول يې لامبو وهله، وروستی پوښتنه يې په داسې حال کې وکړه چې له سترګو يا سا او تيګا و ، لکه چې په رښتيا هم د ځپو سره مقاومت کوي.

ما پوښتنه وکړ:

دا نو څه ارزښت لري، چې موږ خلک ياد وساتي؟

پر مخ يې جديت و او ځواب يې راکړ:

ستر ارزښت لري.

څه؟

چې خلک مو هېر کړي د دې دا معنی ده، هغه قدرمنه موضوع چې موږ يې له امله مبارزه کوو مړه شوې ده.

ما ولي و اشتيل او ومې ويل:

موضوعات د خلکو په مرګ نه مري.

منصور له ملنډو ډکه خندا وکړه او ويې و يل:

له سړيو پرته قضيې هم نه وي، خواجه نياز، جنرال شريف خان او د قومول امير مړه شول، موږ اميران او جنرالان نه يو ، خو قضيه ژوندی ده، صبر وکړه زما خبرې پرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، زما لومړی مېړمنه مړه شوه، بیا مې کونډې سره نکاح وکړه، خو بیا هم قضیه ژوندی ده، خو په ډېر تاسف سره، موږ د څپو سره مقاومت کوو، ته فکر کوې چې موږ به د امن ساحل ته ورسیږو یا به د ژغورنې کښتی راشي، او که په تیاره او چوپو ژورو کې به د مرګ سره مخ شو؟

آلتای زموږ په واک کې وه، عثمان باتور چمتوالی نیو او لښکر یې راټولاوه، پاڅونوال له هر هغه ځایه موږ ته راتلل چې دوښمن به نیولو یا به خاینانو تر لاسه کاوه، هغه سوداګر هم زموږ سره یو ځای شول چې بې وزله شوي وو، او هغه شتمن هم چې فقیرانو یې مالونه لوټ کړی وو، هغه بې وزله هم راسره یو ځای و چې مسخره کېدل به یا به بې مزده کار ته اړ کېدل او یا به یې یوازې د یو وخت خوراک په مقابل کې کار کاوه، هغه علماء هم زموږ سره یو ځای شول چې ډول ډول عذابونه ورکول شوي او سپک کړای شوي وو.

یوه ورځ یې پوځ رامخکې کړ، عثمان باتور همدا اټکل کاوه، دا ځل یې زیات عسکر راوستل چې په آلتای د خونړې سیل په څیر راروان وو، شمېر او وسایل یې هم زیات وو، خونړی او سخته نښته وشوه، دواړو خواوو تلفات ولیدل، خو هغوی بریالي شول چې آلتای ونیسي، موږ بېرته غرونو او ناوونو ته ستانه شوو، باریکول مو د خپل ځان لپاره مرکز وګرځاوه چې د شاته تګ پر مهال به ورتلو، عثمان باتور به ویل:

تر مرګه مقابله.

زما له سر وینې روانې وې، منصور درغا زما ټپ پټی کاوه او په خندا یې وویل:

لکه چې په کرار کرار مرګ مړه کیږو.

ته په بیا ژوندي کېدو ایمان نه لرې؟

منصور په سوړ او ارام افق کې نظر وزغلولو او ویې ویل:

ایمان لرم، موږ په اخرت کې راژوندي کیږو، خو زړونه به مو لکه صفا میوې وي، کرکه راسره نه راژوندی کیږي، زه له دوښمن څخه سخته کرکه لرم، خو که دا کرکه له منځه ولاړه شي نو بیا به زه یو ستر خوند هم له لاسه ورکړم، زه له خدایه سوال کوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کينه ناک راژوندی شم، دې شيطانانو هغه کارونه وکړل چې تصور يې نه کيږي، آه....
مصطفی! زموږ ځينې ملګري يې يوه جګړه کې بنديان کړل، ياد دې دي؟ د ټانګونو پورې يې وتړل؟ ياد دې دی؟ د هغوی سترګو او غوږونو ته به يې مرمۍ ويشتې، او په مسخرو به يې و يل چې وروستی پاڅونوال د وروستي عسکر په کولمو اعدام کړئ، رښتيا هم داسې يې وکړل يو عالم يې زموږ د يو جنرال په کولمو راځوړند کړ، او ويې واژه، ايا ممکنه ده چې يو انسان دا هېر کړي.
د هجرت او غربت حادثه زموږ لپاره سخته وه، ځينو ملګرو د نوي چينايي حاکم سره ملګرتيا غوره کړې وه، چې زموږ ببخ وباسي، موږ يو خوا بل خوا فکر کاوه خو کوم دوست او مل مو بيا نه مونده. عثمان باتور په اسمان کې سترګې خښې کړې په لاس يې اشاره وکړه او ويې ويل:
دا له موږ سره دی.
او هغو خلکو چې له ټپونو يې وينې بهېدې او دردېدل چغې کړې: الله اکبر.
منصور درغا وويل:
موږ به د غرونو منځ ته ولاړ شو، بيا به ښار ته راوګرځو يا نه، څه فکر کوې چې يو کوچنی سفر ولرو؟ غواړم له مېرمنې مې ډاډه شم، او ته نه غواړې مېرمن او زوی دې وګورې؟
حقيقت دا و چې زه هم د نجمة الليل او خپل هغه زوی چې اوس غټ شوی و ليدلو ته سخت ليوال وم، خو موږ شړل شوي وو، پاڅونوال وو، او که دوښمن نيولي وو معنی يې حتمي مرګ و، ما په تشويش سره وويل:
ښار موږ ته د مرګ د کروندې په شان ښکاري.
مصطفی ته له مرګه وېرېږې؟ راځه! موږ به اوس پټ يو؛ خو نوې نړۍ به زموږ په مخ کې وګورې، په ښار کې به بيرغونه او شعارونه ووينې، ښار به بوللې او د مخه ښې قصيدې وايي، مصطفی! ښارونه د انسانانو په څېر دي خفه کيږي او درديږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعرونه زمزمه کوی، په غم خپل مخونه وهي، ښارونه ژوندي موجودات دي، د انسان په څېر دي رښتيا وايم.

موږ اوږدې لارې بې له دې چې هويت مو څرګند وي، پرې کولې، کله به مو د شپنو لباس پر تن و، کله به د سوالګرو په شان ښکاريدو چې د ژوند د مړی غوښتنه به مو کوله، او کله به د جواليانو او مزدورانو سره يو ځای کېدو، کله په لاريون کې شريک وو، او کله به مو د يو خاين خو شريف پاڅونوال په سنګسار کې برخه اخسته؛ خو نه به مو غوښتل ډېره مو په هغه ولګيږي، موږ په ګڼه ګوڼه کې داخل و او د عسکرو په سرونو به مو ډبرې ويشتلې، يا د دوښمنانو پر سر يا د خاينو ترکستانيانو پر سرونو، وچ او لامده سره ګډ شول او هيواد کې نا اشنا ګډوډي رامنځته شوه، په لارو او کوڅو کې به د قرآنکريم نسخې، تفسيرونه د احاديثو کتابونه او په خاص ډول زموږ د نيکه امام بخاري کتاب د فقهې او توحيد کتابونه شکيدلي او خواره پراته وو،او عسکرو به پرې اور بلولو تر څو يخنۍ کې پرې ځانونه ګرم کړي.

خو له سختو او دردوونکو شپو وروسته موږ هغه ځای ته ورسېدو چرته چې د منصور درغا مېرمن ميشت وه، وخت له ماښام لږ مخکې و، منصور ننوت، په لوړ اواز يې خندا پيل کړه نژدې وه په شا راوغورځيږي ويې ويل:

ته راشه مصطفی! ښځې خو د حيا پرده وغورځوله.

د مېرمنې اواز مې واورېد چې د ژړا سره په ګډه اواز يې ويل:

پر شيطان دې لعنت وي، دوی زما نقاب د لارې په سر وشکولو او همدا کار يې د هرې پرده دارې مېرمنې سره وکړ، زما چپن يې وتښتوله او اور يې ورته کړ، تر دې چې زما په قميص کې يې هم بياتې وچلوله تر څو لنډ شي، لستوڼي يې هم راته لنډ کړل، دوی زموږ لپاره د پرمختګ او تمدن غوښتونکي دي.

د دې کونډې حالت چې پر تن يې تور رنګی لنډ لباس پروت و، لستوڼي يې دومره لنډ و چې نژدې وه تخرګ يې ځينې ښکاره شي، او شيندلو ويښتانو ماته داسې احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړ چې هیڅکله به یې هېر نه کړم، دا یو خندوونکی او په عین حال کې خفه کوونکی حالت و.

منصور د خپلې مېرمنې لاس ونیو او ویې ویل:

دا نوی ترکستان دی.

ښځې د شرم احساس کاوه، او په زوره یې ژړل، خو منصور په مینه ځان ته رانژدې کړه او ویې ویل:

مه خفه کېږه ګرانې! دلته به زیات وخت پاتې نه شو، هلته به ولاړ شو چې ښځې څه غواړي اغوستلای یې شي، او ګرانې په غرونو کې څېري شوي قرأنونه هم نه وي، او نه داسې څوک شته چې صحیح البخاري تر پښو لاندې کړي.

منصور درغا مې په داسې حال کې پرېښود چې د سبا د ملاقات وعده مې ورسره وکړه، زه د نجمة اللیل او د خپل ماشوم لیدلو ته سخت لیواله وم، هغه اوس ګرځېدای شو، لوبې یې کولای شوې او ماته یې اواز کولای شو، زما د دې ښکلي او ارام ماشوم سره څومره مینه وه.

د ښار شپه وېره او ګواښونه تقسیموي، تر سهاره ګرځېندیز دی، ښار د ښځو نارینه او ماشومانو له داسې مخونو ډک دی چې پخوا پکې نه لیدل کېدل، هغه چې موږ اورېدل رښتیا شول چې دوښمنان ترکستان ته په لوړه پیمانه کډې کوي، او په ورته وخت کې په سلګونو زره د ترکستان اصلي بچیان نورو سیمو ته وړی، دوښمن کارخانې، سوداګریز ځایونه او کرونډې نیسي او نویو مهاجرینو ته کورونه او مؤسسې جوړوي، او همدا راز فاحشه خانې، د ازادۍ تر نامه لاندې ډلې ډلې چینایي پېغلې ګرځېدې، په بیلا بیلو ژبو واړه کتابونه په ښوونځیو، لارو او هر ځای کې موندل کېدل، دا کتابونه خاص زموږ د هیواد لپاره لیکل شوي وو، دا کتابونه له دې غرېدل چې ولسونه حق لري خپل برخلیک وټاکي، داسې اتلان پکې یادیدل چې مخکې یې موږ نوم نه و اورېدلی، عثمان باتور، خواجه نیاز، او رئیس علي خان پکې د غلو او لارې شکوونکو په څېر ترسیم شوي وو، او نوی تاتاري حاکم چې زموږ پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیواد يې تجاوز کړی او د رئیس علي خان ځای يې نیولی و پکې د قومي اتل په توګه پېژندل کېدو چې ولس يې ازاد کړی دی، د هغه د ستاینو سندرې ویل کېدې، د پرمختګ ملګری او د ازادي خواهانو پلار معرفي کېده، دا هغه ښار نه دی چې ما لیدلی نه يې هغه سړي دي، او نه يې ماشومان هغه پخواني دي، دا بربنډې مخ لوڅې ښځې زما د ښار نه دي.

بالاخره هغه ځای ته لاړم چې زما مېرمنې پکې ژوند کاوه، غمژن زړه مې د مېرمنې او زوی سره لیدلو ته د خوښۍ ټوپونه وهل، چې د نجمة اللیل مخ ته وګورم د ډاډ احساس کوم، ورو مې دروازه وډبوله، د درندو قدمونو اواز مې واورېد، چې دروازه خلاصه شوه نژدې وه چغه کړم، پوښتنه مې وکړه:

ته څوک يې؟

ماته يې په پړسیدلو سترګو، سور او پړسیدلي مخ وکتل، د سر له ویښتانو يې یو څه زړښت معلومېده، او له ګڼو بریتونو يې د چنبلې ښوروا څاڅکي لا هم څڅېدل، ويې ویل:

نه پوهېږې زه څوک یم؟ ټول ما پېژني، زه د هغو کارګرانو مشر یم چې د پاڅونوالو مشران يې نیولي دي.

څرګنده وه چې دا یو جاهل سړی و او په هېڅ نه پوهېده، سره له دې چې د همدې ځای په ژبه غږېده خو مخ يې نا اشنا و، د مخ حالت يې همداسې و، په مخ کې يې تشدد او له سترګو يې کرکه څڅېده.

داسې ښکاري چې تا لاره غلطه کړې.

دا يې وویل او بیا يې دروازه بنده کړه.

کاشکې راسره د کور دیوالونو خبرې کړې وای، دا یو ډول کوچنی اشغال دی، زما زړه ته وېرې لاره پیدا کړه، زما مېرمن او زوی چرته لاړل؟ باید په نرمۍ او سوچ سره اقدام وکړم که نه نو وبه نیول شم، او که زندان ته لاړ شم نو د عمر تر پایه به ترې راونه وځم، سره له دې چې زما په روح تشویش حاکم و، او پوه پناه کوونکي پاڅون مې زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



را څېرلو بيا مې هم د صبر او ارامۍ لمن ونيوه، په پخواني کلي کې په ګرځېدو شوم چې نيم نړېدلی و، د سيمې خلک ما هم پېژني او ځينې يې زما مېرمن او زوی هم پېژني، دلته يو سپين ږيری و په مسجد کې يې د خادم په توګه کار کاوه، يو نايي هم پېژنم چې دوکان يې د لارې پر سر و، ده به زما د زوی طلايي ويښتان خريل، کاشکې يې د هغه د ښکلو ويښتانو يو څو تارونه ساتلي وای، خو مسجد تړلی و، پېژندګلو مې هيڅوک ونه ليدل، نايي ته ورغلم، د يو سړي ويښتان يې جوړول، ماته يې د سترګو په کونج وکتل، زما سترګې ورسره وجنګېدې، نيت مې وکړ چې د پخوانۍ مينې په شان سلام پرې واچوم، خو هغه ژر سترګې پټې کړې، زما په ليدلو خفه نه شو، داسې ښکارېده چې زما سره خبرو ته ليوال نه دی، په فکر کې شوم چې څه وکړم، ښه نو بايد په دې پخوانۍ لرګينه چوکۍ کېنم، ګورو چې څه کيږي، پام مې شو چې نايي په کار کې تېز شو، خپله اجوره يې وغوښته، او سړی ولاړ، ماته يې اشاره وکړه چې د هغه سړي پر ځای کېنم.

څه شوي کاکا عبد الخالقه؟

په داسې حال کې چې زما په ګڼو ويښتو کې يې کار پيل کړی و ويې ويل:

دلته څه له راغلې؟ د عثمان باتور پلويان چې ونيول شي سمدلاسه وژل کيږي، ښار ته څنګه رانغوتې؟ بايد ژر تر ژره ووځې کنه ژوند به له لاسه ورکړې.

ما په ملنډو وويل:

څه روان دي؟

زه نه پوهېږم خو نايي ژوند غواړي.

نجمة الليل چرته لاړه؟

وتښتېده.

په حيرانتيا مې وروکتل.

ماشوم يې ورسره واخيست او ووته، نور ترې هيڅ نه يم خبر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمکه راباندې وچورلېده، د بیاتي اواز مې د دماغو تشویش لا زیات کړ، عبد الخالق هم هغه غمونه درک کړل چې پر ما تېرېدل او زما د لیونتوب اثار یې ولیدل.

په حکمت سره اقدام وکړه مصطفی! مورې په یوه بدمرغه زمانه کې یو چې رحم او الله نه پېژني.

ما په خپ اواز وویل:

مېرمن مې چرته لاړه؟

اغلب ګومان دا دی چې د قومول لاره به یې نیولې وي.

ولې قومول ته؟

نو که قومول ته روغه ورسیږي، په هر ځای کې نیول دي، دې هیواد ته جادویي غټ لاسونه رااوږده شوي چې عام خلک نیسي، ګډوډوي یې او زېښي یې، ښي او چپ لور ته یې سره اړوي را اړوي، نه پوهېدم څه ووایم، څنګه تعبیر وکړم، تاته بهتره دا ده چې له دې ولسوالۍ ووځې ځکه بالاخره د دوښمن لاس ته ورغلې ده.

ناشونې ده.

مخ یې زیړ شو، په تشویش کې شو او ویې ویل:

اواز مه لوړوه مصطفی! مورې کوچنی ولس یو چې بلاوې ورته له هره اړخه راځي، له څلورو خواوو وېرې محاصره کړی، څه شیبه د عبد الخالق تر لاسونو لاندې ناست وم، او مخکې تر دې چې له دوکانه یې ووځم، زما په سینه یې د دوښمن نښان وټومبه او ویې ویل:

دا نښان به په ډېرو ستونزو کې له تا سره مرسته وکړي.

ما نښان له سینې وویست، په خورو ورو ویښتانو کې مې په ځمکه وویشت، لاړې مې پرې تو کړې او په بوټانو مې ووهلو، او روان شوم، چرته ځې؟ زه په خپل هیواد کې د مسافر په شان یم، دا زما زمکه نه ده، ملګري مې تښتي، او مېرمن مې د سترو پېښو په بحر کې ډوبه شوې، منصور درغا ته ورځم چې شپه د هغه سره تېره کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د منصور کور ته ننوتم، ګورم په يوه څنډه کې ناست دی، مېرمن يې ورته مخامخ ده او خوراک ته لاس نه وروړي.
زما په ناڅاپي راتګ خوشحاله شو، منصور په خفګان راوکتل او ما ورته وويل:
هيڅوک مې پيدا نه کړ.
سر يې وخوځولو او ويې ويل:
يعنی هغه د زوی سره تللې ده؟
هو، خو هيڅوک نه پوهيږي چې چرته تللې.
منصور چې مخ يې سور راخوټيدلی او بريتونه يې لړزېدل وويل:
دا ښه ده.
پوه نه شوم چې څه يې مطلب و، خو دا خبره يې په داسې حال کې وکړه چې ناهيلۍ يې زړه څېرې کاوه.
نه پوهېږې؟ مېرمن مې له مرګه خلاصه شوه خو قيمت يې هم پرې کړ.
کوم قيمت؟
دې دوښمنانو ته ميلمستياوې برابرولې، پوه شوې؟ هغوی راغلي وو، د نشې په حالت کې کور ته راننوتل ما هم وليدل، پوه شوې؟
زه په يو کونج کې د وېرېدلې مرږې په شان پټ شوم، چې ومې نه وژني، او هغې........
هغې مېرمنې مې هغوی مچول او ټوکې يې ورسره کولې، زما له امله يې داسې کول، هغه همداسې وايي، وايه کنه ای نېکې رنډۍ!
هغې په وېريدلي حالت کې وويل:
مرګ مې غوره ګڼلو، خو زه بې زړه شوم، په زور يې راباندې تېری وکړ، زما بل ځای نه و چې ورغلی وای، ای خدايه! ولې مې ځان ته نه غواړې؟ منصوره! په ما رحم وکړه، دوی د سترو علماوو د مېرمنو او لوڼو سره هم داسې وکړل، زه فکر نه کوم چې دا دې حقيقت او رښتيا وي هميشه داسې فکر کوم چې دا خوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منصور په داسې حال کې چې اننګي يې اوښکو لامده کړي وو، خو هڅه يې کوله چې ټوکې وکړي وويل:

ښه ده، نن شپه به د ښو ميلمنو په شان دلته تېره کړو...

ستا سره اى نېکې فاحشې! او سبا به ځو...

ته طلاقه يې..... او ته.... څه ووايم؟ څوک ملامته دى؟

اسمان، زمکې او ماته يې کتل او بيا يې د ليوني په څېر په زوره وخندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۷)

موږ په عامه لاره روان وو، منصور درغا وګونېد او ويې ويل:
فکر مې وکړ چې د ژوند لپاره مې يو حد وټاکم، خو ځان وژنه راته بزدلي او تېښته ښکاره شوه، او دا کار زموږ د دين د هغو احکامو سره هم په ټکر کې دی چې موږ زده کړي دي، ای مصطفی! دې کار زه زيات ودردولم چې زه په يو وخت جګړه هم وبايلم او خپل ناموس هم، خپل ځان ته مې د کوچنيوالي احساس وکړ، داسې خيال راغلو چې زه د هر هغه څه چې پيښ شوي نېغ په نېغه مسئول يم، يوازې زه، ما ته همداسې ښکاري.
منصور په داسې يو حالت کې و چې زړونه پرې دردېدل، د سختو نفسياتي ستړتياوو لاندې راپريوتی و، هر څه يې په وړاندې نړېدل، پاڅون، باعزته نارينه، د مسجدونو منارې او ګمبدې، هغه اسلامي ارزښتونه چې ده يې تر سيوری لاندې ژوند کړی و، مېرمنه يې که څه هم هغې نه غوښتل بدلمنې شوې وه، سره له دې چې زما دردونه او غمونه هم په بدوالي کې له هغه کم نه وو، خو هغه ته مې دلاسا ورکوله:
تا ځان له توانه زيات مسئول بولې، ته څوک چې په دې سختو ورځو کې د رامنځته شوو ټولو پېښو مسئول يوازې خپل ځان ګڼې؟ ته څوک يې چې ځان دوښمن ته وړاندې کوې؟ منصوره! ته يو کمزوری فرد يې، او خپل مسئوليت دې اداء کړی.
سوړ اسويلی يې وويست، سترګې يې په پراخه او اږده لاره کې نښتې وې، ويې ويل:
زما مسئوليت؟ اوس هم شته، مسئوليت مو تر مرګه په غاړه کې پروت دی، تر څو چې ژوندي يو بايد څه وکړو، او کله چې ته نا اميده شوې او په دې باوري شوې چې له کار کولو څه ګټه نه شته نو دا معنی چې د امانت سره دې خيانت کړی دی.
ما درک کړه چې د مېرمنې غم پرې زيات اغيز کړی، ورته مې وويل:
ښځې ډېرې دي.
په نا اشنا خندا يې راغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د هیواد ابرو تر پښو لاندې شوه، نه پوهېږم مونږ څنګه ژوند کوو، خورو، اوده کیږو او اولادونه زیږوو.
له لرې ځایه مو د خلکو ګڼه ګونه ولیده چې په لاسونو کې یې کولنګونه او تبرګي نیولي، پولیسان هم ځي راځي، له یو چا مو وپوښتل:
څه دي؟
دوښمن غواړي یو مسجد ونیسي او د خامو موادو ګودام ترې جوړ کړي، د مسجد ملا امام په دروازه کې ولاړ دی او منع کوي یې، امام یې ونیو، د مسجد مخې ته یې د یوې ونې پورې وتاړه، او اوس پسې ملنډې وهي، لاړې پرې توکوي، او د ونو په لښتو یې وهي، وینې یې پر بدن روانې دي.
مونږ ودرېدو، منصور درغا وویل:
ولې ودرېدې؟
مونږ باید په بله لار ولاړ شو.
منصور وېروونکې خندا وکړه او ویې ویل:
زما سره وسله هم شته او څه مې زېرمه کړي هم دي، او هیڅ ځواک نه شي کولای ما د امام خوا ته له تګ څخه منع کړي.
خپل ټوپک او یو څه مرمۍ یې د خپل ډبل چپن لاندې پټې کړې وې، او له دې وړاندې چې زه ورته متوجه شم چې څه کوي، د مسجد لور ته یې منډه کړه او د مسجد شاته پټ شو، ما کوښښ وکړ ورپسې ورشم او ملګری یې شم خو ومې نه موند، او په داسې حال کې چې ځوانانو د مسجد ملا امام وهلو، خندل یې او د هغه پسې یې ملنډې وهلې، څو ډزې وشوې او د ملا امام څنګ ته درې تنه په ځمکه وغورځېدل، په وینو لت پت وو، ترڅ شوي مظلوم ملا امام چغې کړې.
الله اکبر. دا د الله تعالی غچ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو د مسجد بام ته سترګې پورته کړې، منصور درغا د منارې او ګومبدې تر منځ د مسجد په بام ولاړ و، ما یوازې د هغه سر او ټوپک لیده. له هغه مې واورېدل چې په لوړ غږ یې وویل:

ای سپیو! دا د الله کور دی، ستاسې ناولي قدمونه به یې پایمال نه کړي.

زما زړه وغورځېدو او وېره پرې ننوته، منصور اوس مرګ ته مخامخ ولاړ و، او خپل ځان یې حتمي ناورین ته ورکړی و، زه نه پوهېدم څه وکړم، هغه یو د بل پسې ډزې کولې، ډېر راټول شوي ځوانان یې ټپیان کړل، پولیس او نور خلک هم متوجه شول او چغې یې کړې:

خاین، خاین، سخت دریځی، تروریست.

هغوی وسلې د منارې او ګومبدې په لور واړولې، چوپتیا خپره او خلکو منډې کړې، څو دقیقې وروسته د منصور درغا سر بیا راڅرګند شو او غږ یې پورته شو:

مسجد ته به یوازې زما په جسد داخلیږئ، دا د الله کور دی رزیلانو.

بیا ډزې تبادله شوې، یو شمیر نور برید کوونکي ټپیان شول، دوی لاسي بمونه وغورځول، د مسجد له بام څخه د چاودنو غږ پورته او دوړې یې جیګې شوې، اوس نو منصور خامخا مړ دی، لږ وروسته به مرسته راشي، دا یوې زیانمنې جګړې ته ننوت، چې دا کار یې ولې وکړ؟

دوښمن لسګونه مسجدونه نیولي، او که په دې یو ځای کې د هغوی په وړاندې ودریږو نو دا به د دې تریخ حقیقت هیڅ شی بدل نه کړي، ما د خلکو په سترګو کې نیکمرغي ولیده چې ځلېده، دوی په هغه سړي ویاړېدل چې د ګمبدې شاته ولاړ و او د الله له کوره یې دفاع کوله، په څو دقیقو کې بیا دغه ځای ډک شو، خلکو پر دوښمن د ډبرو، او شګو ګوزارونه پیل کړل، او لعنت به یې پرې وایه، دې ځای کې د الله د کور له کبله د کوچني پاڅون منظر جوړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوښمن له شاتګ پرته بله لار نه درلودله، منصور د منارې تر څنګ یوې ورې ګومبدې سره ودرید او په لوړ غږ یې چغې کړې، الله اکبر الله اکبر، لمونځ تیار دی، جمع تیاره ده.

ما د مظلمو او بدقسمه خلکو په سترګو کې اوښکې ولیدې، د مسجد امام هم له هغه ونې راخوشې کړای شو، خپلې جامې یې واغوستې، بیا د اوبو په لور ولاړ څو اودس وکړي، منصور هم د منبر خواته راغلو او ویې ویل:

ای خلکو! کېدای شي دا د مخه ښې لمونځ وي، له دې سره سره بیا هم د الله تعالی یو کور مه پرېږدئ، له هرې لویشت څخه یې دفاع وکړئ، له هرې ډبرې یې دفاع وکړئ، دا ستره معنی لري، الهي معنی لري، هغه معنی چې موږ یې د عقیدې په سیوري کې له سلګونو کلونو راهیسې اوسېدلي یو، د الله لپاره به دوه رکعته لمنځ وکړو.

یو شمیر مسلمانانو هغه وسلې تر لاسه کړې وې چې له وژل شویو، ټپیانو او تښتېدونکو پاتې وې، ما هم یو کلاشینکوف او مرمۍ راواخیستې، هغوی مې ولیدل چې له لرې سیمو څخه راروان دي، په موټرو یې د پوځ ځانګړې نښې دي، هغوی په مسجد اور بل کړ، د دوښمن او پاخوانوالو تر منځ نا انډوله جګړه پیل شوه، ما په زړه کې وویل چې عثمان باتور په باریکول کې منتظر دی، نیت مې وکړ چې ووځم د منصور درغا په لټه کې شوم، څه ګورم چې هغه د مسجد په دروازه کې پروت دی او وسله یې په ښي لاس کې ده، بل لاس یې څنګ ته غورځېدلی او د وینو په ډنډ کې ډوب دی، ښه ورنژدې شوم، روح یې وتلی و، د هغه په څنګ کې زیات شمېر نور هم وو، چې په مرمیو لګیدلي او مړه شوي وو، د مسجد امام هم مړ شوی و، سپینه ږیره یې په وینو رنګ وه، زه په چټکۍ ووتم.

هغه رحمه الله پوهېدو چې مسئولیت یې تر مرګه په غاړه کې پروت دی، او د مسجد په درشل کې شهید شو، خاینان یې په رڼا ورځ او د هغوی په ډله کې په نښنه کړل، خلک یې هم شا او خوا راټول شول، بې شکه چې نېکمرغه مړ شو، د قومول لاره خطرونو ترلې وه، خلکو د مسجد د پېښې، دوښمن د غدر، او د هغو ټولټاکنو په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې کولې چې دوښمن يې د جعلي کولو هڅه کوله؛ خو د هغوی د هڅو سره سره يې بيا هم پايلې د ملت په ګټه شوې، نو دوی دوکې ته مخه کړه، وژنې پيل شوې او ازاد خلک زندانونو ته واچول شول، ملت په هر څه پوهېده، هغه درواغ چې په اخبارونو کې نشرېږي ډېر ښکاره دي، ورځپاڼې په درواغو او باطلو ډکې دي، د دوښمن غونډې، مقررين او خطيبان لګيا دي، او په ديوالونو لګېدلي اعلانونه او شعارونه ټول د اشغال د هغه بربنډ او پټ مخ څرګندونه کوي چې دوښمنان پکې شريک دي.
د ايلي، التای او چوچيک درې ايالتونه دوښمن په جنګ کې ونيول، او پاتې نور اوه ولايتونه چې يو خاين اداره کول هغه د چين سره د لويديځ ترکستان د الحاق اعلان وکړ، بس نو په خلکو کې وېره خپره شوه، په هر کور کې ماتم شو، او د لا زيات تور راتلونکي انتظار يې ايست چې په لا زياتو ستختيو او خطرونو به پوښلې وي.
او دا چې دوهم ځل چينايي ځواکونه د ختيځ ترکستان خاورې ته داخل شول، خلک وپوهېدل چې دا به يو ځل بيا ظلمونو او ځورونو ته لاره هواره کړي، په داسې حال کې چې پخواني يادونه يې لا په ذهن کې پراته وو، پاڅونوالو پرېکړه وکړه چې د عثمان باتور په مشرۍ به مقاومت ته دوام ورکوي، او دوهمه ډله به د پخواني حاکم د مرستيال محمد امين بغرا په مشرۍ له هيواده بهر ته مخه کوي، څو نوره نړۍ پر ترکستان د چين له تيري خبره کړي، او مرسته وغواړي، دغه پلاوی ووت، او د کشمير اړوند د لداخ[۲] ښار ته ورسيد، په داسې حال کې چې د پلاوي درې نيمې برخه غړي په سرحدونو کې د چينايي پوځ سره په خونړيو نښتو، لوږې، يخنۍ او نورو لاملونو له کبله په شهادت رسيدلي وو.
د پاتې ژونديو هم غړي فلج شوي وو، ځکه چې په واورينو او سختو لارو او کنډ کپر غره ايزو پيچومو يې دوه مياشتې مسلسل مزل کړی و، له پنځو نهرونو تېر شوي وو، او دا چې لاره کږه، او نهرونه مستقيم نه بهېدل نو له همدې نهرونو دوه سوه ځلې

---

۲-لداخ سيمه د کشمير د هغې برخې اړونده ده چې د هندوستان لخوا اداره کيږي. پښتو ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښتي وو، د لوړو غرونو سرونو ته ختلي وو چرته چې اکسیجن کم وي چې د دوی له پوزو به وینې بهېدې، او هم به یې څاروي د ورته ستونزو سره مخ کېدل، خو بالاخره ډېر کم یې د کشمیر مرکز سرینګر[۳] ته وررسېدل، دا سفر د ستونزو ګاللو بې بېلګې مجسم انځور و، هغه ستونزې او سختۍ چې زموږ مسلمان ولس ورسره د خپل دین، ازادۍ او استقلال ساتلو په لار کې مخ شو.

خو ما ونه شول کولای په قومول کې نجمة اللیل او خپل زوی پیدا کړم، قومول راته هغه ویجاړه خاوره ښکارېده چې تریخوالي، غمونو او عذاب لړلې وي.

خلک په تېښته او منډه کې وو، ډېرې کورنۍ غرونو یا هغو سرحدونو ته ورسېدې چې د ځان لپاره امن ځای پیدا کړي او دوښمن یې تعقیب نه کړي.

ما د باریکول لاره ونیوله چرته چې عثمان باتور او د هغه شل زره پاڅونوال ملګري د لوړو غرونو په منځ کې اوسېدل، زه دا ځل بیا یوازې راستون شوم په داسې حال کې چې منصور درغا مې د مسجد په دروازه کې په ابدي خوب ویده پرېښود، تر څو د مسجد خاوره په خپلو پاکو وینو خړوبه کړي.

په لومړي ځل په خپل ګران هیواد کې له یو سخت او ستونزمن سفر وروسته یو څه ډاډ احساسوم، د غرونو غېږې ارام او رضاییت ورکوي، دلته زه پاکه هوا تنفس کوم، د زړه له تله د الله پاکي بیانوم او هغه ذات ته دوعا کوم، د پرمختللیو وسلو تمرین کوو، خو بیا هم دا لاسي وسله ده او د دوښمن د الوتکو او ټانکونو سره نه برابرېږي.

څومره مې زړه کېده چې نجمة اللیل ووینم، او خپل زوی وګورم چې اوس غټ شوی دی، خبرې ورسره وکړم، لوبې ورسره وکړم او د وسلې استعمال ورزده کړم.

آه زما زړه! فکر کوم چې ته ډېرې ته ورته یې چې د زړه ته رانږدې خلکو په یادولو نه لړزېږې، او د دیدن هغو ورځو ته دې مینه نه کېږي چې په کورنیو کې وو، هغه ورځې چې د خوښۍ په ټولو معناوو سمبالې وې، خو ته هم له غوښې جوړ یې، ستا څه ګناه

---

[۳]-سرینګر د کشمیر د هغې برخې مرکز دی چې د هندوستان دحکومت لخوا اداره کېږي. پښتو ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده او زما څه ده؟ زه په پراخه افق کې سترګې لرې لرې اړوم، او په کروندو، ځنګلونو، ښارونو، کارخانو او لښکرونو کې د میلیونونو خلکو د شتون تصور کوم، د هغوی په مخونو کې د خیال په سترګو د خپل زوی مخ لټوم، چرته یې زما زویه؟
اوښکې مې له سترګو څڅېدې، زړه مې له مینې او شوقه درزېده، چې کوم ماشوم به مې ولید د شوق په نظر به مې ښکل کړ، او تر هغه به مې پسې کتل چې له سترګو به پناه شو، ډېر ځله به پسې شاته روان وم، تازه میوې به مې ورکولې، او د هغه کوچني ماشوم پوښتنه به مې ځیني کوله چې نوم یې نیاز مصطفی مراد حضرت دی، او مور یې نجمة اللیل نومیږي.
آه ای زما زړه! څومره مې په هغو وهمونو، یادونو، او سوځوونکي شوق باندې عذابوي چې د غرونو یخني یې نه شي وژلای، د زمانې پېښې پرې نه غالبه کیږي او خونړۍ جګړې دې ترې مخ نه شي اړولای.
عثمان باتور کوم ساده څوک نه و چې د حالاتو واقعیت درک نه کړي، او د پېښو په جریان پوه نه شي، هغه له حکمته ډک اتل رهبر و، هغه پوهېده چې په غرونو کې ورسره میشت شل زره وسله وال پوځ د دوښمن د میلیونونو شمېر په وړاندې نه شي درېدای، خو باور یې په څو شیانو پوخ و، یو دا چې پاڅون باید ژوندی پاتې شي او په اسلامي جهاد کې دوام ومومي، او دا چې د ذلت، ظلم، او جبر دیوالونو شاته میشت ولس باید په مسلسله توګه د پاڅون خبرونه تر لاسه کړي، نو کېدای شي چې وولس هم په پاڅون لاس پورې کړي، او استعمارګرو ته په پاتې کېدو کې داسې جهنم جوړ کړي چې د زغملو توان یې نه لري، او د جهاد دوام به نړۍ د مظلومو ملتونو د قضیو مرستې لپاره په خوځښت راولي.
سربېره پر دې د عثمان باتور او ملګرو ذهن ته یې هم نه راتلل چې ماتې ومني، هغه به په هر وخت کې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زموږ تقدير دی، موږ ته ليکل شوي چې د ژوند تر پايه به وسله نه ږدو، او دا موږ ته غوره ده چې د الله تعالی ملاقات ته ولاړ شو تر دې چې دوښمن ته تسليم شو، الله ډېر لوی دی،لا حول ولا قوة إلا بالله.

اشغالګرو له پاڅونوالو خطر احساساوه، له همدې امله يې د خپلو ګوډاګيو وفد باريکول ته راواستاوه او هيواد پالانو ته يې بلنه ورکړه چې د وولسي حکومت پر ضد له بريدونو لاس واخلي، همدا راز يې بلنه ورکړه چې د هيواد پلازمېنې ارومچي ته راشي او دولتي مسئولينو ته خپلې غوښتنې وړاندې کړي.

عثمان باتور ووېل:

ارومچي ته د مشرانو تلل له ځانه سره ستر خطر هم لري، ځکه موږ د دوښمن له مکر او غدر نه په امن کې نه يو، ارومچي ته ولاړ شئ او زموږ غوښتنې اعلان کړئ، دا غوښتنې د ازادۍ ضمانت ورکول دي، د نظر ازادي، د عبادت ازادي، نيونې بايد بندې شي، د شخصي ملکيتونو غصب ودرول شي، او دا چې دغه ولس به خپل برخليک په خپله ټاکي هيڅوک به پکې مداخله نه کوي.

عثمان باتور د دوښمن له لوبو او پلانونو ناخبره نه و، له همدې امله موږ شپه او ورځ يوې پربکنده جګړې ته چمتوالی نيو، هغه پلاوی چې اورومچي ته تللی و کومې نتيجې ته ونه رسيد، زه د جنرال څنګ ته په داسې حال کې روان وم چې د غرونو ځينې برخې يې کتلې، ترې وامې وريدل چې له ځانه سره يې ويل:

په اندلس دې سلام وي.

دا د الله خوښه ده.

زه دې کې ډېر زيات فکر کوم چې ولې بشر په امن کې ژوند نه کوي؟

له غمه ډکه خندا يې وکړه او زياته يې کړه:

د چين خاوره پراخه ده، هلته خلک هم لکه د ميږيانو په څېر دي، بيا ولې زموږ خاورې او شتمنيو ته هم تمه لري، ايا هغه زيانونه يې هېر کړل چې د باغيانو له لاسه ور ورسېدل؟ انسان هيڅکله هم پند نه اخلي، له لرې چوپتيا وروسته بيا لګيا شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د قرآن له کرښو یاد کړي چې باید ازاد ژوند وکړم، او د خپلې عقیدې د شرف په لار کې د مبارزې پر مهال مړ شم.

دلته ژوند تنګ دی، ابدي ژوند څومره ښه دی، په همدې سبب الله تعالی اخرت د همیشه والي کور ګرځولی، زه تعجب کوم چې هیوادونه او خلک د کمې، ناځیزې او لنډ وخت ګټې په لار کې سره جنګیږي، او په همدې سبب زه د الله په لار کې مرګ ژوند ګڼم.

شا او خوا یې وکتل، په اوږدو بریتونو او ږیره یې لاس راکاږه، ا و ویې ویل:

زه په الله ایمان لرم، ننۍ دنیا د الله عبادت نه کوي، دنیا څواک او وېرې ته سجده کوي، دا د مریانو نړۍ ده، برابره ده که هغه خلک وي چې په برلین کې یې شکست وخوړ او که هغه وي چې په لندن، پاریس او امریکا کې بریالي شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۸)

زموږ شا او خوا هر څه په تېزۍ سره بدلون مونده، خلک، څيزونه، وسلې، درېځونه اود نړۍ نقشه، زموږ ډېر اولادونه د ماتې په درياب کې ويلې شول، ژبې يې په نويو الفاظو، او مترنمو شعارونو اوړېدې، او انجونې-ای زما خدايه! لوڅ مخ لارو کوڅو ته راووتې، دا له تېروتنو، بې شرميو، او انحرافاتو ډک جريان و چې هر څه يې د پرمختګ تر نامه لاندې راکاږل، ايا نه ده ممکنه چې خلک دې پرمختګ وکړي او متمدن دې شي بې له دې چې تر ظلم لاندې ونيول شي، يا يې ازادۍ سلب کړای شي، او يا د مريانو په شان چلند ورسره وشي؟

ايا د دې لپاره چې علم وکړي بايد کافران شي؟ ولې عدالت او ازادي د پرمختګ سره غاړه غړۍ يون نه شي کولای، او ولې نړۍ لاس په لاس په داسې حال کې چې د کائناتو پر خالق ايمان لري تګ نه شي کولای، او ولې نهضة نه شي رامنځته کېدای بې له دې چې ښځې دې ځانونه بربنډ کړي، او بې له دې چې بغاوتونه او عبثيات زيات شي؟ ولې سره ملتونه بې له دې چې يو ملت بل له منځه يوسي ملګرتيا نه کوي، يا بې له دې چې محوه يې کړي، يا يې هجرت کولو ته په اړ کولو سره جارو کړي يا يې په بل او بل رنګ له منځه يوسي؟ نن ورځ چې زه څه وينم داسې راته ښکاري چې شيطان کړی دي، زه به وخت په وخت خپلو جنګياليو ملګرو ته ورتلم ځکه چې سپيڅلتيا او له خلوصه ډک پاڅون هلته د غرونو په څوکو او لمنو کې دی، او ما به چې کله عثمان باتور-دې مؤمن جنرال ته کتل-داسې به مې انګيرله چې دا د سلف صالحو څخه پاتې يو څوک دی.

په دې سړي کې د يو اصيل نسل ارزښتونه راټول دي چې اوس ختميږي، د يو اوږد تمدن چې خير، شرف او سپيڅلتيا يې خپره کړې، او زه تر مرګه د دې سړي تر شا يم، زموږ او په مودرنو وسلو سمبالو چينايي ځواکونو تر منځ سختې جګړې وشوې، موږ يو لړ جنګونه وګټل، خو ايا زموږ بريا اسانه وه؟ نه، د دوښمن مرسته نه پرې کېده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ ملګري وخت په وخت کمېدل، مونږ په بې مثاله قربانيو ګټه کوله، عثمان باتور وويل:

زمونږ ملګري انتقام اخلي او مرګ ته ځان وړاندې کوي.

ښاغلی جنراله! دوی پوهيږي چې بايد څه وکړي.

مصطفی حضرته! هغه جنګ چې دوی پرې د خپلو وينو په بيه لاس بري دي هغه هميشنۍ غزا ده، خو زه نن د خپلو لومړنيو ليکو نه خبر شوم چې دوښمن د يوې سختې ورځې تياری کوي، زياتې ورځې نه وې تېرې چې مونږ د چينايي هجوم سره مخ شو، هغه چې عثمان باتور يې تمه درلودله، د جګړې اور د پوره درې مياشتو لپاره بل پاتې شو، مونږ د چين د شينهای ښار ته په شا کېدلو پرېکړه وکړه، تر څو هلته خپل خلک راټول او د دوښمن پر ځواکونو د برېد مرکز يې وګرځوو، خو د شينهای پر لور غزېدلې لار اسانه نه وه، مرګ په هر اړخ کې مونږ ته کمين نيولی و، او د چين د (قانسو) اړوند د (آن سي شا) له ښاره پر مونږ له لس زرو څخه زيات پوځيان را روان وو.

پر مونږ د فداکارۍ شعور مسلط شو، لکه چې مونږ د دوښمن سره خونړۍ معرکې ته ننوزو دا معنی چې مرګ غواړو، يا مرګ ته له يو حتمي برخليک څخه تېښته کوو، بالاخره د (شينهای) اړوند د (ماخای) ښار ته ورسېدو، مونږ د ارام نيت درلود، او ما خپله د نجمة الليل او زوی لټون کاوه، يوازينۍ هيله مې دا وه چې هغوی له مرګ وړاندې وګورم، کېدای شي ځينې دا ګومان وکړي چې په دې سختو شيبو کې دا بې ځايه هيله ده، او کېدای شي ځينې راته ځانغوښتونکی ووايي، ځکه چې زه د خپلې مېرمنې او اولاد په اړه سوچ کوم او د هيواد شرف د ضايع کېدو او له منځه تلو سره مخ دی، زه په هغه څه نه خفه کيږم چې خلک يې وايي، ما د ځان سره ريښتينولې زده کړې ده، زه انسان يم چې اوښکې يې سترګو ته لار مومي، او زړه يې درزيږي.

زمونږ تعقيب کم شوی نه و، زرګونه تنه د (قانسو) له بل ښار (دوخان) څخه زمونږ په لور راښوځېدلي وو، او زرګونه نور بيا د چين له سرحدي ښار (شرخلق) راروان وو.

جنرال عثمان باتور وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ملګرو! نن به په (ماخاى) راخيژي، اى هغه خلکو چې مرګ ته مو په ژوند فضيلت ورکړى، اى د يرغل شهيدانو! ليوانو لارې بندې کړې، او زه وينم چې بيرغونو افق رنګ کړى دى، هره ورځ قصابان پسونه د حلالې لپاره بيايي، دوى د پسونو او انسانانو تر منځ توپير نه کوي، اى د لارې ملګرو! هغه مسافه چې موږ له باريکول يا له غرونو څخه تر دې ځايه ووهله، دا د سترو ازادو خلکو سره لايقه ده، او د دوى پاکې وينې به يې خړوبوي، څومره اوږد ستړى کوونکى سفر دى!

ډيرې ښځې او ماشومان هر خوا تښتي او موږ لټوي، خپل خپلوان لټوي، اى ملګرو! د اورومچي راډيود دوښمنانو پر پلوى، حماسي تراني نشروي او فکرونه ذهرجن کوي، او زما د ملت هغه زامن چې په لارو، کوڅو، او بې مزده کارخانو کې بنديان دي، سرحدونو ته شړل کيږي، يا تبعيديږي، او يا هم د اعدام تختو ته بيول کيږي، په ټيټو اوازونو له الله مرسته غواړي، د مرګ ترانې وايي، دغه ژوندي شهيدان په جګړه کې له وژل کېدونکو څخه هم په ناوړه برخليک اخته دي.

اى ملګرو! موږ به يوې نوې جګړې ته ننوځو، او څوک چې ژوندى پاتې شو نو زموږ د اوږد جهاد او عذاب کيسه دې په جنوب، ختيځ او عربي لويديځ کې، او په اندونيسيا، هندوستان او پاکستان کې ويده مسلمانو ملتونو ته ورسوي، هغوى ته دې ووايي چې دوهم اندلس د الله او انسان د دوښمن لاس ته ورغى، څوک خبر دي چې کېداى شي مسلمانان يوه ورځ راويښ او سره يو لاس شي، او دوى به ستر جنګ وکړي، او بريالي کيږي به، په ويره ځمکه کې پرتو مسلمانانو ته ووايئ چې د دوښمن ورځپاڼې مه منئ، مه يې په تاريخ باور کوئ، مه په فلسفه او نه په بلنه).

عثمان باتور اسمان ته وکتل، قبلې ته يې مخه کړه او موږ يې لمانځه ته راوبللو.

بله ورځ د دوښمن ټولګي له هر لوري څخه زموږ په طرف راوړاندې شول، او جګړه ونښته، موږ په جګړه کې د ټول احساس، او ايماني ځواک سره ننوتو، او هر څه پاى ته ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمان باتور دوښمن ونيو، د هغوی په منځ کې دنګه غرې روان او له شرفه ډک و، دوښمن يې لباس کشاوه، له سره يې څادر او له تنه يې چپن ترې کشوله، او د مرګ لوبې يې ورسره کولې، خو هغه محکم و چې دوی ته به يې په خپل غرور سره کتل، يا به يې په سپکاوي په لغتو وهل.

مجاهدين خواره واره شول، کوم کم شمېر چې وو هغه يو خوا بل خوا ولاړل، او هر يو کوښښ کاوه چې سرحد ته ولاړ شي، تمه يې درلودله چې کشمير ته به ورسيږي، عثمان باتور هم د اعدم تختې ته روان کړای شو، او نوي زره ترکستانيان او چينايان د وسلې په زور هغې ميدان ته بوتلل شول چې د دې اتل قهرمان د پای ننداره وکړي، بالاخره اتل عثمان باتور مړ شو([4]).

زه هم په صفونو کې ننوتم او چا نه پېژندم، ما د «دوخان» د ښار د جنګياليو لباس اغوستی و څو بالکل ونه پېژندل شم، ما د اتل شهيد جسد ته کتل او په عصبانيت سره مې وخندل، سترګې مې په اوښکو لمدې وې، او د ليوني په شان مې چغې وهلې: تل دې وي عدالت.

په تکه توره او په سخت زړې شپه کې لارې ته ووتم، له جهنم څخه د تښتيدونکو لارې ته، له څو سختو ستونزمنو شپو وروسته د کشمير پولو ته ورسېدم، خپل ملګري مې هلته وموندل، له شل زرو تنو يوازې درې سوه پاتې وو، ځکه دوښمن د لارې په اوږدو کې پر دوی بريدونه کول او له منځه يې وړل، همدا راز د «تيبت» اړوند د «سنکرس» او «کتساو» په ښارونو کې يې دوی د اور لاندې نيول، دوښمن ته هم د کتنې وړ زيان ورسېد، خو پايله کې د سرحد سره له موږ هم درې سوه تنه پاتې وو، کشمير ته داخل شوو، موږ پسې زيات ترکستاني مهاجرين هم راغلل، ټول سره يو ځای شول، ما خوب ته اړتيا درلوده، د بې خوبۍ سره مې د مقاومت توان نه درلود او

[4]-عثمان باتور د ۱۹۵۱ ميلادي کال د اپريل په مياشت کې د چينايانو لخوا اعدام کړای شو. پښتو ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوده شوم، نه پوهېږم څومره وخت تېر شوی و، خو له ماښام لږ مخکې یو نرم او مینه ناک لاس وښوځولم او راویښ شوم، سترګې مې پرانیستې.
دا زه خوب وینم که ویښ یم، ای خدایه! دا نجمة اللیل وه چې د کشمیر د ښځو په څېر لباس یې اغوستی و، زما زوی یې هم څنګ ته ولاړ و، غټ شوی و خو ښه مې وپېژندو، دا هغه ښکلی هلک دی چې لمر یې زیړېخونه څېره روښانه کړې وه، د ماشوم په سر مې لاس راکش کړ، د نجمة اللیل په مخ مې لاسونه راتېر کړل، سترګې مې له اوښکو ډکې وې، خبرې مې نه شوې کولای، غریب نیولې وم، مېرمن مې هم له احساساتو رېږدېده، او زه یې خپلې سینې ته نژدې کولم، زوی مې هم راځنې لاسونه چاپېر کړي وو.
مصطفی! فکر مې نه کاوه چې له مرګ به نجات پیدا کړې، زوړ شوی یې، د زړښت رنګ دې ویښتانو کې ښکاري او ګونځو دې مخ ډک کړی، لکه چې زموږ په جدایۍ سل کاله تیر شوي دي.
ماشوم مې په مینه ښکل کړ، او په رېږدېدلو الفاظو مې وویل:
څومره مې خفه کوي چې خپل مسلمان او بندي ولس له سرحد هاخوا پرېږدم په داسې حال کې چې دوښمن به یې سره ویشي.
نجمة اللیل چې مخ یې لا زیات زیړ زبېښلی شوی و، با ابرو غم پرې پروت و وویل:
زما هیله دا ده چې بیت الله ته ولاړ شو، چې یا خو په مکه مکرمه کې ژوند وکړو او یا په مدینه منوره کې.
تر شا مې تیاره افق ته وکتل، منصور درغا رایاد شو چې د مسجد په دروازه کې مړ شوی و، خپل مسلمان ملګري رایاد شول چې خپل ژوند یې په زندانونو کې تېر کړ، او بیا مې هغه شهیدان رایاد شول چې د عثمان باتور په شا او خوا کې مړه راپریوتل، او هغه ستره ورځ چې جنرال یې پکې مرګ ته روان کړی و.
ما غلي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیت الله الحرام ته به ځو، ځکه د زمزم اوبو ښاڅکي مسافرو او ستړو ته روح ورکوي، زه داسې فکر کوم لکه چې د حاجیانو د ډلو په منځ کې چغې وهم او دوی ته د ژغورنې د ورځې زیری ورکوم، لکه چې میلیونونه مسلمانان وینم چې کفنونه شکوي، او د توحید د بیرغ لاندې دروميي تر څو میلیونونه مریان ازاد کړي.
دا زما کیسه ده او بس....

پای

۲-تله-۱۳۹۵
خالص بابا مېنه
جلال اباد

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**